د کتاب نوم: رایه اچونه او د راتلونکې لپاره مبارزه- **د افغاني انتخاباتو لارښود**

ليکوالان: دوکتور بابک خلعتبري او کارنيلوس اديبار

ژباړونکي: امان الله ايمان

چاپ کال:

چاپ وار: دوهم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پوهاند ودير سريزه**

لاربښود كتاب(( انتخابات په افغانستان كې)) چې په اصل كې په انگريزي ژبه د دوكتور بابک خلعتبرى او كارنيلوس اديبار په لاس ليكل شوى، د KONRAD-ADENAUER-Stiftung موسسې لخوا د ژباړې په موخه ماته راكړل شو.

ياده دې وي، چې ژباړه يو پيچلى كار دى، ځكه له يوې ژبې څخه د يو متن بلې ژبې ته اړول، دا ايجابوي چې بايد هغه اصلي مفهوم پكې وساتل شي او امانت او صداقت پكې په نظر كې ونيول شي، په دې مانا، چې ژباړن په متن كې نه يوه كليمه يا جمله زياتولى شي او نه يې ترې كمولى شي. دې ته په كتو، ددغه كتاب په ژباړه كې زه درنو لوستونكو ته خپل نظر داسې څرگندوم:

د ليكوالانو په سريزه سربيره، دغه كتاب، داسې څيزونه له ځانه سره لري چې د افغانستان د اوسني نظام په اړه او د هغو كسانو لپاره يو لاربښود دى چې د افغانستان ملي شورا ته د كانديديدو هيله او هوډ لري.

دوى ته د كانديديدو شرايط، د انتخاباتي مبارزې د مخته وړلو لارې چارې او د برياليتوب رازونه او د خلكو د خدمت لپاره ددوى په اقدام كې موفقيت ته د پاملرنې لارې چارې ورښيي.

له بله اړخه، دغه لاربښود كتاب، د افغانستان د خلكو(( رايه وركوونكو)) لپاره يو لوى خدمت هم دى. ځكه دوى ته خپل په شرايطو برابر كانديدان وروپيژني او د رايه وركولو تر وړاندې پورې دوى ته په دې اړه لازمې لارښوونې وركوي څو د خپل استازي د ټاكلو په اړه په ښه توگه قضاوت وكړى شي.

په دغه كتاب كې چې ځيني معلومات وړاندې شوي، ښايي په اوس وخت كې موثق او بشپړ نه وي ځكه له كومو منابعو څخه چې ليكوالانو استفاده كړې ده، هغه په پخوا كلونو(۲۰۰۵م) كې چاپ شوي دي.

www.ketabton.com د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمدي توګه دغه لاربنود کتاب، رسمي راپورونه او له کارپوهانو سره مرکې، د (( افغانستان د ارزونې او تحقیق بنیاد)) له خوا د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د انتخاباتو بالمشاهده رپورټ، د ۲۰۰۵م کال د افغانستان د انتخاباتو لپاره د اروپایي کمیسیون د مشاهداتي پلاوي وروستی رپورټ، د انتخاباتي چارو د تنظیم د ګډ ارګان رپورټ، په ۲۰۰۵کال کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د عمومي بنسټ رپورټ او د ایلدر او اندرو ایلدرو له خوا په ۲۰۰۵م کال کې د افغاني انتخاباتو تحلیل او څیړنه په بر کې رانیسي.

په لومړۍ برخه کې د عمومي تحلیل او لاربنونې اساس د (( څنګه کولی شو چې ټاکنې وګټو؟ د کارپوهانو تجربې)) تر عنوان لاندې د خپرونې چې مانیلا(( فلیپین)) د اجتماعي حکومتي پالیسۍ د مرکز او د konrad- Adenauer- Stiftung له خوا په فلپین کې چاپ او تهیه شوي، تشکیل شوی دی.

په پای کې، په افغانستان کې انتخابات د کتاب د ژباړن په توګه، درنو لوستونکو ته دا وړاندیز وکړم چې ددغه لاربنود کتاب مطالعه په ځانګړې توګه په افغانستان کې ټاکنو ته د کاندیدیدو په اړه او د رایه ورکوونکو د پوهاوي لپاره یو ګټور اثر دی. ځینې خال خال تیروتنې چې په کې شته، هغه په خپله د افغانانو دنده بولم چې په خپله ددغه شان کتابونو په تالیف، طبع او تکثیر باندې لاس پورې کړي او له تیروتنو پرته یې د عامه افغان ولس مخې کیږدي.

په درنښت

پوهاند دوکتور ودیر صافی

د کابل پوهنتون

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي

د نړیوالو اړیکو د ډیپارټمنټ رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

**گرانه لوستونکيه!**

تر محضې ټاکنو ولسواکي ډېره پراخه ده. د اساسي حقوقو د ژوند ټول عناصر، د قانون واکمنی، د لږه کيو حقوق، او ښه حکومتداری په بر کې رانغاړي، خو ديموکراسي تل په انتخاباتو باندې پيليږي. د ۲۰۰۹کال ټاکنې لکه څنگه چې ريچارډهولبروگ دا خبره کړې ده(( يو ستونزمن کار دی چې تر هر ډول شرايطو لاندې ترسره کيږي، په ځانگړې توگه کله چې د جگړې په حالاتو کې تر عادي حالاتو په ډير لوړه کچه ترسره شي. هيڅ ټاکنې بشپړې نه وي او دغه ټاکنې له ډول ډول ستونزو سره مخ وي. هيله داده چې په څلورو سياسي چوکاټونو کې د ۲۰۱۰کال ټاکنې په ښو شرايطو کې ترسره شي. )) د سياسي هرج مرج له يوې اوږدې مودې وروسته، افغانان په دې وتوانيدل چې د دوهم ځل لپاره له ۲۰۰۱کال وروسته د يوه وگړي په توگه د خپلو مورد نظر نوماندانو د انتخاب لپاره استفاده وکړي. انتخابات د افغانستان د خلکو تر قوي فرد پورې منحصر د يو فرصت په توگه د ملي هويت او ولسي هويت د ساتنې لپاره دي، چې په هغه کې نه يوازې د رايې کارل مهم دي، بلکې ضرور ده چې سياسي ډگر ته نوي گوندونه او نوې څيرې راووزي. دې خبرې ته په پام چې ډيری افغانان تر ديرشو کم عمر لري، بايد يو متقابله پوهاوی رامنځته شي څو ټول وپوهيږي چې حاکمه پوهې طبقې، نه يوازې افغانستان بې له خپلو نيکونو څخه په ميراث نيولی، بلکې افغانستان د خپلو ماشومانو مديون او پوروړی هم بولي دا په دې مانا ده چې بايد راتلونکې نسل ته موکه ورکړل شي څو له سياسي اړخه په دوهم پړاو پارلماني ټاکنو کې، تر ډېره دخيل وي، انشاالله.

ددغه لارښود کتاب موخه د انتخاباتو د بهير په اړه د عمومي پوهې لوړول دي چې ددغه کتاب په مطالعې سره يو شخص کولی شي د اساسي حقوقو، نقشونو، او ښاري مسووليتونو په اړه د يوې ولسواکۍ د الگو په محدوده کې څه زده کړي. دغه کتاب نه يوازې عامه خلکو او فعاله او واقعي نوماندانو ته ځانگړي او خاص معلومات ورکوي، بلکې د خبريالانو او د رسمي حکومتي چارواکو لپاره هم گټور لارښود دی.

ددغه لارښود عمده مخاطبان هغه کسان دي چې د خپلې نوماندۍ په اړه سوچ کوي. موږ غواړو له هغې پروسې څخه ملاتړ وکړو چې په هغه کې هغه کسان چې غواړي يو لړ عمده موضوعات او پوښتنې مطرح کړي او دغه ته وردننه شي او بريالي نوماندان بايد ددې په اړه فکر وکړي، مخکې تر دې چې د نوماندۍ پاڼې وسپاري او رسما ځان مطرح کړي. دوهم، دغه کتاب د يوې انتخاباتي سيالۍ د پرمختگونو به اړه يوه ستراتيژي ده، نو له همدې امله، دغه لارښود کتاب، درې برخې په بر کې لري:

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ برخه یې د هر فرد لپاره اساسي سیاسي معلومات وړاندې کوي.

دوهمه برخه یې، له هغو کسانو سره مرسته کوي چې د خپلو چانسونو په اړه سوچ کوي. دغه برخه د یو ټیم یا ډلې د جوړولو په اړه اولیه معلومات او د نوماندانو لپاره د انتخاباتو د ستراتیژی د پراختیا موکه په لاس ورکوي.

درېیمه برخه یې، د یوې ریښتوني مبارزې د مخته وړلو په منظور د لوړې روحیې په درلودلو سره له تاسو سره مرسته کوي.

د کتاب ضمیمې هم مهم حقوقي معلومات او دغه شان د سیاسي گوندونو لیست وړاندې کوي.

د پورتنیو اهدافو په مطالعه، په پوره یقین سره ویلی شو چې دغه لاربښود کتاب د افغاني ټولنې د اوس او راتلونکي لپاره له زیات ارزښت څخه برخمن دی. حاضر کتاب د افغان ولس د هیلو لپاره علمي لاربښوونې په برکې رانغاړي، چې نه یوازې د لسیزو جگړو غمونه یې گاللي، بلکې لوړه سلنه افغانان د بیسوادۍ، غربت، قومي اختلافاتو او دیته ورته نورو څخه اغیزمن دي او دغه شان د قدرت غوښتونکو جگړو له افاتو څخه هم متاثر شوي دي. افغان ولس، د نورو ولسونو په شان، د یو مرفه او سوکاله ژوند په موخه د خپلې ټولنې د پیژندلو او پرمختگ حق لري څو ددې متمدنې او پرمختللې نړۍ د یو سوله خوښوونکې کورنۍ په توگه یوه برخه شي.

په ځانگړې توگه هغه کسانو ته بیله پاملرنه شوې ده چې د ټولنې د راتلونکې پراختیا لپاره په ټاکنو او میکانیزم کې یې له حقوقي، سیاسي، او ټولنیز نظره دخیل وو او له بله اړخه هم د خپلې ټولنې ورځني ژوند ته د پرمختگ لپاره د افغانستان د خلکو د استازیتوب او د پارلماني او قانون جوړونې له لارې دي.

هیله من یم چې د افغانانو لپاره دغه له ارزښته ډک خدمت او مرسته، ددوی په ملي ژبو وژباړل شي او نشر ته وسپارل شي څو مطالعه کړل شي او د هیواد په پوهنتونونو کې په ځانگړې توگه د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځی او نوور حقوقي او سیاسي اړونده موسسو کې د درسي مرستندوي په توگه ځای ونیسي. پرته له شکه، دغه کتاب د افغانانو د حقوقي او سیاسي ځیره کۍ په برخه کې غټه مرسته کوي او له هغو سره چې د خپل هیواد لپاره د خدمت په موخه د استازي کیدو هیله لري.

غواړم له کارنیلیوس ادیبار Adebahr Cornelius څخه ددغه لاربښود کتاب د مسودې د تکمیل په برخه کې د مرستې، او له توماس روتیگ Rttig Thomas څخه د مسودې د نهایي کولو په موخه د گڼ شمیر ورکشافونو د په لاره اچولو او دغه شان له هغو کسانو څخه چې ددغه مهمې پروژې په بشپړیدو کې یې له ما سره ملگریتوب کړی، مننه او کورودانی وکړم.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رایه اچونه او د راتلونکې لپاره مبارزه

د افغاني ټاکنو لاربنود

د کتاب نوم: رایه اچونه او د راتلونکې لپاره مبارزه- د افغاني انتخاباتو لاربنود

لیکوالان: دوکتور بابک خلعتبري او کارنیلوس ادیبار

ژباړونکي: امان الله اېمان

چاپ کال:

چاپ وار: دوهم

مندرجات

سریزه

۱-په افغانستان کې ولسواکي

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- ولسواکي په افغانستان کې

دا کتاب د افغانستان د ټاکنو په اړه يو لارښود دی. که څه هم ټاکنې د يو ولسواک نظام لپاره يو مهم عنصر دی، خو ټاکنې که ((ازاده او عادلانه)) هم وي، په خپله ولسواکي نه شي راوستلی، د افغاني نظام ډير مهم او د قدر وړ عناصر لکه تاريخي اساسات او نوي عناصر، لاندې تاسو ته وړاندې کوو.

### ۱،۱ اوسنی نظام

د ۲۰۰۴کال د افغانستان اساسي قانون دا خبره په ډاګه کړې، چې افغانستان يو اسلامي او ولسواک دولت دی، چې يو ولسمشر، ملي شورا او نور ګڼ سيمه ييز حکومتونه لري.

#### ۱،۱،۱ اجرايه څواک

د افغانستان د مرکزي حکومت اجرايه څانګه، د ولسمشر دفتر، د ولسمشر دوو مرستيالانو، لوی څارنوالي، اوسني ۲۵وزيرانو، دغه شان ځينو خپلواکو ارګانونونو او نورو د مرکزي حکومت ادارو ته شامله ده.

د افغانستان د اسلامي دولت ولسمشر د مستقيمو ټاکنو او پټو رايو له لارې د يوې پنځه کلنې دورې لپاره ټاکل کيږي، چې حد اکثر دوه دورې ولسمشر کولی شي خدمت وکړي. ولسمشرۍ څوکۍ ته نوماندان له خپلې نوماندۍ سره جوخت، خپل دوه مرستيالان هم کانديدوي. ولسمشر په اکثريت مطلق سره ټاکل کيږي، که چيرې يو نوماند هم تر ۵۰ سلنه زياتې رايې خپلې نه کړې، د دوو هغه نوماندانو ترمنځ، چې تر نورو يې زياتې رايې ګټلې، ټاکنې دوهم پړاو ته درومي.

ولسمشر د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان او د دولت او کابينې په راس کې وي. معمولا ولسمشر به وزيران، لوی څارنوال، د افغانستان بانک رييس، د سترې محکمې غړي، د خپلواکو کميسيونونو مشران او د ځينې نور پوستونه د ولسي جرګې په تاييد مقرروي.

د ۲۰۰۴کال د اکتوبر په مياشت کې حامد کرزی د ۵۵،۴سلنه رايو په ترلاسه کولو، په لومړی پړاو ټاکنو کې د افغانستان ولسمشر وټاکل شو. دده دوه مرستيالان هر يو احمدضيا مسعود او محمدکريم خليلي دي. د دوی د لوړې(تحليف)مراسم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدغه کال د ډسمبر په ۷مه نیټه ترسره شول. ۲۵تنه وزیران وټاکل شول او د ملي شورا له تایید وروسته یې په خپلو دندو پیل وکړ.

**۱،۱، ۲ مقننه ځواک:**

دوه مقننه مجلسونه( ولسي جرگه او مشرانو جرگه) د قانون جوړونې تر ټولو لوړ ارگانونه دي، چې د ولس د ارادو څرگندوونکي او دغه شان د ټول ملت استازي وي (د اساسي قانون ۸۱مه ماده). د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر بنسټ، ملي شورا یا پارلمان له دوو مجلسونو څخه جوړ دی، یانې مشرانو جرگه( د مخورو یا مشرانو مجلس) او ولسي جرگه ( د ولس مجلس) دي. ملي شورا د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۵ کال په ډسمبر کې د انتخاباتو په پایله کې خپله لومړنۍ غونډه ترسره کړه.

د ولسي جرگې غړي د پنځو کلونو لپاره د ازادو، نیغو، او پټو رایو اچونې له لارې د ولایتونو په ټاکنیزو حوزو کې وټاکل شول. اوسمهال په ولسي جرگه کې، ۲۴۹څوکۍ شته. اساسي قانون په دې اړه ۲۵۰ حداکثر څوکیو باندې تصریح کړې ده. څوکۍ د ولایتونو ترمنځ د نفوس په اساس ویشل شوې دي(ضمیمه وگورئ) ټولې اته شپېته څوکۍ او له هره ولایته دوه څوکۍ د ښځو لپاره ځانگړې شوې دي. لس څوکۍ کوچیانو ته ځانگړې شوې، چې له هغه څخه درې دانې د ښځو لپاره دي. ولسي جرکې ته نوماند کس باید د کاندیدوالي پر مهال ۲۵کلن وي.

مشرانو جرگه ۱۰۲ غړي لري، چې یو لړ یې د ولسمشر له خوا انتصاب شوي او بل د غیرمستقیمو انتخاباتو له لارې او د ولسي جرگې او ولایتي شوراگانو د انتخاباتو په ترڅ کې له ولسوالیو یا ناحیو څخه دي، چې یو په دریېمه برخه غړي یې د څلورو کلونو لپاره له ولایتي شوراگانو څخه ټاکل کیږي. او د ناحیوي شوراگانو له لارې یو په درېیمه یې د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي او یو په درېیمه برخه یې د ولسمشر له لوري د نظر خاوندانو او باتجربه کسانو له ډلې، د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي، چې پنځوس سلنه به پکې ښځې وي. له دې امله چې تر یوې نامعلومې مودې پورې د ولسوالیو یا ناحیو ټاکنې وځنډیدې، یوه لنډمهاله حل لاره ورته ولټول شوه چې ولایتي شوراگانې دوه کسه خپل غړي مشرانو جرگې ته ( یو د څلورو کلونو لپاره او بل د ناحیوي ټاکنو تر ترسره کیدو پورې د دریو کلونو لپاره) وټاکل شول. په دې ترتیب، ۱۱۲ برخه(غیرمستقیم) د ټاکلو سیټونو لپاره وټاکل شول او تر هغې دوام به لري چې ناحیوي شوراگانې جوړې شي. د مشرانو جرگې غړي باید د انتخاب یا انتصاب پر مهال د ۳۵کلنۍ عمر بشپړ کړی وي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي شورا غړي باید افغاني تابعیت ولري او یا تر نوماند کیدو، ټاکل کیدو یا مقرریدو لس کاله وړاندې یې د افغانستان تابعیت ترلاسه کړی وي. په یو وخت کې د دواړو مجلسونو ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړیتوب ناشونی دی. د ملي شورا غړي د جرمونو له قانوني تعقیب څخه خوندي نه دي.

ملي شورا په کال کې په دوو غونډو کې سره راټولیږي او ددغه غونډې وخت په کال کې نهه میاشتې دی. غونډې به ښکاره جوړیږي، پرته له هغه چې رییس یا لږ تر لږه د ملي شورا ۱۰ تنه غړي یې د پټوالي وړاندیز وکړي او شورا هم ورسره هوکړه وکړي.

د قوانینو او پالیسیو مسوده د ولسمشر د دفتر، انفرادي وزارتونو او یا ملي شورا له لارې ترتیبیږي او د دواړو مجلسونو له تصویب او د ولسمشر له توشیح وروسته، د قانون په توګه منل کیږي او مرعی الاجرا به وي. مشخص قانوني اسناد(قواعد، لارښوونې، ارشادات او نور دیته ورته) په انفرادي توګه د وزیرانو له خوا هم تصویب کیدی شي. ملي شورا باید یو تقنیني فرمان یا یو وړاندیز شوی سند تر تقدیمیدو یوه میاشت وروسته موده کې تصویب کړي. د اساسي قانون ۹۴مې مادې دا خبره په ډاګه کړې ده چې:

د اساسي قانون له ۹۰مې مادې سره سم، ملي شورا لاندې دندې په غاړه لري:

۱- د تقنیني فرمانونو او قوانینو لغو، تصویب یا تعدیل.

۲- د اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو، تکنالوژیکو او پراختیایي پلانونو تاییدول.

۳- د دولتي بودیجې تایید او د پورونو د ښنلو یا ورکولو اجازه.

۴- د اداري واحدونو رامنځته کول، لغوه کول او یا تعدیلول.

۵- د نړیوالو معاهداتو منل او له نړیوالو معاهدو سره د افغانستان پیوسته کیدل یا د پیوسته کیدو له فسخ کیدو سره موافقه.

٦- نور په اساسي قانون کې مندرج واکونه او صلاحیتونه.

- قانون د ملي شورا د دواړو مجلسینو هغه مصوبې ته ویل کیږي، چې د ولسمشر له لوري توشیح شوی وي، پرته له هغه چې په اساسي قانون کې یې په اړه بل ډول یادونه شوې وي.
- که ولسمشر د ملي شورا له مصوبې سره موافق نه وي، کولی شي دغه مصوبه د تقدیم له نیټې وروسته د پنځلسو ورځو په ترڅ کې د موجه دلایلو له یادولو سره ولسي جرګې ته بیرته رد کړي.
- ددغه مودې په سرته رسیدو سره او یا هغه وخت چې ولسي جرګه دغه مصوبه دوهم ځل د ټولو غړو د دوو ثلثو اراو باندې تصویب کړي، مصوبه توشیح شوې بلل کیږي او نافذه ده.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- (په دري او پښتو په اصلي متونو کې د ژبني توپير له امله ځينې کسان دا خبره کوي چې ولسمشر کولی شي، له پنځلسو ورځو وروسته قانون رد يا مخالفت ورسره وښيي.)

د ټاکل شويو استازو په توګه، د ولسي جرګې غړي د هيواد د ټول ولس استازيتوب کوي او يوازې د هغه کسانو استازی نه دي چې ده ته يې رايه ورکړې ده. د ملي شورا د ټولو غړو دنده ده چې د خپل ولايت يا ناحيې يا ولسوالۍ (په طبعي توګه د خپل هيواد) د موکلينو د ګټو او غوښتنو په نظر کې نيولو سره د قوانينو په اړه تصميم ونيسي. په داسې حال کې چې ټولو ته روښانه ده چې ځينې وخت خلک ددغه علاقو په ترسره کولو کې پوره يو له بله سره موافق نه وي، خو دا هم تر لمر روښانه ده چې قانون هم د يوې ځانګړې ډلې په خدمت يا ښبو کې نه شي پريوتی.

**۱،۱، ۳ ولايتي شوراګانې:**

له ۹څخه تر ۲۹ پورې د مناسبو غړو په درلودلو سره د هر ولايت د نفوس په کچه ۳۴ ولايتي شوراګانې لري او په يوه انتخاباتي حوزه کې ټاکل کيږي. نوماندان بايد په هغه ولايت کې هستوګن وي په کوم کې چې انتخابيږي او نه شي کولی يو وخت هم د ولسي جرګې لپاره او هم د ولايتي شورا لپاره کانديد شي. د ټاکنو اوسنی قانون دا خبره روښانوي چې په ولايتي شورا کې يو په څلوره څوکۍ د ښځو لپاره ساتل شوې دي(۲۹مه ماه، لومړی ث پراګراف)

ولايتي شوراګانې اوس هم په دې لټه کې دي چې د افغانستان د حکومت د فرعي پوړيو په توګه خپل اغيز روښانه او مشخص کړي. تر اوسه په لاندې برخو کې ولايتي شوراګانې اغيز او نقش لري:

- د خپلو منتخبو غړو له ډلې د اکثريت په ټاکلو سره، مشرانو جرګې ته د خپلو ولايتي استازو ټاکل.
- د ولايتونو په پراختيا کې ګډون(لکه اقتصادي، روغتيايي، ښوونه او روزنه، د بيارغونې موضوعات) او د اداري چارو پرمختګ.
- د ولايت له ادارې سره په ګډو موضوعاتو کې د پراختيايي پلانونو په ګډون مرسته، همکاري سلا مشوره او څارنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱، ۱، ۴ ټاکنيز نظام:**

په افغانستان کې په ټاکنو کې د ګډون لپاره د رايه ورکولو حق ښځو او نرانو ته تر ۱۸کلنۍ پورته ورکړل شوی دی. ولسمشر د دوه پړاويزه سيستم پر بنسټ ټاکل کيږي، او په لومړي پړاو کې يو کانديد تر ۵۰ سلنه زياتو رايو په ترلاسه کولو سره ټاکل کيږي، که چيرته هيڅ کانديد هم تر ۵۰ سلنه زياتې رايې ترلاسه نه شي کړی، د زياتو رايو د ګټونکو ترمنځ به دوهم دور ټاکنې ترسره کيږي چې د دوهمې دورې وړونکی کس ولسمشر دی.

د ولسي جرګې د ټاکنو په اړه، د ۲۰۰۵کال د اپريل مياشتې د ۲۹مې نيټې فرمان، د ټاکنوقانون د ولسمشرۍ مانۍ له لوري منل شوی دی، د واحد او د نه انتقاليدو وړ (SNTV)د رايې په سيستم باندې بې تصريح کړې ده، او د ټاکنو اوسنی قانون هم دغه سيستم منلی او ساتلی دی. د SNTVپر اساس، هر افغان چې د رايه ورکولو قانوني شرايط پوره کړې، په يوه ټاکنيزه حوزه(ولايت) کې يو کانديد ته د يوې رايه ورکولو حق لري. د SNTVد سيستم اساسي ګټې دادي چې دغه سيستم رايه ورکوونکي ته په ډيره اسانه توګه تشريح کيدی شي او دغه شان، د شميرلو لپاره هم ډير اسان دی، په ورته وخت کې، دغه سيستم خپلواکو نوماندانو ته داډ ورکوي. په همدې وخت کې، SNTV د فردي کسانو د سياست د هڅولو لامل کيږي، چې د سياسي ګوندونو د اغيز د کميدو لامل کيږي، ځکه ټول رايه ورکوونکي به د ځانګړو کسانو په لور ورمات وي، ښايي په يو ولايت کې يو ګوندي کانديد زياتې رايې وګټي، خو په عين وخت کې، ډيرې لږ څوکۍ به دغه ګوند خپلې کړې وي. په حقيقت کې، په کابل کې ډيری نوماندان ولسي جرګې ته د ۲سلنه څخه په کمو رايو يوه څوکۍ وګټله. په داسې وخت کې، که د يوه ګوند پلويان ټول خپل يو تکړه نوماند ته رايې ورکړي، په اصل کې دغه ګوند دغه ټولې رايې (( ضايع)) کړې دي، چې د بل ګوند له دوهمه درجه کانديد سره ډير توپير لري. دا به د هغه ګوندونو لپاره يوه اغيزمنه تګلاره وي چې په ډير پام سره خپل ټول اړوند کانديدان منظم کړي او په دې هڅه کې وي چې خپل ټول پلويان په دې وپوهوي چې خپلې رايې بې طرفانه وويشي.

دغه شان کيدی شيSNTV سيستم کانديدان د ملي اجنډا پراختيا ته د هڅولو پرځای، سيمه ييزو، قومي او قبيلوي موضوعاتو ته د لمن وهلو له امله د پارلماني سياست په موثر پرمختګ باندې منفي اغيز پريباسي او د سيمه ييزو او قومي ايتلافونو او ګروپونو د رامنځته کيدو لامل شي. بالاخره، SNTV د ښځو لپاره د ساتل شويو څوکيو له يو ځای کيدو سره، کولی شي په هغه ځايونو کې چې ښځې له ټيټو سطحو د نرانو مقام ترلاسه کوي، په ځينو حالاتو کې يو غيرديموکراتيک روښانه او د ليدلو وړ اغيز پريباسي. د استازيتوب يو متناسب سيستم، چې په

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کې ښځینه کاندیدان هم د ګوند په لیست کې شامل وي، کولی شي په شورا کې د ښځو په ګډون مثبت اغیز پریباسي، پرته له دې چې دېته پام وشي چې مخالف نران له غیردیموکراتیک او غیرعادلانه چلن څخه ګیلې او شکایتونه کوي.

اساسی قانون دا خبره روښانوي چې په ولسي جرګه کې څوکۍ د ولایتونو ترمنځ د نفوس په اساس ویشل شوې دي. ددغه حکم پلي کول به له ستونزو خالي نه وي، ځکه نه یوازې دا چې د ولایتونو د ولسوالیو او ناحیو د پولو ستونزې حل شوې نه دي، بلکې د افغانستان د نفوس په اړه منل شوي ارقام هیڅ تر اوسه په لاس کې نشته. په افغانستان کې وروستۍ سرشمیرنه( احصاییه) په ۱۹۷۹کال کې ترسره شوه چې یوازې د ځینو ځانګړو ولایتونو او تر نصف د زیاتو وګړیو برخه یې په بر کې رانیوله. په ولسي جرګه کې د څوکیو تخصیص او ویشنه، په ۲۰۰۵-۲۰۰۴کلونو کې د ترسره شوې کور په کور سروې او د ۱۹۷۹ کال د نامکملې سرشمیرنې په اساس ترسره شوې ده.

**۱. ۱. ۵ اساسي مجریان:**

- د ټاکنو خپلواک کمېسیون(IEC) په افغانستان کې د ټاکنو د ټولو موضوعاتو او ټولپوښتنې د ټولو ډولونو په اړه د څارنې او ادارې واک او مسوولیت په غاړه لري. (د اساسي قانون ۱۵٦مه ماده) دغه کمیسیون د ۲۰۰۵کال د جنورۍ په میاشت کې د (۹)تنه افغان غړي درلودل، چې د دغه کمیسیون د رییس او د رییس د مرستیال په شمول ټول د ولسمشر له خوا مقرر شوي وو. د IEC له لوري به ټول پلانونه او دستورالعملونه خپریږي. د ټاکنو ولایتي دفترونه(PEOS) په هر ولایت کې د IEO د هر ولایت د سکرتریت  د څانګې په توګه تاسیس شوي دي. دغه دفترونه په خپل اړونده ولایت کې د ټاکنو د جریان د تنظیم د نظارت مسوولیت او د ټاکنو د فعالیتونو د همغږۍ کولو مراقبت په غاړه لري او ټول ولایتي کارکوونکي به سره منظموي.
- د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون(ECC)، د ټاکنو د قانون د ۵۲مې مادې په امر د کاندیدانو د قانوني خنډونو او ټاکنیزو تیروتنو په اړه د رارسیدلو شکایتونو د پرېکړې او څیړنې دنده په غاړه لري. ECCپنځه غړي لري، یو افغان د سترې محکمې په استازیتوب، یو افغان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون په استازیتوب، او درې نړیوال استازي د ملګرو ملتونو د سرمنشي په استازیتوب (SRSG). دوی یو تن د دوی له منځه د رییس په توګه ټاکي. د ECCډله، د څیړنې د یوې کوچنۍ ډلې له خوا حمایه کیږي، چې کولی شي قانوني مجوزونه لکه: ګواښ، جریمه او یا د پوره جرمي شواهدو د درلودلو په صورت کې د جرمونو د څیړنې سیمه ییزو دفترونو ته د کاندیدانو استول،

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادر کړي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون کولی شي له وسله والو غیرقانوني ډلو ټپلو سره د اړیکو درلودلو په تور نوماندان محروم یا سلب صلاحیت کړي. ECC دغه شان کولی شي د دوهم ځل رایه اچونې او دوهم ځل رای شمیرنې امر هغه وخت صادر کړي، چې د کومې تیروتنې یا ټاکنیز جرم په اړه پوره یقین تر لاسه کړي.

- په افغانستان کې د ملګروملتونو د معاونیت پلاویUNAMA دنده لري، چې د نورو دندو ترڅنګ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیونAIEC له لارې د ټاکنو له پروسې ملاتړ وکړي. ( د ملګروملتونو د امنیت شورا د ۲۰۰۸کال د مارچ میاشتې د ۱۸۰۶(۲۰۰۸)۲۰مه شمیره پریکړه لیک). دغه پلاوی د ټاکنو د پروسې لپاره اداري او لوجیستیکي ملاتړ چمتو کوي. د UNAMA له توظیف او نظارت سره، د ملګروملتونو پراختیایي پروګرام(UNDP) د ټاکنو د فعالیتونو د همغږۍ دنده د ټاکنو د ظرفیت د حقوقي پیاوړتیا د پروګرام په مالي ملاتړ د راتلونکي لپاره(ELECT) پلی کوي. ELECT دغه شان د IEC لپاره مستقیم تخنیکي او د ظرفیت جوړونې او د انتخاباتو د ټولو فعالیتونو لپاره مرسته کوي.د ۲۰۰۴کال په ټاکنو کې، UNAMA د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون(AIHRC) په مرسته د سیاسي او امنیتي محدودې په موجودیت کې له ازادو او عادلانه ټاکنو څخه نظارت او څارنه وکړه.
- د افغانستان ملي اردو(ANA) او د افغانستان ملي پولیس(ANP) د ټاکنو لپاره امنیت نیسي. ANP د رای ورکونې د مرکزونو او د نوم لیکنې د پروسې د امنیت د تامین دنده پر غاړه لري، په داسې حال کې چې ANAد سیمه ییز امنیت مسووله ده چې د افغانستان لپاره د نړیوالو نظامي ځواکونو په مټ، د ایتلاف دواړو ځواکونو(هغه امریکایي ځواکونه چې د طالبانو او القاعده پر ضد جګړه کوي) او ( د نړیوال امنیتي معاونیت ځواکونهISAFچې د ملګرو ملتونو په تایید د هیواد په اطرافو کې د ځانګړو سیمو د امنیت لپاره له اقوامو څخه مختلط ځواکونه دي) له لوري یې ملاتړ کیږي. نړیوال ځواکونه دغه شان په ځینو حالاتو کې د درندو وسایلو د لیږد او د موادو د ویش په برخه کې هم مرسته کوي.
- د ټاکنو د څار نړیوالې او کورنۍ موسسې، د انتخاباتو د پروسې مهم مجریان دي، تر هغه پورې، څو پوره ډاډ تر لاسه کړي چې عادلانه او شفافه ټاکنې ترسره شوې دي. د ټاکنو څارونکي د ټاکنو د اعتبار په پیاوړتیا کې مهم اغیز لري او د ټاکنو د پایلو په بااعتباره کولو او تصدیق کې مهم رول پرغاړه لري. په مخکنیو ټاکنو کې، اروپایي ټولنې، د ازادو ټاکنو اسیایي شبکې(ANFREL) د اروپا لپاره د مرستو او امنیت سازمان(OSCE) او د ټاکنیز سیستم لپاره نړیوال سازمان(IFES) نړیوال څارونکي استخدام کړي وو. د افغانستان لپاره د ازادو او عادلانه ټاکنو

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ(FEFA) د افغانستان د مدني ټولنو او د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون له خوا زرګونه داخلي داوطلبان او څارونکي استخدام کړي وو.

**۱، ۱، ٦ د رایه ورکوونکو نوم لیکنه:**

د ټاکنو د یوې غټې پروسې په ډول په ۲۰۰۴او ۲۰۰۵کلونو کې د زیات شمیر رایه ورکونکو نوم لیکنه په ټول افغانستان کې ترسره شوه، چې ۱۰،۵میلیونو زیات کارتونه د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د نوم لیکنې لپاره چاپ شول او یو کال وروسته نږدې یو ملیون کسانو نورو دوهم ځل د پارلماني ټاکنو لپاره نوم لیکنه وکړه. له هغه وخته تر ننه، ډیر شمیر افغانان د ۱۸کلنۍ عمر ته رسیدلي او اوس د رای حق لري، ځینې نور د بیاراستنیدو د پروسې په مټ، خپل هیواد ته بیرته راغلي دي او ځینې نورو چې مخکې یې نوم لیکنه کړې وه، ولایاتو ته تللي دي. وروستۍ ډله ډیره مهمه ده، ځکه چې افغانان یوازې په هغه ولایت کې د رای ورکولو حق لري چې هلته یې کارت درج شوی وي. د نوم لیکنې اوسنۍ مرحله یوازې په دوهم ځلې نوم لیکنه باندې تمرکز لري او دغه مرحله بشپړې سرشمیرنې ته شامله نه ده.(لکه چې وړاندې مو هم ترې یادونه وکړه) د مرکزي او شمال- غربی ولایتونو نوم لیکنه د ۲۰۰۸کال په اکتوبر میاشت کې پیل شوه او په جنوبي او غربي ولایتونو کې د ۲۰۰۹ کال په مارچ میاشت کې پای ته ورسیده. په ټول هیواد کې د ٦۰۰په حدودو کې د نوم لیکنې مرکزونه وو، چې تقریبا ۲ میلیونه نویو رایه ورکوونکو او یا بیرته راستنیدونکو رایه ورکوونکو ځانونه پکې ثبت کړل.

**۱، ۲ تاریخي اساسات او وروستي پرمختګونه:**

د افغانستان د ولسواکۍ تاریخ تر ډیره تیر ۲۰۰۴وخت ته ورګرځي، هغه مهال چې د ملګروملتونو تر څار لاندې د بن د پروسې په پای کې له څو لسیزو کورنیو جګړو وروسته د لومړي ځل لپاره ټاکنې ترسره شوې. تر ټولو وړاندې، افغانستان د یوې لرغونې سنتي ولسواکۍ درلودونکی دی. له ډیر پخوا، سنتي جرګه په یوه ناسته کې د افرادو د برابرۍ د اصل انځورونکې ده، چې هیڅ ډول سلسله مراتب نه مني. د ډیرو اوږدو شخړو او قبیلوي اختلافاتو د حل او فصل د موضوعاتو په اړه به جرګې د عمومي رضایت پر اساس پریکړه کوله. کله کله به یوازې مشرانو، او ډیری وخت به د یوې قبیلې ټول نران په یوه جرګه کې سره راټولیدل. جرګه د یوه سازمان یا ادارې په شان، په افغانستان کې د یوه غټ قانونیت واک لري. له همدې امله ده چې په ۲۰۰۳کال کې د افغانستان د اساسي قانون د تصویب لپاره وړاندیز شوې لویه جرګه جوړه شوه او دا کومه ناڅاپي پیښه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. په پایله کې، لویې جرګې رسما د ملي شورا غړي او د ولایتونو رییسان او دغه شان د ولسوالۍ شوراګانې د افغانستان د خلکو د تر ټولو لوړ مظهر په توګه(۱۱۰مه ماده) تاسیس کړه. د دولتمندانو د کمزوریتوب او یا نه درلودلو په وخت کې به د ډیر وخت لپاره شوراګانې د یوې دایمي ادارې په توګه د سیمه ییزو چارو د ادارې مسوولیت پر غاړه لري.

دوهم، پارلمان ته ورته ادارې د لومړي ځل لپاره د ۱۹۲۳کال په لومړیو کې هغه مهال تاسیس شوې، کله چې امیر امان الله خان پارلمان او ولایتي شوراګانې له اساسي قانون سره یو ځای وړاندیز کړلې. وروسته، دوه ځله د ولسواکۍ پیل چې د کثرت پالنې او پېژو ټاکنو معرف و او دغه شان د رسنیو ازادي او پارلماني شخړې د (۱۹۵۱-۱۹۴۷ او ۱۹۷۳-۱۹۶۳) کلونو کې د پخواني شاه، ظاهر شاه تر مشرۍ لاندې وې. له اساسي قانون سره سم، د مقننه قوا پر وړاندې د اجراییه قوا په ګټه، د قواوو له یو ډول تعادل سره چې په هغه کلونو کې، سره له دې چې د پخوانیو شوراګانو په نسبت پارلمان ته زیاتره لفظي بدلون ویل کیده، خو د یوه وروستي بري لپاره یې لاره اواره کړه. د سیاسي او مدني ژوند غوړیدا د پراخه ټولنیزو بدلونونو انعکاس ورکاوه او د ښاري کیدو ښکارندویي یې کوله، ښوونه او روزنه او اقتصاد وو، چې له فعاله سیاسي ارمانونو او افکارو سره یو ځای یې د یوې متوسطې سیاسي طبقې رامنځته کولو ته لاره وکړه. دغه ټولنیز جوړښت د ډیرى سیاسي خوځښتونو د پراختیا لامل شو، چې ځینو دغه ډلې د کین اړخو، اسلامپالو، ملتپالو او قومپالو په نومونو وویشلې(وروستۍ برخې ته نظر وکړي)

په پای کې، دواړو رواجونو که قبیلوي ولسواکي وه او که د پارلماني ولسواکۍ مخکښان، له طالبانو وروسته یې د د ولسواکو اصلاحاتو د کار بنسټ کېښود. له ۲۰۰۱کال وروسته، په لومړیو کې د ۱۹٦۴کال د اساسي قانون په استناد، یو نوی رژیم رامنځته شو، وروسته لویې جرګې اساسي قانون تصویب کړ او بالاخره په ۲۰۰۵کال کې د ملي سراسري ټاکنو له لارې پارلمان رامنځته شو، چې بیا یې د یوه مقننه مجلس معرفي او استازیتوب کاوه، نه د نړیوالې ټولنې له غوښتنو سره سم یو د پردي عناصرو د پلیتابه سیاسي عنصر.

**۱، ۲، ۱پارلمان او سیاسي ګوندونه:**

په داسې حال کې چې په افغانستان کې سیاسي ګوندونه شته، سره له دې چې ډیر کم ډیموکراتیک عمر لري، دوی په زړه پورې پراختیا نه ده کړې او تر ټولو بده لا دا چې دغه ګوندونه د پیژندلو له سختې ستونزې سره لاس دي. ډیر خلک یې د خلق دیموکراتیک افغانستان(PDPA) تر ملاتړو، د ښکیلاکګرو روسانو او یا د مجاهدینو تر اسلامي ډلو ټپلو(تنظیمونو) پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند بولي، کوم چې ددوی د جګړو له لاسه د ۱۹۹۰کلونو په ترڅ کې خونړۍ جګړې او بې ثباتۍ رامنځته شوې. په پایله کې، ډېری افغانان، د دولت د لوړپوړو مقاماتو په ګډون، په ګوندونو باور نه لري او دغه ګوندونه د خپلو شخصي غوښتنو په اساس د پالیسیو د مخته وړلو پلویان او د خپلو ځانګړو قومي او قبیلوي ډلو ملاتړي بولي. یو له هغه دلایلو چې د SNTVسیستم یې غوره بللی دی، دادی چې په دغه سیستم کې په افرادو تمرکز وي نسبت سیاسي ګوندونو ته. لا اوس هم په یوه ولسواک نظام کې د وګړو د اغیزمن استازیتوب او غوښتنو لپاره او دغه شان د اغیزمنو پالیسیو د جوړښت لپاره د ګوندونو شتون ضروري دی.

په ۲۰۰۱کال کې له ولسواکې دورې وروسته، درې ډوله تاریخي، سیاسي او افغاني ایډیالوژۍ راډګر ته شوې او د سیاست په ماحول کې یې د پام وړ غوره توبونه تر لاسه کړل: ګیڼ اړخي، اسلامپالي او قومپالي یا ملتپالي. سره له دې چې دغه درې ډلې تر پخوا ډېرې ځواکمنې دي، دربیمه ډله هم رامنځته شوې ده: نوي ولسواکان چې ، د نورو ایډیالوژیکو خنډونو په ماحول کې د یو نوي ځیز د پیل په هیله دي.

اساسي قانون هغه ګوندونه ممنوع اعلان کړي چې نظامي تشکیلات ولري، یا د قومیت، ژبې، سمت یا د مذهبي ډلو د ملاتړ په اساس وي. (۳۵مه ماده) د ۲۰۰۵کال په ټاکنو کې، تر ۷۰ زیات شمیر ګوندونه د عدلیه وزارت له لوري تایید او ثبت شول. (د قانوني سیاسي ګوندونو لیست په ضمیمه کې وګوري). په هر حال، یو ډله کاندیدانو( یوازې ۱۲۱) د خپل سیاسي ګوند نوم، د نوم لیکنې په پاڼه کې راوړي، ځکه چې د رایه ورکولو په پاڼه کې ددغه شان پلویتوب یادول طرح شوي نه دي، ځینې کاندیدان په تکرار سره د خپل سیاسي ګوند نوم په هغه ځایونو کې لیکي چې د نوم لپاره په نظر کې ورته نیول شوي. په داسې حال کې چې د پاڼې نه طرح د رایې ورکول نور هم اسانه کوي. ښایي رایه ورکوونکی د خپلو هغو متحدینو له پیژندلو لرې کړي، کوم چې غواړي هغه ته رایه ورکړي.

دا حقیقت چې سیاسي ګوندونو رسما د کمپاین اجازه نه درلوده، په دې ونه توانیدل چې ګوندونه د خپلو کاندیدانو له تنظیم او ځای ورکولو څخه منع کړي. په حقیقت کې، تصور داسې و چې د ولسي جرګې د ټولو غړو تر دوه ثلثه زیات، تر یو ګوند پوري رسمي یا نارسمي تړلي دي. دغه شان، د مجاهدینو ډلو په پراخه کچه د استازو تر نیمایي زیات د وسله والو قوماندانانو له ډلې چې تر مجاهدینو پورې تړلې وې، پارلمان ته لاره وموندە. د نارسمي اټکل له مخې، د ۲۴۹غړو له ډلې، د دربیمې برخې په شاوخوا کې نوي ټاکل شوي غړي د نظامي ډلو قوماندانان، د مجرمو ډلو غړي، د نشه يي توکو قاچاقچیان او جنګي مجرمین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنی مقننه مجلس د مختلفو گوندونو ترمنځ د همکارۍ پر شتون سربیره، تر اوسه د یوه منسجم پارلماني گروپ اړتیا نه ده پیژندلې، ددې پر ځای، د سمت ورکولو بدلون، ایتلافونه او وفقه یی وابستگی یې رواج کړې دي. دا چې د انتخاباتي سیستم SNTV سیاسی گوندونه نه پیژني، ډیری نوماندانو د یوې ملي هر اړخیزه تگلارې پر ځای، سیمه ییزو یا قبیلوي محدودو ته مخه کړې ده. پر دې سربیره، ټاکنیزې سیالۍ په ځاني شهرت او تشو ژمنو باندې راڅرخي، نسبت مسلکي ځواکمنتیا ته چې د یو قانون جوړوونکي لپاره اړین توکي دي.

په پایله کې، پارلمان څو ټوټې او کمزوری شوی دی او په پوچه وړتیا ملي موضوعات تر پاملرنې لاندې راولي او یا اجرایه قوه کنټرولوي. په ځانگړې توگه، د حکومت د ملاتړو روښانه ځانگړنه یا د هغوی مخالف ځواک تر اوسه نشته، هغه څه چې شته، د ځاني غوښتنو پر بنسټ د ایتلافونو بدلون او دغه شان قومي او قبیلوي اړیکي دي. سره له دې چې د یادو شویو گوندونو جوړښت ډیری خلک ویني، د شفافیت کمښت، حساب ورکول او نظم هم په گوندونو کې تر سترگو کیږي.

دغه شته وضعیت په عامه عرصه کې هم وروسته والی له ځانه سره مل کړی دی. په داسې ځای کې چې د ولسمشر یا نورو سیاسي گوندونو د مشرانو، ټوپکواکانو او د نشه یی توکو د قاچاقچیانو زور او واک واکمن وي، په دې ډول شرایطو کې هیڅ(( گوندي بنسټ)) نه شي رامنځته کیدی، چې په هغه دې سړی حساب وکړی شي. که گوندونه رسمي غړي ولري هم، هغه بیا د گوند د رهبرۍ په جوړښت او یا پالیسیو کې ډیر لږ عملي نفوذ لري. دا چې په انفرادي توگه اشخاص تل د ډول ډول گوندونو غونډو ته ورځي، دغه موضوع دا ستونزه رامنځته کړې چې رهبري په کومو کسانو حساب وکړي؟

**۱،۲، ۲، نور اساسي عناصر:**

ـ که چیرته سیاسي گوندونه نه وي، کومې ډلې، ایډیالوژۍ او یا عوامل به د سیاسي فعالیت ډگر ته راشي؟ په دغه وخت کې تر ټولو مهم، ښایي قومي او قبیلوي اړیکې نسبت سیاسي اتیلافونو ته زیات وزن ولري. دا په تیرو ټاکنو کې له گوندونو څخه یو بد تصور چې ډیری رایه ورکوونکي یې د سیاسي فکر په نسبت، د قومي او قبیلوي اړیکو په صفونو کې ودرول. پر دې سربیره، مذهبی مشران د احترام وړ مقام لري، په ځانگړې توگه هغه چې د شوروي پر ضد جگړو کې یې رول درلود، لکه جهادي مشران. نو، د هیواد په شمال او جنوب او په کلیو او ښارونو باندې داخلي ویش موجود دی چې د رایه ورکوونکو د کړنو لپاره ټاکونکی رول لري. پر دې علاوه، په راتلونکو ټاکنو کې د نړیوال عنصر شتون ته، هغه که د اماده گې یا اجرا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت کې وي او یا د نظارت په حالت کې، یو ځل اړتیا ورته شته. دغه ټول فکټورونه د موجوده ایتلافونو او سیاسي پروګرامونو او ټاکنو پر پایلو یو ټاکنونکی نقش لري.

**۲، اماده ګي(تیاری)**

کله چې تاسو دغه متن لولی، ښایي داسې فکر وکړی چې تاسو د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو لپاره یو نوماند یاست. په خپله پوه یاست چې نوماند کیدل خلکو، سرچینو، سیسټمونو، سازماندهۍ، تګلارو، جدي کار او ژمنتیا ته ضرورت لري. ډیری تازه دمه سیاستوال په دې باور دي چې د دولتي پوستونو د لاسته راوړلو لپاره هڅې ټاکنیز کمپایونه یا مبارزې دي. په هر صورت، تر دې زیات نور څه هم شته. د سیاسي څوکۍ د ترلاسه کولو لپاره منظمو سیاسي تشکیلاتو ته اړتیا ده. د ټاکنیزو مبارزو لپاره یوازنۍ لاره هر لور ته منډې او د رایه ورکوونکو د ملاتړ له راجلبولو سره مخامخ کیدل، د سیاسي تشکیلاتو رامنځته کیدو ته اړتیا لري. کمپاینونه مرسته کوي، خو د بریالیتوب ضمانت له ځانه سره نه لري. یوازې سیاسي تشکیلات دي چې سړی بریالیتوب ته رسوي. د خپلو پلویانو منظمول، د یو ماهرې ډلې مشري، د یوې ښې او پلان شوې تګلارې تعقیبول او د یو لړ ښو سرچینو له لارې د هغه پیاوړي کول، ستاسې رایې حصول او له هغه څخه ساتنه کوي. په سیمه ییزه کچه، چې ټولنې کوچنۍ او اړیکې تر ډیره شخصي وي، رایه ورکوونکي باید تاسو ووینې او په دې باوري شي چې تاسو ګټونکي یاست.

دغه فصل تاسو ته د کمپاین لپاره د تیاري درس نه درکوي، بلکې ښایي تاسو ته دا لاره وښيي چې د رایې د ترلاسه کولو سیسټم څنګه رامنځته کړی. ښایي ګڼ شمیر لیستونه مو تر سترګو شي: اړتیاوې، ګام په ګام لارښوونې، او هغه یادښتونه چې ښایي ستاسو لومړني فعالیتونه یوه سم مسیر ته سیخ کړي. دغه بحث څلور برخې لري. په ((ځان ارزونه)) کې د ټاکنو لپاره ستاسو تیاری تر ارزیابۍ لاندې نیسي. د (( سیاسي زمینې)) په برخه کې تاسو په دې لاسبري کیږی چې تصمیم ونیسي چې رایه ورکوونکي تاسو ته د کاندید په سترګه ګوري. ستاسو د رایو د لاسته راوړلو او ساتنې لپاره، د (( ستاسو ډله)) او (( ستاسو تګلاره)) عناوینو ته پام واړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲، ۱ ځان ارزونه:**

په لومړي پړاو کې ولې غواړی چې دولتي څوکۍ ولری؟ ولې په دغه ولایت یا ښار یا ولسوالۍ کې؟ یا ولې همدا اوس؟ هر دلیل چې وي، باید تاسو ته روښانه وي. دا خبره به تاسو ته در په یاد کړي چې تاسو څنگه کولی شي خپله نوماندي مطرح کړی، خپلو جوړښتونو ته تشکیلاتي بڼه ورکوی او خپل کمپاین ترسره کوی. یو ځل ځان ارزونه به له تاسو سره دا مرسته وکړي چې د یوه نوماند په شان دغه کار ته ودریږی.

۹ دانې د پام وړ موضوعات، چې د انتخاباتي مسابقې د په لاره اچولو تر تصمیم وړاندې، په یوه ارزونه کې هغه ته رسیده گي وکړی:

- َستاسو موخې
- په شرایطو باندې ستاسو برابروالی
- ستاسو ارزښتونه
- ستاسو شخصیت
- ستاسو شهرت
- ستاسو د ملاتړ میکانیزم
- ستاسو شتمني
- وړتیا او برجسته گي
- ستاسو د گټلو چانس

**۱،۱،۲ ستاسو موخې:**

تاسو ولې غواړی چې له نوماندۍ یې راپیل کړی؟ که غواړی چې مرسته وکړی ایا کولی شی دا مشخص کړی چې ولې او څنگه غواړی مرسته وکړی؟ که تاسو غواړی چې اصلاح او سمون رامنځته کړی، ایا تاسو هغه اصلاحات یو یو ویلی شی او د هغه لپاره یو جدول کنبلی شی؟ ستاسو موخې ایا د تاسو د کار اساسي خطوط دي، تاسو باید یو ځل بیا پاملرنه وکړی او له ځانه سره سوچ وکړی چې ایا اوس هم تاسو له خپلو اساسي خطوطو سره سراو کار لری.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲،۱،۲،په شرایطو باندې ستاسو برابروالی:**

لږ ترلږه ایا تاسو له لس کاله راپدیخوا افغاني تابعیت لری؟ ایا د دغه موقف لپاره مناسب عمر لری؟ ایا په خپله سیمه کې له ډیر پخوا هستوګن یاست چې د نوماندۍ د شرایطو لرونکې وی؟ دا لومړنۍ پوښتنې دي چې تاسو کولی شي چې واجد الشرایط و اوسی. که په تاسو کې له دغه شرایطو څخه یو هم کم وي، نو ښايي تاسو بريالي نه شی( په شرایطو باندې ستاسو برابروالی ووینی).

نور ډیر جدي شرایط هم شته. ایا ددې مخینه یا تجربه لری چې د یو سازمان له شمیر وتلي کسان یا څو کسه تر لاس لاندې کسان په یوه معین وخت کې کنټرول کړی؟ ایا تاسو په ابتدایي تقنیني چارو خبر یاست؟

د کاندیدانو د ځیړنې رسمي پروسه به دا په ډاګه کړي چې یو نوماند د شرایطو وړ دی او د نوماندۍ اجازه لري کنه؟

په همدې ترتیب، نوماندان باید د نوماندۍ پر مهال یوه اخلاقي لایحه لاسلیک کړي، په لایحه کې پر دې لوړه(تحلیف) کوي چې په هیڅ ډول هغه جرمي فعالیتونو کې لاس نه لري چې دده د نوماندي د سقوط لامل ګرځي.

د ۲۰۱۰کال په ټاکنو کې به د نوماندۍ پروسه د کاندیدانو د ځیړنې له پروسې څخه بیله وي.

**۳،۱، ستاسو ارزښتونه:**

کوم اصولي او معنوي اساسات لرئ چې په رښتوني توګه ستاسو په ژوند کې مهم وو؟ سیاست ته په وردننه کیدلو سره حتمی نه ده چې له ارزښتونو سره (( تطابق)) ولری، بلکې هغه به وازمویی. ایا تاسو د فشار یا وسوسې تحمل لری؟

**۴،۱،۲ ستاسو شخصیت:**

د ټاکنیزې مبارزې په ترڅ باید تر حد زیات صمیمي و اوسی. که مو کافي بودیجه په لاس کې درلوده، باید د ننه غونډې مو په ښو خوراکونو باندې جوړې شي، څو زیات شمیر د نعمتونو څښتنانو ته قناعت ورکړی، چې ستاسو له ټاکنیزو سیالیو ملاتړ وکړي. که مو کمه بودیجه په لاس کې وه، باید جوماتونه، تکیه خانې، عمومي غونډې، د تدفین مراسم او چای خونې د ځان لپاره وټاکی څو له دې لارې د ولس له پراخه زیات شمیر خلکو سره اړیکې ونیسی او هغوی د ځان لپاره منسجم کړی، پر دې سربیره، باید له رسنیو سره راشه درشه ولری. کمپاین کړل د کاندیدۍ د یو ډول واقعي رنګونو د اخطار یوه لاره هم ده. دغه شان، د فعالیتونو په فاصله کې، د کم نظیره او ناڅاپي حالتونو د ننداري لپاره هم مواظب اوسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵،۱،۲ ستاسو شهرت:**

ـدا ومنی چې ستاسو سیالان ستاسو د شهرت د بدنامولو لپاره هر څه ته لاس اچوي، دارنګه چې یوازې ستاسو پلویان کولی شي ستاسو ګردچاپیره ستاسو ناکامۍ حس کړي. که تاسو د افغانستان په وروستیو لسیزو کې په افغانستان کې ژوند کړی وي، ډیری خلک په دې پوهیږي چې تاسو په مخکنیو رژیمونو کې چیرته وی. په دې مو هم سر خلاص اوسه چې له دغه شان څنګه او چیرته څخه به د ستاسو پر ضد استفاده وشي. دغه شان، د دغه سرچپه هم یو حقیقت دی، که تاسو بیرته په دې وروستیو کې افغانستان ته راغلي وی، خلک تاسو د هغو بهرنیانو به نوم پیژني چې د خلکو له ورځنیو ستونزو څخه کوم خبر نه لری.

یا نور هغه شهرتي عناصر لکه چې کله مو رشوت یا بډې منلې او یا مو له خپل موقف څخه د نورو د ملاتړ لپاره استفاده کړې ده. دغه شان، په دا شان ځایونو کې ستاسو شخصي مسایل لکه اخلاقي سلوک چې ښایي ځینو کسانو ته ورمعلوم وي، کولی شي د رایه ورکوونکي اعتماد پر تاسو له منځه یوسي. له همدې امله، د یوه نوماند لپاره د حل لاره داده چې یووالی او اعتبار ولري څو د شریرو بریدونو پر وړاندې د مقاومت وس ولري. د یوه عادل سیال په شان، باید تاسو د خپل مخالف د شخصي او مسلکي ژوند په توپیر باندې قایل شی. ستاسو د سیال شخصي ژوند باید د انتخاباتي مسابقې برخه ونه ګرځي. د سیال عامه او سیاسي ژوند دی چې تاسو کولی شي هغه ته چلنج ورکړی.

**٦،١،٢ ستاسو د ملاتړ میکانیزم:**

په ربښتیا د یو چا د کورنۍ د غړو ملاتړ، ښایي دده نور نږدې خپلوان او ملګري دده په کمپاین کې تر هر څه زیات، دی مطرح کړي. ستاسو کورنۍ او نږدې دوستان ستاسو د پیاوړتیا او هڅونې سرچینه ده. کله چې داسې موضوعات رامنځته کیږي چې ستاسو او د کمپاین په اړه مو ریښتوني نظریاتو او معلوماتو ته اړتیا وي، ستاسو کورنۍ او دوستان کولی شي تاسو لپاره تر ټولو غوره سرچینه وګرځي.

ددې خبرې بل دلیل چې خپلوان او د کورنۍ غړي د کمپاین لپاره ټاکونکی رول لري، دادی چې دوی د حساسو دندو د په غاړه اخستو لپاره د اعتماد وړ کسان دي، په ځانګړي ډول هغه دندې چې قربانۍ ته اړتیا لري. دوی ستاسو د مالي لارو چارو موندونکي او ښایي د اراوو د یو ځای کولو په جریان کې مالي امرین وي ( د هغه کسانو په شان چې د رایه ورکولو پر مهال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي حوزو باندې څارنه کوي) تاسو بله لاره نه لرئ چې خپلې شخصي او په حقیقت کې د خپلې کورنۍ پیسې رابهر ته کړئ.

**۷،۱،۲ ستاسو مالي لارې چارې:**

تر کمپاین وړاندې مو د کمپاین تمویل ته باید پام وي، تاسو د کمپاین د پیل لپاره پیسو او د کمپاین د رسمي او نارسمي فعالیت لپاره یوې ملاتړییزې شبکې ته اړتیا لرئ. تاسو او یا کورنۍ مو دیته تیاره ده چې یو د پام وړ پیسې مصرف کړئ؟ او ایا تاسو د پیسو د نه ترلاسه کیدو په صورت کې نور امکانات لرئ؟ او که تاسو پیسې لرئ، غواړئ بهر ته یې واچوئ؟ ایا تاسو لږ تر لږه یو برید ورته ټاکلی شئ؟

**۸،۱،۲ ستاسو وړتیا یا برجسته ګي:**

له دینه مو موخه ظاهري او رواني وړتیا یا برجسته ګي نه ده. ټاکنیزې سیالۍ د ځواک د له لاسه ورکولو لارې هم په مخ کې لري. که تاسو په ملي شورا کې د یوې څوکۍ په هڅه کې یاست، ایا تاسو دا ځواک په ځان کې لرئ چې د خپلې ولسوالۍ لیرو پرتو سیمو ته لاړ شئ او د شپې، سهار او ماسپښین په غونډو کې برخه واخلئ؟ په دې ترڅ کې، تاسو باید په ګڼ شمیر غونډو کې لکه د کمپاین منظمول او د کمپاین لپاره د مالي سرچینو تیارولو کې هم ګډون وکړئ څو د کمپاین د جریان په اړه معلومات ترلاسه کړئ او دغه شان د کمپاین له ستونزو هم خبر شئ. شیبه په شیبه د استراحت لپاره وخت واخلئ، ځکه د یوه کامیابه کمپاین لپاره تفریح ډیره مهمه ده.

**۹،۱،۲ ستاسو د ګټلو چانس:**

په دې ځان مه غولوئ چې په ښو صفاتو مو ځان معرفي کړئ دئ او په دې فکر کې یاست چې تاسو یې ګټئ. د نیت خلوص کفایت نه کوي، تاسو باید دا وس ولرئ چې ټاکنې ګټئ. یو ژمن انتخاب کوونکی چې لاندې صفتونه ولري، ښایي ټاکنې وګټي: یو ښه او د اعتماد وړ نوماند اوسئ، یوه داسې سیمه باید ولرئ چې په هغه کې اوس هم نفوذ لرئ، یوه د پام وړ منبع باید

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولرى، د صادقه خلكو يا سازمان ايتلاف(ياني له دواړو، سياسي ګوند او انتخاباتي ډله) او بالاخره يوه ښه او پلان شوې ستراتيژي ولرى. په مهربانۍ سره دا په ياد ولرى چې كله كله خلک ګڼ شمير نوماندانو ته د ملاتړ هسې تشه وعده وركوي.

د ګټلو لپاره تاسو څه ته اړتيا لرى؟

۱ـ يو ښه او د اعتماد وړ نوماند اوسى.

۲-يوه سيمه(يا لږ تر لږه يوه ناحيه)بايد ولرى چې په هغه كې نفوذ ولرى.

۳-يوه د پام وړ سرچينه ولرى.

۴-له يو سازمان يا صادقه خلكو سره ايتلاف.

۵-يوه ښه او پلان شوې ستراتيژي.

ښايي تاسو په دې هيله ياست چې د نوماندۍ د وس درلودلو يا د وړلو په اړه د شک، يو ليست تهيه كړى. دغه ليست باتجربه او د اعتماد وړ شخص ته وسپارى څو ستاسې توان وسنجوى او هغه ته پاملرنه وكړي. كه داسې يو دليل وي چې ښايي تاسو يې ټاكنۍ بايلى او تاسو د هغه ستونزې حل ته په وس نه وي پوره، نو ښه خبره داده چې له خپلې نوماندۍ څخه بيخي تير شى.

**۱،۱،۲ هغه اسباب چې رايه وركونكي يې د پوښتلو قصد لري:**

ستاسو د ګټلو چانس ددې لپاره ټاكونكى دى چې تاسو خپل ځان ته څرنګه موقعيت او موقف وركوئ؟ له (۹)باطني ټكيو څخه ستاسو درک كولى شي چې يو ټاكونكى رول ولرى، چې څرنګه ځان په خلكو كې مطرح او څرنګه خپل د قوت ټكي نور هم ځواكمنوئ. د يو نوماند د قوت په ټكيو تمركز وكړئ. په ياد لرئ هغه خلک چې تاسو خپل ځان او خپله تګلاره ورپيژنى، يوازې رايه وركونكي نه دي، بلكې ستاسو د راتلونكي كمپاين تمويلوونكي هم دي. كله چې تاسو په سياسي مناظرو كې راڅرګنديږئ، درې ټكي شته چې ښايي رايه وركوونكي د هغه په اړه له تاسو څخه وپوښتي: تاسو څوک ياست؟ په تيرو كې مو څه ثابت كړي؟ نور څه كولى شى؟

۳هغه پوښتنې چې رايه وركوونكي او تمويلوونكي يې له يوه تازه دمه سياسي فعال څخه وپوښتي:

- تاسو څوک ياست؟ تاسو بايد ډير كلونه او يا د كلي له خلكو سره په نږدې تماس كې ژوند تير كړى وي.
- تاسو څه ثابت كړي دي؟ تاسو بايد په بله سيمه يا برخه كې يو شهرت لاسته راوړى وي، يا تاسو بايد د ټولنې خلک يا انفرادي كسان او يا د ښار اوسيدونكو ته له يوې لارې مرسته يا ملګريتوب كړى وي.

د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو نور څه کولی شی؟ تاسو باید مشخصې موخې، د لاسرسي وړ اهداف او یو شفاف مهالویش ولرئ.

**تاسو څوک یاست؟**

تاسو نه شی کولی چی په ناپیژندلې توګه د خپلې حوزې موکلینو ته ځان نوماند کړی. تر ټولو ښه هویت چې رایه ورکوونکي یې له تاسو هیله لري، د تاسو سیمه ییزې ریښې او اړیکې دي. ایا تاسې د خپل ولایت اصلي اهل یا اوسیدونکي یاست؟ د خپل ښار قانوني اوسیدونکي یاست؟ په بل عبارت، ایا تاسو ځان یو تن ددوی له ډلې بولی؟ په ځانګړي ډول له لویو ښارونو بهر، ستمپالنه او قامپالنه سختې ځواکنمې ریښې لري. دا به یو مصلحت وي چې تر ټاکنو وړاندې یو سیمه ییز هویت د ځان لپاره ومومی، د ساري په توګه، په ټولنیزو معاشروتونو، خیراتونو او سیاسي پیښو کې په پرلپسې توګه د ګډون له لارې. غیر رسمي ټاکنیزه مبارزه کیدی شي مخکې تر هغه پیل کړی، کومه چې تاسو یې غواړی.

**څه مو تر اوسه کړي دي؟**

د کمپاین مدیریت د یوې لاسته راوړنې د تولید مدیریت ته ورته دی، خو په کمپاین کې د ښه برداشت لپاره تاسو باید یو ښه محصول او لاسته راوړنه ولری. کوم څه چې په ډیره چټکۍ باندې ستاسو لاسته راوړنه جالبه کوي، ستاسو لاسته راوړنې دي. مخکې تر دې چې د نوماندۍ په اړه سوچ وکړی، په یوه بله حوزه کې ستاسو تثبیت ستاسو لپاره یو امتیاز دی. هغه څه چې یو رایه ورکوونکی تر خپل اغیز لاندې راولي، ستاسو د وروستیو کلونو لاسته راوړنې دي.

**تاسو نور څه کولی شی؟**

ستاسو تګلاره باید غوره او روښانه مراحل ولري. په هغه صورت کې که چیرته تاسو د خپلو موکلینو استازی شوی، باید دوی ته د دوی د راتلونکي د امنیت په اړه پوره احساس ورکړی. نو د ځانګړو موضوعاتو مشخصولو ته په پاملرنه سره کولی شی، دا خبره په ډاګه کړی چې تاسو څرنګه هوډ کړی چې دغه موضوعاتو ته پام وکړی او ستاسو د منلو وړ بګروند څه دی.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲،۲ په سیاسي حوزه کې:

د یوه نوي قلمرو ته ورته سیاسي عرصې ته د وردننه کیدو پر مهال، تر هر ډول اقدام وړاندې باید خپل اړخونه او اطراف ښه درک کړی او دا چې د سیمې په اړه خپل معلومات څرنګه بشپړولی شی، باید له مختلفو زاویو په کافي اندازه د سیمې سیاسي نقشې له ځانه سره ولرئ.

#### ۱،۲،۲ د خپل چاپیریال ارزونه:

ستاسو مشخص موقعیت یا سیمه ښایي ځینو ځانګړو معلوماتو ته اړتیا ولري او تاسو باید ځینې تحقیقات ترسره کړی. تاسو باید ځینې لومړني معلومات ترلاسه کړی.

⇒ د رایه ورکوونکو په اړه(ډاډ تر لاسه کړی چې ځواب ورکوونکو د رایه ورکولو قانوني عمر پوره کړی او په همغه سیمه کې یې نوم لیکنه کړې وي)

- دوی له رایه ورکولو وړاندې ددې په اړه سوچ کوي چې چاته رایه ورکړي او له چا سره سلا مشوره وکړي؟

⇒ د وضعیت په اړه

- ستاسو د ټولنې اندیښنې او ستونزې کومې دي؟
- د رایه ورکوونکو له انده، د ستونزو علت څه دی؟ او یا د دوی په نظر ددغه ستونزو مسوول څوک دي؟
- ایا د قدرت موجوده واکمن ددغه ستونزو د حل لپاره کوم څه ترسره کړي دي؟ که داسې وي ایا دوی خپلو ستونزو ته د رسیده ګۍ له څرنګوالي خوښ دي؟
- دوی کومو ستونزو ته لومړیتوب ورکوي، چې باید زرترزره حل شي؟ دوی څه ډول غواړي چې دغو ستونزو ته د حل لارې راوباسي؟

⇒ د لوبغاړو په اړه

- رایه ورکوونکو ته د اوسنیو استازو کوم څیزونه په زړه پورې دي او کوم څیزونه یې نه دي؟
- ایا رایه ورکوونکي دا سوچ کوي چې دوی به خپلې کمۍ سمې او اصلاح کړي؟ په څه ډول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه کسان چې غواړي ستاسو په سيمه کې د ولسي جرګې راتلونکو ټاکنو ته ځان ونوموي، هغوی څوک دي؟ د رايه ورکوونکو ترمنځ له څه ډول شهرت څخه برخمن دي؟

خيړنه او ارزونه بايد د سيمه ييزو رسنيو او نارسمي کارپوهانو نظارت او څار ته هم شامله وي، څکه دوی عامه احساساتو ته انعکاس ورکوي. راډيو ته غوږ شی ( چې راډيو په ولايت کې د پيښو د رپوټ ورکولو په اړه يو بلامنازعه انتخاب دی). سيمه ييزې ورځپاڼې ترلاسه کړی او هغه خبرې چې د رايه ورکوونکو په اړه پکې خپريږي، جدول بندي کړی. ايا د رايه ورکوونکو اصلي انديښنه د اقتصادي پراختيا يا ځاني امنيت په اړه ده؟ د خلکو د روحيې درک به له تاسو سره دا مرسته وکړي چې د کمپاين په ترڅ کې څه رنګه مسايل انتخاب کړی. د لومړنيو تحقيقاتو په پايله کې، تاسو به د رايه ورکوونکو د روحيې په اړه خبر وی او دا مرسته درسره کولی شي چې دوی په راتلونکو ټاکنو کې خپله رايه څنګه کاروي.

له بله پلوه، درې لاندې ټکي چې د کمپاين په بهير کې د مسايلو او پيغامونو د انتخاب په اړه مطرح کيږي، تاسو ته لاربښوونه کولی شي. که تاسو غواړی چې د تجارانو، اغيزمنو ډلو او نورو کسانو ملاتړ له ځانه سره ولری، په دې وخت کې ستاسو د کمپاين خبرې او مسايل بايد د پاملرنې وړ او په مهمو ټکيو ولاړ وي.

- چا او څه ډول نوماند په ځينو سيمو يا سکتورونو کې ټاکنې بايللې يا ګټلې دي؟ په څومره اندازه رايو او ولې؟
- د رايه ورکوونکو نظريات، انديښنې او اړتياوې

د لومړنيو ارزونو له لارې د ثبوت د ښه والي د ارايه کولو په مبنا چې د ګټلو لپاره ښه موکه په لاس کې لری، دادی چې کولی شی خپل باالقوه پلويان انتخاب کړی. دا په دې مانا چې تاسو په يو داسې موقعيت کې ياست چې کولی شی د سوال برانګيزه اهدافو تمويلوونکې مرستې، او يا هغه کسان چې ښايي په راتلونکې کې ستاسو په شهرت له بل نوماند سره معامله وکړي، رد کړی. د ارزونو پايلې دغه شان کولی شي تاسو ته د سياسي وضعيت په اړه يو ښه تصوير په لاس درکړي او له دې لارې مطرح مشران او رهبران ستاسو له برمته کولو ناتوانه شي. که تاسو په ټينګو معلوماتو مجهز وی، ستاسو د کمپاين کارکوونکي او داوطلبان، ان ستاسو سياله يا مخالفه ډله نه شي کولی چې تاسو بې لارې کړي.

تاسو دغه شان کولی شی يو بل ډول تحقيق ترسره کړی چې ستاسو د مهمو سيالانو د اسنادو او دوسيو راټولولو ته شامل وي. دا کار په دې موخه نه دی چې خپل معلومات په چټکه او جدي بڼه استعمال کړی، بلکې دغه به د يوې ذخيرې په توګه درسره وي چې که ستاسو سيالان وغواړي له تاسو سره يو ناوړه چلن وکړي، تاسو يې پر وړاندې له دغه اسنادو استفاده کولی شی. دا به ښه نه وي چې په خپلو سيالانو د هغوی د شخصي مسايلو په اړه بريد وکړی په داسې حال کې چې تسلط هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږ لرې. په هر حال، هغه معلومات چې تاسو ګټه ترې اخلی، باید په دولتي ادارو کې د ثبت شویو اسنادو، قضایي هغو اوراقو چې تاسو غواړی پټې یې وساتی او یا د مطبوعاتو له ثبت شویو مرکو څخه رااخستل شوي وي. که نوموړی کس په ټولنه کې یوه مطرح څیره وي، د یادو شویو معلوماتو ترلاسه کول بیا ډیر اسانه دي.

### ۲،۲،۲د خپلو سیالانو پیژندنه

تاسو باید خپل سیالان وپیژنی. کله چې تاسو سیاسي وضعیت ارزوی، ښایي دا مو تر سترګو شي چې نور مینه وال هم د همدغه دندې لپاره همدغه شان کارونه ترسره کوي. په دې وخت کې ښایي تاسو په دې پوه شی چې ستاسو باالقوه سیالان څوک دي. ددغه ټولو کسانو د نومونو اوریدل او دا فکر چې د دوی هر یوه پر وړاندې به ستاسو د وړلو چانس څومره وي، باید تاسو تر خپل اغیز لاندې رانه ولي. له دغه کسانو یوازې د هغو نومونه انتخاب کړی چې تر ټولو زیات د ګټلو چانس لري، وروسته ددغه کسانو پر وړاندې خپله اماده ګي او چانس د نهو هغه ټکیو پر اساس چې تاسو خپل ځان د هغه پر اساس ارزولی دی، وتلی او ارزیابي یې کړی.

خپل سیالان د هغه دریو پوښتنو پر وړاندې وسنجوی، چې رایه ورکوونکي او تمویلوونکي یې مطرح کوي. دوی څوک دي؟ څه لاسته راوړنې لري؟ نور څه کولی شي؟ په هر حال، د غیرقابل انتقال واحدې رایې د سیسټم په نظر کې نیولو سره، تاسو دې ته اړتیا نه لری چې د ټولو نوماندانو په سر کې دې وی، وار ددې شو چې تاسو بشپړ اکثریت رایې وګټی. همدومره اندازه رایې کفایت کوي چې تاسو د هغه کسانو په لیکه کې ودروي چې هغوی د سر کسانو په ډله کې راځي. د ساري په توګه، د پنځو هغو کسانو په ډله کې باید تاسو هم وی چې ستاسو له ولایته یې د ولسي جرګې د څوکیو لپاره تر ټولو زیاتې رایې ګټلې دي.

### ۳،۲،۲ د موکلینو د موقعیتونو ټاکل:

دا چې د سیالانو پر وړاندې مو د یوه نوماند په توګه له خپلو توانایيو څخه ډاډ ترلاسه کړ، د خپلو مواضعو په ایجاد پیل وکړی. په کومو سیمو کې مو خلک ملاتړ کوي؟ څرنګه کولی شی د نورو سیمو یا ډلو ملاتړ راخپل کړی؟ تاسو کولی شی مختلفو هغو سیمو ته لاړ شی چې د افرادو له لارې هلته وروپیژندل شی. تاسو کولی شی د ټولنیزو اړیکو له لارې له دغه کسانو سره وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستاسو خپل خپلوان او د کمپاین همکاران. که دوی ستاسو په انتخاباتي حوزه کې اوسيږي، معمولا ستاسو کمپاین د ځان د کمپاین په څير بولي.
- غټې کورنۍ او سيمه ييز مشران. که تاسو وکولی شی چې د لويو کورنيو د تصميم نيوونکو او سيمه ييزو مشرانو ملاتړ ترلاسه کړی، تاسو په عملي ډګر کې د هغه سيمې ټولې رايې د ځان کړلې.
- جوماتونه او مذهبي سازمانونه. هغه کسانو او افرادو ته هم پاملرنه وکړی چې کولی شی له تاسو سره مرسته وکړي.

دا خبره تاسو د ولسواليو تقسيم بندۍ ته متوجه کوي او دیته چې هغه څنګه سره اولويت بندي کړی. د یوه نوماند په توګه بايد لاندو ټکو ته مو پام وي:

- ډيری وخت خپل منابع په هغو سيمو مصرف کړی چې د رايه ورکولو اړخ يې معلوم نه وي، ځکه د موافقو او مخالفو سيمو رايه مخکې له مخکې ثابته او معلومه ده. په پايله کې هغه کس ګټونکی وي چې نامعلومه سيمې ورته رايه ورکړي. اصلي خبره داده چې د هرې سيمې په اساس د رای اخستلو يو مشخص هدف تعيين کړی. له دې لارې کولی شی چې د همدغه پربنسټ خپلې سرچينې تخصيص کړی.

**خپلې محفوظې انتخاباتي حوزې پیاوړې کړی.**

هغه ولسواليو ته د لاره موندلو په هيله اوسی چې ستاسو د سيالانو په ولکه کې دي. يو نوماند بايد د معلوماتو د راټولولو لپاره يوه ښه شبکه ولري. دغه واقعبين او ناراضي رايه ورکوونکي ښايي په دې نه وي قادر چې د ولسوالۍ ټول اوسيدونکي ستاسو لور ته راهنمايي کړي، مګر لږتر لږه کولی شي چې خپلې کورنۍ تاسو ته د رايه ورکولو لپاره وهڅوي او په پايله کې ستاسو د سيال واکمني ماته کړي. که مو خبر ترلاسه کړ چې ستاسو د سياسي سيال په سيمه کې ناراضي کسان شته، دا يوه غوره لاره او ښه چانس دی چې لاړ شی او له هغوی سره خبرې وکړی. دغه ناراض خپلواک رايه ورکونکي ته خپله تګلاره شرح کړه او ديته يې وهڅوه چې په هغه سيمه کې چې ستاسو د سياسي سيال تر ولکې لاندې ده، خپل مخالفت ته نور هم دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳،۲ستاسو ډله یا ټیم:

په انتخاباتو کې سیالي متخصصینو ته اړتیا لري، څو ستاسو کمپاین ته لاربښوونه وکړي او برنامې ورته جوړې کړي. هر انتخاباتي کمپاین باید درې متخصیصین هر یو یې مالي، عملیاتي او اطلاعاتي مسایلو ته رسیده ګي وکړي، متخصصین ولري. دوی باید ستاسو د ټیم مرکزي هسته جوړه کړي. د پوره مالي او کافي افرادو د لارو چارو په نظر کې نیولو سره، ددغه دریو کارپوهانو ترلاس لاندې یو ډله افراد باید کار وکړي یا هغه کارونه سره همغږې کړي چې باید ترسره شي. تاسو کولی شی دغه مرکزي هسته له هغه ځانګړي سیاسي وضعیت سره سم چې تاسو پکې قرار لری، هغه موقف چې تاسو یې غواړی او دغه شان د رایه ورکوونکو د نفوس له تعداد سره سم پراخه یا محدوده کړی. اساسي قاعده داده چې باید مسلکي افراد استخدام کړی(د سیاسي کارونو د ترسره کولو لپاره، له رسنیو او تبلیغاتي مسایلو سره اړیکې)، څو د کمپاین سیستم مو پیل کړي او مخته یې درته یوسي. په دریو برخو کې د پیسو د راټولولو، مالي مدیریت او د ټاکنو له پایلو څخه نظارت کې باید د کاندیدانو د خپلوانو له ډلې د اعتماد وړ کسان اجازه ولري. که غواړی کومې یوې برخې ته نوره پراختیا هم ورکړی، د مالي برخې اضافي  کارکوونکي باید ستاسو د کورنۍ له غړو او یا شخصي دوستانو له ډلې او د عملیاتي برخې اضافي کارکوونکي باید ستاسې له ټولنیزې او سیاسي شبکې څخه وټاکل شي.

ستاسو ټیم باید د لاندې برخو له مسوولینو څخه جوړ شوی وي:

۱- عملیاتي

۲- مالي

۳- اړیکې یا ارتباطات

۴- ملاتړ: محققین، سیاسي ماهران، حقوقي ماهرین، کارپوهان، سلاکاران.

مخکې د هغه دریو کسانو له ټاکلو چې دهغوی په ټاکلو هغوی ستاسو له شخصیت څخه استازیتوب کوي، خپل ځان له هغه خدماتو سره اشنا کړی، چې له دوی څخه یې د ترسره کیدو هیله لری او هغه اړیکې چې غواړی له هغوی سره یې ولری.

### ۱،۳،۲چلوونکي یا پلي کوونکي:

دا چې سیالي یو رسمي دفتر او یو سیاسي میکانیزم ته اړتیا لري، نو چې په ټوله کاري ډله کې ډیر مسوولیت لري، هغه سیاسي کارپوه دی. په حقیقت کې، دی یو داسې څوک دی چې ستاسو د ټول کمپاین برنامې طرح کوي. هغه د جیپ موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټروان په څير دی، په داسې حال کې چې شتمنو کسانو څخه راټولې شوې پيسې لکه تيل داسې دي او د کمپاين اطلاعاتي تګلاره هغه تزيينات دي چې مسافر هڅوي چې په جيپ کې سواره شي. په لږو تيلو او محدودو تزييناتو موټر کولی شي مسافر خپل منزل او هدف ته ورسوي، خو دا تر ډريور(ستاسو ستراتيژي جوړوونکي) پورې اړه لري چې منزل ته د مسافرينو د رسولو لپاره، مخکې تر دې چې تيل يې خلاص شي، لنډه لاره انتخاب کړي.

متخصص هغه څوک دی چې ستاسو د سياسي چاپيريال له سياسي وضعيت څخه خبر وي. دا کيدی شي داسې د سيمې د خلکو له ډلې څخه يو څوک وي او له سياسي فعالينو سره اړيکې ولري يا له کابل يا بل ځای څخه يو کس راوستل شي چې په کمپاينونو کې پوره تجربه ولري او وکولی شي په ډيره اسانۍ اړيکې ټينګې کړي. دا يو داسې څوک دی چې د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه پوره خبر دی. مسلکي اشخاص، حقوقپوهان او استادان پيژني که ستاسو ډله ديته اړتيا ولري کولی شي دوی وڅاري او يا معامله وکړي. دی کولی شي پيښې تر مطالعې، ارقام تفسير، او هغه اقدامات چې ښايي ستاسو نوماندي تر اغيز لاندې راولي تحليل او تجزيه کړي. د يوه مسلکي شخص لپاره ډيره مهمه ده چې باخلاقه او هوښيار وي، ځکه کله چې دی کمپاين ته ځي بايد د ممکنه تغييراتو لپاره د وړانديز شويو سناريوګانو په اړه څو پلانونه له ځانه سره ولري او د اړتيا پرمهال د لازمو تغييراتو د راوستلو وس ولري.

سياسي کارپوه په حقيقت کې ستاسو د کمپاين مدير دی، ځکه دی ستاسو کسان او برنامې مديريت کوي او په غيرمستقيمه توګه(دی په دې اړه چې منابع څنګه وويشل شي، له ځانه سره بيل ويل لري)ستاسو منابع تنظيم کړي. په ملي او سيمه ييزو کمپاينونو کې، ستاسو د کمپاين مدير کولی شي د سنتي رييس په توګه عمل وکړي او سيمه ييز مشران ستاسو ملاتړ ته وهڅوي و يا کولی شي يو حقيقي مدير و اوسي او د عملياتو مسووليت په غاړه واخلي. د سيمې په کچه، که ستاسو سياسي کارپوه له پوره ملاتړ څخه برخمن وي، کولی شي د کمپاين او عملياتو د مدير په توګه کار وکړي. که ستاسو سياسي کارپوه له ولايت، پلازمينې يا بل هيواد څخه راغلی وي، دی يوازې د کمپاين د ځينو برخو مسووليت په غاړه لري او د کمپاين د مرکزي دفتر نورې ورځنۍ چارې يو بل د کمپاين مدير ته ورپريږدي.

ډيره به ښه وي چې سياسي کارپوه د ټولو فعاليتونو د مصارفو يو اټکلي ليکنيز پروګرام د تاسو لپاره وړاندې کړي. دغه سند له دوه لحاظه له تاسو سره مرسته کولی شي:

۱-کولی شي دا وارزوئ چې ستاسو سياسي کارپوه په دې پوهيږي چې ستاسو کمپاين په کوم لور درومي، په داسې حال کې چې تاسو ته اجازه درکوي چې بايد کارونه يې تصديق او ومنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-د ټول ټیم لپاره یوه لارښوونه تیاره کړی څو دوی وکولی شي د همدغه لارښوونو په رڼا کې خپل فعالیتونه او مصارف وارزوي.

**۲،۳،۲مالي چارې:**

کولی شی ستاسې مالي مسوول یو داسې شتمن څوک وي چې ستاسو د کمپاین د تغذیې وس ولري، یا داسې یو څوک وي چې په ډیری مواردو کې د بلاعوضه مرستو لپاره د اړیکو د ټینګښت وس ولري. په عادي توګه، دغه شخص باید ستاسو د اعتماد وړ کسانو یا خپلوانو له ډلې یو څوک وي، ځکه د پیسو خبره مو ترمنځ شته. مالي مسوول دغه شان د مالي منابعو د ترلاسه کولو لپاره یو مناسب کس کیدی شي، ځکه یو داسې څوک دی چې ستاسو په نه شتون کې ستاسو د مالي فعالیتونو مسوولیت پرغاړه لري. دا چې مالي مسوول به جدي هڅې کوي څو پیسې ترلاسه کړي، نو باید همدغه مسوول کس د مصارفو د څرنګوالي او  تخصیص په اړه قضاوت کوونکی هم وي.

مالي شخص ددی مسوولیت لري چې ستاسو د کمپاین د ستراتیژۍ په اساس پیسې څنګه مصرف شي. په هر حال، سره له دې چې دغه یو مرکزي شخص دی، له سیاسي کارپوه سره له سلا مشورې پرته، تخصیص او هدف معین کولی نه شي. که مالي مسوول یو بل کس د خپل ځان په ځای د مصارفو د څارنې لپاره وټاکه(څو ځان د نورو لویو منابعو د لاسته راوړلو لپاره فارغ کړي)، دغه کس باید د ټولو هغو مرستو په اړه چې په نغدې یا جنسي توګه ترسره شوې دي او په هغه ځایونو کې چې دغه مرستې لګیدلې دي، باید پوره خبر وي. د پیسو همیشني پلټنه او تفتیش له دوه امله اړین کار دی:

۱-څو پوه شی چې د کمپاین لپاره پوره پانګه لری.

۲-تاسو ته اجازه درکوي څو د کمپاین له مصارفو څخه یو مناسب راپور د انتخاباتو خپلواک کمیسیون او د نزاکت له مخې انفرادي تمویلوونکو ته ولیکی.

د کمپاین په پای کې د کمپاین د مصارفو تخمین ستونزمن کار دی. په حقیقت کې د یو نوماند د مالي کمپاین لپاره د (۷۵۰،۰۰۰افغانیو، یا د ولسي جرګې د نوماندۍ لپاره په تخمیني توګه ۱۵۰۰۰امریکایي ډالرو ) په مصرفولو او د (۱۰۰۰ډالرو تقریبا د یو شخص لپاره په انفرادي توګه)تاکید کوي، عمومي اوازه ده چې د ۲۰۰۵کال په ټاکنو کې ډیری کاندیدانو په لوی لاس له دغه رقم څخه سرغړونه کړې وه. قاعده ددې په تشخیص ټینګار نه کوي چې هر نوماند باید د خپلو مصارفو او مرستو راپور وړاندې کړي، خو د قانوني مرجع د غوښتنې په وخت کې، باید دغه اسناد اماده کړي. په پای کې، د کاندیدانو د راپورونو په اساس، په اټکلي توګه کمپاین له ۱۰۰۰څخه تر ۱۲۰۰۰امریکایي ډالرو پورې لګښت لري. په طبیعي توګه، شتمن یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرتمن کاندیدان زیات لګښتونه کوي. کاندیدان باید په لومړیو کې د خپلې کورنۍ د غړو او نورو ملګرو چې له ده څخه یې ملاتړ کړی، په داوطلبانه مرستو ډډه ولګوي. له دوی څخه ځینو دا ادعا هم کړې چې دوی د خپل کمپاین لپاره داوطلب کسان نیولي دي. په راتلونکي کمپاین کې یوه د پام وړ خبره، له دولتي منابعو څخه د هغه کسانو استفاده ده چې په دولتي اداراتو کې په کار لګیا دي.

**۲،۳،۳ اړیکې یا ارتباطات:**

د ارتباطاتو متخصص یو داسې څوک دی چې ستاسو د شخصي ارزونې پایله او له چاپیریال څخه ستاسو نیوکې په یوه پیغام کې په ښکلې بڼه راژباړي. دا هغه ځیزونه دي چې تاسو ورته د کمپاین په ترڅ کې پاملرنه کوی. د کمپاین پیغامونه یوازې په پوسټرو باندې تر شعارونو پورې محدود نه دي، بلکې تر کیسټو، رسالو، لاریونونو، او دغه شان رایه ورکوونکو ته تر کلیدي معلوماتو او بالاخره د سیمه ییزو رسنیو تر ځانګړو موضوعاتو پورې اړه لري. ستاسو تصویراخستونکي ستاسو د پیغامونو ورپیژندونکي دي او خلکو ته دا ډاډ ورکوي چې د خلکو ترمنځ ستاسو رابرسیره کیدل، د رایه ورکوونکو د اولویتونو لپاره ستاسو مبارزه او خبرې د خلکو لپاره ستاسو یو معقول او په تول تللی پیغام دی.

خلاصه دا، تصویراخستونکی باید له تاسو څخه د یو منلو وړ تصویر په اخستلو توانا وي(داسې نه چې مصنوعي به جوړ شوی وي، بلکې د منلو او پام وړ یو څه به وي)هغه باید د یو پام وړ شعارونو د جوړولو، او د غونډو او رسنیو لپاره د موضوعاتو د لیست برابرولو توان ولري، څو ستاسو کمپاین پرمخ یوسي. هغه باید یو داسې څوک وي چې جنجالي اوریدونکو ته ستاسو پیغامونه ورسولی شي، څو هغوی په اسانۍ سره په موضوعاتو وپوهیږي. پر دې سربیره، هغه باید ستاسو په تحقیقاتو او ارزونو کې ستاسو د ارقامو او شمیرو د پیژندلو توان هم ولري، څو ستاسو له پرمختګ سره مرسته وکړي، د ساري په توګه: د حکومت د یو رسمي غړي په توګه ستاسو لوړه منل شوې رتبه، یا هغه مجلس یا غونډه چې ډیرو مهمو کسانو دا هڅه کړې وي چې له تاسو سره وي، په بهر کې ستاسو د اوسیدلو تجربه چې تاسو له هغه کورنیو څخه چې ستاسو له دوستانو او خپلوانو څخه لیرې دي، ځکه دا دوستان مو  مجبوره دي چې په بهر کې له مشقت څخه ډک کارونه ترسره کړي، دا باید ډیره له احساسه ډکه خلکو ته وښیي، یا له عامه مکتب څخه د یو بې ساري محصول په توګه ستاسو شتون چې کولی شی هغه کسان چې د خپلې سیمې د تعلیم او تربیې د پرمختګ توان لري، له تاسو څخه ګټه واخلي.

د مالي مسوول په خیر، د ارتباطاتو متخصص یا کارپوه نه شي کولی د کمپاین د اجرایوي مسوول له سیاسي طرحې سره په مغایرت کې دې هیڅ کمپاین ترسره نه شي کړي. د یوه مسوول شخص په توګه ستاسو تصویر، د اړیکو متخصص د ښه

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قيافې يا ونې لپاره جملې، مناسب عکس يا شعار بايد ستاسو د پوسټرو لپاره ولري. دا به هم متخصص ټاکي چې کوم تصويرونه کومو سيمو ته وليږل شي. ستاسو د اړيکو کارپوه له تاسو سره په بيانيو کې هم مرسته کوي(ښه به دا وي چې خپل افکار برابر او تهيه کړی او ټولې خبرې د ارتباطاتو مسوول ته مه ورترغاړې کوی چې هغه يې دې تيارې کړي)خو دا بيا ستاسو سياسي کارپوه ټاکي، چې کله او په کومو ځايونو کې به له کومو ډلو سره ستاسو خبرې اغيزمنې وي.

**۴،۳،۲ ملاتړ او پښتيوانه:**

يو پرمختللی سازمان يا جوړښت داسې خلک غواړي چې وکولی شي سياسي انديښنې، معلومات او حقوقي موضوعات په خپل لاس او کنټرول کې ولري:

معلوماتي امرين بايد د نورو په منځ کې، د رسمي اسنادو له متفاوتو پايلو څخه د ورسپارل شويو معلوماتو په تنظيم باندې قادر وي. دوی بايد د اړونده حوزو د مشرانو، سياسي عاملينو او نورو ساحوي کسانو راپورونه له ځانه سره ولري چې ښايي دغه راپورونه ستاسو، د سياسي کارپوره، مالي امر او د رسنيو يا اړيکو د متخصص له خوا تجزيه او تحليل شي. دوی بايد پر دې هم توانا وي چې په اغيزمنه توگه د تصميم نيولو پرمهال يا ستاسو د متخصص لپاره اړونده ارقام راټول کړی شي.

سياسي امران ستاسو پيغام رسوونکي دي. دوی خلک ستاسو د غونډو، جرگو او بيانيو لپاره راټولوي او د هرې غونډې د لوچسټيکي اړتياوو لپاره دوی هم گډون کوي. دوی بايد د پوسټرو فعاليتونه د کمپاين له نورو اړونده توضيحاتو سره او ستاسو د پلويانو لپاره نور توضيحات همغږي کړي. دوی بايد د ټاکنو په ورځ، د هغو مشرانو فعاليتونه همغږي کړي چې د رايه ورکولو مرکزونو ته رايه ورکوونکي راهنمايي کوي. د رايو د راټولولو په جريان کې، دوی ستاسو د حقوقو سوپروايزران دي چې د رايه ورکولو د مراکزو او سيمو له ساتونکو څخه تفتيش او پلټنه کوي. حقوقي کارپوهان کيدی شي چې حقوقپوهان يا د حقوقو د پوهنځيو هغه محصلين وي څو وکولی شي تاسو ته د کمپاين د تيارۍ، پيل او د کانديدۍ د سند د خانه پورۍ په هره مرحله او د حساسو او حقوقي تصاميمو د پايلو او برداشتونو په اړه مشوره درکړي. دوی بايد په هر هغه موضوع او د کمپاين په جريان او هره مرحله کې چې سلا مشورې ته اړتيا وي، بايد ځانونه تيار کړي، خو په ځوليزه توگه د ټاکنو او د رايو د راټولولو په ورځ بايد له تاسو سره يو ځای وي. د رايو د راټولولو او د رايو د ورکولو پرمهال د کوم فعاليت يا سوال د راپيداکيدو په اړه دوی کولی شي ستاسو ساتونکي وي او په انتخاباتي حوزو کې لاربښوونه او ستاسو استازيتوب وکړي. د انتخاباتي حوزو د ساتونکو په څير، بايد د رايپاڼو د صندوقونو د ليږد پرمهال حاضر وي او څو پرلپسې گړۍ بايد د کار لپاره چمتوالی ولري، په ځانگړې توگه کله چې څو ساعته ان تر سهاره پوره رای شميرنه دوام مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوه د اړتیا وړ موضوع رامطرح شي یا دا اړتیا وي چې تاسو خپل ځان په روښانه او د منلو وړ توګه خلکو ته شرح کړی، له حقوقپوهانو سره سلامشوره له تاسو سره مرسته کولی شي. کله چې تاسو د خپلو سیالانو د راټولو شویو بااعتباره اسنادو ارزونې ته د اړتیا، یا هغه چې ستاسو سیال ستاسو پر ضد څه ارایه کړي د هغه پر ضد اعتراض کوی، حقوقپوه باید ستاسو کلک مرستندوی وي.

کارپوه کسان د مختلفو ساحو له متخصصینو څخه راټول وي چې له تاسو سره د پالیسیو په جوړښت او د تګلارو په تنظیم کې مرسته کوي. له دوی څخه یو تن ښه اقتصادپوه ملګری هم کیدی شي، په دې سره تاسو کولی شی د عاید د ډیرولو لپاره د عمومي مارکیټ په بدلون کې ورسره مشوره وکړی. کیدای شي دغه کس ستاسو د لیسې د وخت ټولګیوال وي چې انجینر شوی دی چې یوې ځانګړې سیمې چې سیلاوونو وهلې ده ساختماني رخنو ته پاملرنه وکړي او په دې اړه له تاسو سره خپله مشوره شریکه کړي. یا د عامه ادارې یو پروفیسور وي چې کولی شي له تاسو سره په دې اړه مرسته وکړي چې د ښار بیروکراسي څرنګه مهندسي شي.

د پخلنځي الماري ستاسو د کورنۍ او خپلوانو له غړو څخه جوړه شوې ده چې کولی شي ستاسو د کاندیدۍ په اړه خپل صادقانه نظریات شریک کړي که څه هم لږ څه ترخه وي. ستاسو سیاسي کارپوه ښایي ډیر باحیا یا خجالتي انسان وي او دغه موضوعات درته مخامخ بیان نه کړلی شي.

**۴،۲ ستاسو تګلاره(ستراتیژي):**

ایا تاسو یوه تګلاره لری؟ په یو ټاکنیز فعالیت کې د نورو ډیری پخوانیو نوماندانو په شان داسې فکر ونه کړی چې ګنې دا کافي ده چې یوازې د کمپاین تګلاره، یانې هغه پلان چې څرنګه تاسو د یوه رسمي کمپاین په ترځ کې خپل ځان نندارې ته رایستلی، وړاندې کړی، بلکې تاسو د کمپاین د تګلارې ترڅنګ یوې سیاسي تګلارې ته هم اړتیا لری، یانې تاسو باید یو مشرح پلان ولری چې څرنګه له ټولو ټولنیزو، تاکتیکی او لوژیستیکی اړتیاوو سره سره یو سیاسي اقدام سره همغږی کړی.

سیاسي تګلاره یا کلي خط مشی له هغه چتر څخه عبارت ده چې اقتصادي پلان، د خلکو د تنظیم برنامه او د کمپاین (یا د اړیکو) طرح یې تر سیوري لاندې کار کوي. که څه هم ستاسو د موسسې په دننه کې به د ګڼو ډلو په لاس فرعي تګلارې هم پلې کیږي، مګر دا ډول تګلارې باید د یو او بل متمم او مرستندوی وي او له ټولیزې تګلارې سره مرسته کوي. دغه شان جوړښت تاسو په دې پوهوي چې له دې پرته بله یوه لاره هم نشته چې له فرعي تګلارو مو پیل کړې او د هغه په یو ځایوکیدو مو له هغه څخه یو سیاسي بستر جوړ کړی دی. دغه شان تاسو دا هم نه شی کولی چې د انتخاباتي فعالیتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو ځانګو کارونه سلاکارانو یا نورو ډلو ته وروسپاری او وروسته له هیڅ راز بدلون او توپیر پرته دغه پلانونه سره یو ځای کړی. دا خبره هم مهمه ده چې یو کلي خط مشی باید ولری یو کلي مسیر یا حرکت په لومړیو کې له تاسو سره مرسته کولی شي. هغه ډلې یا کسان چې ستاسو د انتخاباتي سیالیو د ګڼو ځانګو په جزیاتو کې په کار لګیا دي، هغوی به هم له دغه کلي حرکت څخه پیروي او پلویتوب کوي. دغه شان دا هم مهمه ده چې د کمپاین د حساسو ځانګو مسوول کسان لکه مالي، د سیاسي شبکو تنظیموونکي، او کمپاین کوونکي ( د اړیکو په شمول) د فرعي تګلارو د یو ځای کیدو لپاره باید سره یو ځای کښیني.

ستاسو کلي هغه تګلاره چې د خپل ځان، فرصتونو او خپلو سیالانو په اړه مو مخکې ارزولې، هغه به مشخصه شي. په دغه وخت کې په خپله سیمه کې سیاسي وضعیت په مشخصه توګه تصور کړی. دې ته په کتو، د خپل سیال د کمزوریتوب ټکي راوپلټی او وګوری چې له کومو دغه ټکیو څخه د ځان په ګټه کار اخستی شی. په عین وخت کې، دا هم وارزوی چې ستاسو د پیاوړتیا ټکی څه دي او د خپل سیال د کمزوریو ترڅنګ، له هغوی څخه د ځان په ګټه څرنګه استفاده کولی شی.

ستاسو ټیم باید د لاندو ځانګو له مسوولینو څخه جوړ شوی وي:

۱-عملیات

۲-مالي

۳-اړیکې یا ارتباطات

۴-ملاتړ: محققین، سیاسي ماهران، حقوقي ماهران، کارپوهان او سلاکاران

**۱،۴،۲ تګلاره ولې دومره مهمه ده؟**

ستاسو د کمپاین تګلاره ځکه دومره مهمه ده چې ستاسو د لارې د نقشې په شان په یوه پیچلي او سخت مسیر کې د یوه سیاسي ژوند لوري ته کار کوي. دغه تګلاره باید له جزیاتو سره په لیکلي ډول وي څو وکولی شي د واقعي کمپاین او سیاسي اماده ګۍ او پرمختګ اجرات د کمپاین پر وړاندې وارزوي. باتجربه او ازمویل شوي کارپوهان وایي چې د هر سیاسي کمپاین لپاره دا مهمه ده چې ان د اصلي سازمان په دننه کې، ځینې فعالیتونه باید وویشل شي. دغه موضوع په کمپاین کې د تخریبوونکو او زیات لګښت واله کمپاینونو مخه نیسي. د یوې قاعدې په توګه، باید یوازې درې کسان یانې د کمپاین مدیر یا د نږدې خپلوانو له ډلې یا سیاسي کارپوه او تاسو په خپله، په ټوله تګلاره پوه و اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله داسې هم کيږي چې سياسي کارپوه دې ستاسو د خپلوانو له ډلې څخه نه وي، خو ستاسو د تګلارې په اړه به ژور معلومات لري او د يو نامعلوم لامل له مخې، مخکې تر دې چې کمپاين مو بشپړ شي، ستاسو له کمپاين څخه وزي؟ په پيل کې بايد له تاسو سره يو سياسي متخصص سلاکار وي څو ستاسو د سياسي اړيکو ځانګړنې درته په ګوته کړي. ستاسو او د سلاکار ترمنځ موافقه به په معمولي بڼه د ليکنيز تړون په بڼه وي چې په هغه کې به د سلاکار د خدماتو جزيات بيان شوي وي او تاسو به هغه منلي او تاييد کړي وي. دغه (( تړون)) بايد داسې شرايط هم مهيا کړي چې د هغه پر بنسټ، سلاکار وکولی شي يا استعفا ورکړي او يا تاسو هم هغه له خپلې دندې ګوښه کړی شی. دا موضوع به هم په تړون کې وړانديز شوې وي چې سلاکار نه شي کولی په نوره پاتې موده کې ستاسو له سيال سره کار وکړي. هغه بايد هغه شبکه چې د رايه ورکوونکو لپاره مو تنظيم کړې، ګډوډه نه کړي، څکه تر بل هر څه وړاندې، نوموړي ستاسو له منابعو څخه په استفادې دغه شبکه رامنځته کړې وه. نو له همدې امله، که څه هم دی له تاسو سره اوس کار نه کوي خو دغه شبکه به تر تاسو پورې اړوند وي. هغه کلي کړنلاره چې ستاسو سلاکار د کار په جريان کې له تاسو سره مطرح کړې وه، هغه به هم تر تاسو پورې اړوند وي.

### ۲،۴،۲ غواړی څنګه دغه ټاکنې وګټی؟

دا چې د افغانستان لپاره لا اوس هم ټاکنې يوه نوې خبره ده، او ډيری شمير ځوانان له تيرو ټاکنو وروسته د رايه ورکولو قانوني سن ته رسيدلي، نو ښه به دا وي چې د تګلارې يوه برخه مو د رايه ورکولو د طرزالعمل د تشريح لپاره ځانګړی شوی وي. په داسې حال کې چې ددغه رايه ورکوونکو زده کړه د عامه خلکو د پاملرنې وړ ګرځي(له همدې امله په اساسي توګه دغه کار د مدني ټولنې د سازمانونو له خوا ترسره کيږي او ددغه کار د ترسره کولو لپاره دولت پيسې ورکوي)، خو ښايي کافي نه وي. دا به ستاسو په ګټه وي چې دغه شان فعاليتونو ته په خپل کمپاين کې ځای ورکړی او د خپل وخت او سرچينو يوه برخه نه يوازې د خلکو زده کړو ته ځانګړی کړی، بلکې په دې اړه چې څرنګه رايه وکاروئ، بايد په دې اړه هم پانګونه وکړئ. تر هر څه وړاندې، دغه کار تاسو د يوه داسې نوماند په توګه معرفي کوي چې رايه ورکوونکو او حقوقو ته يې متوجه يی.

ستاسو د رايه ورکوونکو د شبکو تشخيص او بسيجولو د پيل نکته ستاسو کورنۍ، دوستانو او ګاونډيانو ته له نږدې کسانو څخه عبارت ده. له دغه داخلي دايرې لوړ، تاسو بايد د سيمه ييزو بانفوذه کسانو لکه د کلي مشران(اربابان، خانان او نور) سيمه ييزه ملايان، د ښوونځيو ښوونکي، د ولسوالۍ کارکوونکي، د ولسوالۍ د شورا غړي او قبيلوي مشرانو د ملاتړ په راجلبولو باندې تمرکز وکړئ چې دغه کسان کولی شي د رايو بستې د خپلو قبيلوي او مذهبي مشترکاتو په اساس ستاسو لپاره راټولې کړي. پر دې سربيره، مسلکي شبکې هم د رايه ورکوونکو د ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره، په ځانګړې توګه که ستاسو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې مسلک وي چې خلک په منظمه توګه لکه داکټر يا استاد، له هغه سره سراو کار ولري، له تاسو سره مرسته کولی شي.

سره له دې چې ځينې مسلکي شبکې په ښاري سيمو کې ډېرې اغيزمنې پريوزي، په ځانګړې توګه پاس دوه ياد شوي مسلکونه، په ولسواليو کې ډېر ارزښت لري.

د قبيلوي او مذهبي مشرانو ملاتړ، که څه هم دا تر دې پورې اړه لري چې تاسې چيرته اوسيګی او څپله تګلاره څرنګه مطرح کوی، مګر بيا هم د ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره يو مهم اصل دی. خو په دې اړه ځينې ګواښونه او خنډونه هم شته: ښايي ځينې مذهبي مشران له ټاکنو سره له سره په ټکر کې وي او هغه له اسلام سره په تناقض کې وبولي. پر دې سربيره، قبيله په يوازې ځان نه شي کولی چې د ټاکنو بريالیتوب تضمين کړي. په ځانګړې توګه کله چې په يو شمير نوماندانو باندې د قوم مشران سلا ته سره ونه رسيګي او د قبيلې خلک هم تر ډيره د قبيلې د رايو په اړه يو له بله د نورو غونډو لپاره سيالي وکړي. پر دې علاوه، هميشه او په ټولو حالاتو کې رايه ورکوونکي د قبيلې د مشرانو له خوښې او لارښوونې سره سمه څپله رايه نه کاروي، بلکې په څپل زړه يې چې خوښه وي، هغه ته رايه ورکوي.

سياسي ګوندونه د نوماندانو لپاره د حمايتي شبکو په برابرولو کې مهم نقش او اغيز نه شي درلودلی. پر دې علاوه، سياسي ګوندونه کولی شي د نوماند د استازي په توګه د ګوند د يو کارکوونکي د استخدام له لارې او يا په ځينو حالاتو کې د پيسو په مټ د مرستو له لارې له مورد نظر نوماند څخه ملاتړ وکړي.

که چيرته تاسې د يوې غټې مذهبي يا قبيلوي ډلې يا يو ګوند له خوا په ټاکنو کې نوماند وی، تاسو د نوماند په توګه او هغه چې د يو لوی کمپاين د پليتابه مسوولين دي، بايد د نوماندانو د عمومي شميرې ترمنځ توازن په ډېر دقت سره مراعت کړي. د غيرقابل انتقال او واحدې هغه انتخاباتي رايې پر اساس چې په هغه کې يوازې د افرادو رايې شميرل کيږي، تاسو ته سلا او مشوره درکول کيږي چې بايد د رايو بستې سره منظمې کړی څو ستاسو له ډلې ډيری شمير نوماندان بريالیتوب ترلاسه کړي. له دې پرته، تاسو له (( ضايع شويو))رايو سره مخامخيږی، دارنګه چې که ستاسو ډيری ملاتړي ستاسو تر ټولو مشهوره نوماند ته رايه ورکړي، يوازې همدغه مشهوره کس به بريالی شوی وي، په داسې حال کې چې ددغه رايو ويش کولی شي ستاسو له ډلې دوه يا تر دوو زيات نوماندان بريالي کړي. له همدې امله چې څنګه نوماندانو نوم ليکنه وکړه، د يوې ډلې استازي(د ساري په ډول، په يوه ولايت کې د هر کلي مشران)بايد يو له بله سره وګوري او د نوماندانو يو ليست جوړ کړي او دا هم بايد وسنجوي چې دغه ډله به څومره رايې ترلاسه کړی شي. وروسته بايد تاسو څپله ډله وويشی او په دې تصميم ونيسی چې کوم لوری بايد کوم نوماند ته رايه ورکړي. لکه څنګه چې هيله ورته کيږي، دغه روش يو لړ صلاحيتونو او نظم او دسپلين ته د هغه نوماندانو او مشرانو له خوا اړتيا لري چې ځانونه يې نومولي نه دي. له دې پرته، په د ننه کې له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي ډلو سره د ډله ییزو شخړیو د سیالۍ د رامنځته کیدو احتمال تر خپل اغیز لاندې راولي او په پایله کې ښايي ډیر کم شمیر یا ښايي هیڅ څوکۍ ترلاسه نه کړی شی.

### ۳،۴،۲ تګلاره مو له څه شي څخه تشکیل شوې ده؟

ستاسو کلي تګلاره، پرته له دې چې تاسو د دغه تګلارې په کومو برخو د ټینګار هوډ لری یا کومې برخې ته یې لومړیتوب ورکوی، باید دریو اندیښنو ته ځواب ورکړی: د هغه اصلي رایو شمیره چې کولی شي تاسو بریالیتوب ته ورسوي، د همدغه رایو د ترلاسه کولو وسیله او هغه لارې چې د پایلو د اعلانیدو تر پایه، ستاسو رایې سنجش او وساتل شي. تاسې باید درې فرعي تګلوري ولری چې هغه ټول باید ستاسو د کلي طرح لپاره کار وکړي.

- ✓ مالي کړنلاره مو باید د اړتیا وړ مبلغ، په ځانګړې توګه د اعانو (مرستو)، او د تمویلوونکو د انواعو او نومونو او هغوی ته د رسیدلو لارې خپل هدف وټاکي. دغه ستراتیژي باید له ټولو جزیاتو سره دا ذکر کړي چې د اماده ګۍ په جریان، کمپاین او د رایو د راټولولو لپاره د هر فعالیت یا فرد یا ډلې لپاره څومره پیسې ورکړي. مالي پلان باید دا هم یاده کړي چې څومره مرستې باید نغدې او څومره مرستې باید په جنسي توګه وي.
- ✓ یوه ځواکمنه ستراتیژي باید په ټولو حوزو کې اصلي رایه ورکوونکي مشخص کړي، چې په هغه کې کورنۍ او د هغه مشران استخدام شي، څو هغه اصلي رایې لاسته راوړل شي. دغه پلان باید مشخصو مسایلو ته شامل وي چې تاسو باید په ټولو حوزو کې دغه پلان ته رسیده ګي وکړی شی. ستاسو د اړتیا وړ منابع او د ټاکنو په ورځ د هغه د بسیجولو لپاره هر ډول مشخصه اړتیا او دغه شان ستاسو د شروطو د سازمانولو ستراتیژي او د کمپاین په جریان کې د رضاکارانو استخدام، د رایه ورکولو د مراکزو د څارونکو زده کړه او د رایو راټولول او هغه سناریوګانې په بر کې رانغاړي چې تاسو ورسره سراو کار لری.
- ✓ د کمپاین ستراتیژي رایه ورکوونکو ته په یو اساسي داسې پیغام چې رایه ورکوونکو ته استول کیږي او یا یو داسې تصویر چې تاسو یې رامنځته کول غواړي، باید پیل شي. دغه پیغامونه باید د کمپاین په ټوله دوره کې او د رسمي کمپاین د دورې په اوږدو کې په ټولو نوښتونو او ابتکاراتو حمل شي. دغه ستراتیژي د هغه مسایلو په اړه چې تاسو یې ښايي په مشخصو وختونو کې مطرح کړی، باید د خلکو د شتون په زماني جدول کې مطرح کړی، او د هغه رسنیزو موسساتو په اړه چې ښايي د نندارې لپاره هغه هدف وګرځوی یا نور هغه ځایونه چې تاسو له هغه څخه ګټه پورته کولی شی، باید په تفصیل سره یې پکې ذکر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره تګلاره باید احتمالي پلانونو ته ورشامله وي، چې په دننه کې عین چوکاټ، د (( نویو درجه بندي)) هڅو سره چې مخکې په دې فصل کې ترې یادونه وشوه، له تاسو سره مرسته کولی شي. دا هم باید په ذهن کې ولرئ چې د الف، ب او ج پلانونه مختلفې پیښې دي چې کټ مټ یې له خط مشی څخه نشات کړی او په ټوله کې مختلفې تګلارې دي.

### ۴،۴،۲ دغه تګلاره باید څوک پلي کړي؟

لکه څنګه چې د دریو فرعي حل لارو تمرکز جوته کړه، هغه کسان چې دغه طرح پلي کوي، باید ستاسو مالي مدیر، سیاسي کارپوه او د اړیکو یا ارتباطاتو متخصص وي. دوی باید په روښانه توګه د خپلو ټیټ رتبه مامورینو(د کمپاین کارکوونکي، رضاکاران او ولسي مشران) مسوولیتونه شرح او روښانه کړي. دوی باید په دې اړه شفاف وي چې څرنګه او په څه ډول ټولو رایه ورکوونکو مخاطبانو ته داسې رسیده ګي کولی شي کومه چې په فرعي ستراتیژیو کې یې وړاندوینه شوې ده.

### ۵،۴،۲ کله دغه ستراتیژي خپلو مشخصو موخو ته رسیدلی شي؟

له دې امله چې په افغانستان کې لا اوس هم د ټاکنو زماني جدول تر یوه بریده د بدلون او تغییر وړ دی، نو هڅه وکړی څو د خپلې سیمې د سیاسي فعالیتونو د مطالعې، د خپلې کلي خط مشی د اهدافو د ټاکلو او د فرعي کړنلارو او د استخدام د پیل او د هر انتخاباتي فعالیت د هرې برخې لپاره پوره او کافي وخت په مصرف ورسوي. د انتخاباتي فعالیتونو د اړونده عمده کارونو لپاره، لکه غونډې، د مرستو او اعانو د راټولیدلو محفلونه، او د نظر له خاوندانو سره اړیکې او تعامل، د پوسټرونو د برخې د فعالینو یا څارونکو د زده کړو لپاره یو زماني جدول جوړ کړی. له ټاکنو سره په کمه فاصله کې، تاسو باید خپل د ملاتړ مرکزونه پیاوړي کړی او د خپل کمپاین په بریالیتوب لاس پورې کړی.

په دغه ټولو فرعي ستراتیژیو کې که مالي دي، یا تشکیلاتي یا کمپاین- باید د فعالیتونو، ذیدخله کسانو او اړتیاوو لپاره یو تفصیلي د زمان بندی جدول ترتیب کړی. تاسو باید تر کمپاین شپږ میاشتې مخکې پوه شی چې څومره مرستې او اعانې راټولې کړی؟ د ټاکنو تر ورځې پنځه میاشتې وړاندې څومره شمیره کورنۍ باید ستاسو د رایه ورکوونکو په شبکو کې شاملې شي؟ د عمده او مهمو جادو او سړکونو په اوږدو کې باید د کمپاین په اواسطو کې څو دوره پوسټرې راځوړند شي؟

د رسمي کمپاین تر دورې مخکې، د اماده ګۍ په لومړیو کې، باید تاسو یوه میاشتنۍ کلیزه جوړه کړی. کله چې کمپاین په رسمي توګه پیلیږي، عملیات او موخې باید په اونیزه بڼه زمان بندي شي. د رایو د راټولولو او کمپاین په دوو حیاتي وروستیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونيو کې، ورځني جدولونه او د مرکزي سياسي ټيم له خوا پرلپسې ارزونې ډيرې ضروري دي. تاسو بايد انعطاف پذير وی او تل د کله ناکله اړتياوو د انعطاف ناپذيره جدولونو د ماتولو لپاره تيار اوسی. تاسو بايد د کمپاين ترپيل وړاندې د يو داوطلب ټيم د جوړولو لپاره يو ورکشاپ ترسره کړی. دغه کار د ټيم په د ننه کې يووالی او اتحاد پياوړی کوي او د کمپاين په پيغامونو او ميتودونو کې تسلسل ساتي. کله چې د انتخاباتي نوماندانو د غړو ليست  د کمپاين فشارونه تاسو له ستونزو سره مخ کوي، دا به ښه او معقوله خبره وي چې توقف وکړی او خپلې هڅې سره شريکې کړی او خپل ټيم د دوهم ځل لپاره په يوه ښه يوه واحد لوري ته رهبري کړی.

**۳-ستاسو د انتخاباتي سيالۍ بهير**

هر نوماند چې د برياليتوب هيله لري نو له ستونزو ډک کار ته بايد غاړه کيږدي.

کيدای شي يو شمير داسې بختور خلک هم پيدا شي چې د سياسي، شتمنو يا نورو مشهورو کورنيو غـړي وي او پرتـه لـه دې چې ډيرې منډې تررړې وکړي ګټونکي شي.

حقيقت دادی چې د ګټنې لپاره کوم ځانګړی طرزالعمل نشته. يو شمير خلک په دې باور دی چـي پيسـې د ګټلـو اصـلي لاره ده او يو شمير نور بيا د انتخاباتو د ګټلو راز په شهرت کې ويني، مګر زياتر باتجربه کمپاين کوونکي په دې عقيده دي چې که واقعاً عملي پلان ولری او د هغه دوه برابره مو کار کړی وي نو فکر وکړئ چې لوبه تاسو ګټلې ده.

د يوه جدي کمپاين تر سره کول د چانس د ګټلو لوبه نه ده، هر کانديد هيله لري چې په عامه دفتر کـې ځـان تـه ځـای پيـدا کړي تر څو په سياست کې تغير راولي، نو د دې لپاره بايد د يوه بامعنی ريفورم وړاندې کول د خپل کمپـاين د دورې مرکـزي نقطه وګرځوي.

دغه دوره د يوه داسي جدي تياري غوښتونکې ده چې هر ډول سازش، هڅونو او لارښوونو ته شامل وي.

د کمپاين دوره د ځان ښودنې او نمايش يوه ديرش ورځنۍ دوره ده، تاسو بايد په دغه وخـت کـې کوښـښ وکـړئ چـې زيـات خلک په ځان رامات کړئ او د هغوی رايه خپله کړئ. د دې معنا داده چې تاسو له رايه ورکوونکو سره په تماس کې اوسـئ او هغوی په دې متقاعد کړئ چې د ټاکنو په ورځ تاسو ته رايه درکړي.

تاسو بايد د ګڼو هغو کارونو سره چې بايد انجام يې کړئ د خپلو منډو تررړو لپاره هم يوه واحده او منظمه تګلاره ولرئ.

لکه په مخکني فصل کې مو هم ورڅخه يادوه وکړه چې په لومړنيو اقداماتو لاس پورې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره خبره ده چې د ټاکنو اصلي هدف یوازې بریالي کیدل دي، په مسابقه کې همیشه د ډیرو رایو اخیستونکی بریالی وي، انتخابات او ټاکنې هم داسې یوه لوبه ده چې یوازې د ډیرو رایو اخیستونکی پکې بریالی پیژندل کیږي.

یو شمیر دوکه شوي او مشکوک خلک شاید فکر وکړي چې په دې ورحو کې د خلکو اقتصادي او امنیتي وضعیت وخیم دی نو د ګټلو راز په وسله او پیسه کې دی، خو داسې نه ده نن ورځ زیاتره خلک هغه کاندید ته رایه ورکوي چې د دوی لومړنۍ اړتیاوې په پام کې ونیسي، دغه راز د حکومت د خط مشی اهمیت هم په ټاکنیزه حوزه کې ډیر لږ وي.

ځینې کسان داسې انګیري چې که په یو چا باندې تهمت او تور ولګوي او د هغه شهرت ته زیان ورسوي نو انتخابات به وګټلی شي.

مګر دا لاره ستاسو لپاره وژونکې ده او ستاسو کامیابي تر سوال لاندې راولي او تاسو غوندې یو نوماند له خطر سره مواجه کوي، که د انتخاباتي ماحول له خواشیني کوونکو حقایقو څخه ډک او ناهیلی کوونکی هم وي بیا هم ټول بایلونکي نه دي.

له کورنیو جګړو وروسته د افغانستان لومړني انتخابات سړي ته د کامیابۍ امید ورکوي، که څه هم نا اندولي موجوده وه او دا تجربې بیا هم ممکن تکرار شي.

کیدای شي پرته له دې چې خپل اصول قرباني کړئ، یا مو نیک شهرت له منځه ولاړشي او یا کومه صدمه درته رسیږي ګټونکي شی، ډیرو همداسې کړي دي او هیڅ دلیل نشته چې تاسو هم داکار ونشی کړلی.

دغه فصل تاسو ته دا بیانوي چې څنګه یو اغیزمن او اخلاقي کمپاین وکړئ. د انتخاباتي سیالیو سیاست د خلکو د رام کولو علم او فن ته ورته دی، هغه نوماند چې خپل ځان رهبر بولي او د دیموکراسۍ په ټولو تمریناتو کې له موږ سره برخه اخلي:

ستاسو د [[کمپاین اجراء]] په دریو برخو ویشل شوې ده او هره یوه هغه جزئیات رانغاړي چې تاسو وته د یوه کاندید په توګه ته اړتیا لرئ.

لومړۍ برخه [[تاسو د نوماند په توګه]] دا هغه عنوان دی چې د تاسو په اړه د ټولو موضوعاتو وړاندیز کوي، دا هغه طریقه ده چې تاسو باید خبرې وکړئ.

دوهمه برخه [[د لوژستیک او عملیاتو څرنګوالی]] دا هغه امتحان شوې ستراتیژي ده چې د ( تبلیغاتي موادو تکمیل او توزیع او فعالیتونو د ترتیبولو) څخه بیا د کمپاین په وړاندې د سختو اندیښنو (د تمویل لارې چارې لټول، د بحراناتو ارزونه او تنظیم) په اړه تاسو ته معلومات درکوي.

دریمه برخه [[ارتباطات او اړیکې]] دا برخه ستاسو په کمپاین کې د مطبوعاتو په اهمیت، او داچې له مطبوعاتو سره څرنګه معامله وکړئ بحث کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتباطات یا اړیکې به تاستو ته د دې ښودنه وکړي چې کومې لویې رسنۍ ستاسو د اشتهاراتو بودجې تـه بیرتـه د یـوې لـویې برخې د راګرځیدو لاره هواره وي او څرنګه تاسو خپل ډیر ضروري مطبوعاتي نمایشات په وړیا توګه ترسره کولی شي.

څلورمه یا آخرنۍ برخه [[ د انتخاباتو ورځ او بعدي تعقیبـات]] دا برخـه لـه تاسـو سره پـه دې کـې مرسـته کـوي چـې د رایـې ورکونې په ورځ او له هغې وروسته به څه واقع کیږي او تاسو باید څـه وکـړئ تـر څـو پـه سـختۍ سره ستاسـو تـر لاسـه کـړی بریالیتوب ته ستاسو د رقیبانو لخوا د تقلب په صورت کې صدمه او زیان و نه رسیږي.

دغه فصل د کمپاین د بل هر پلان په څیر په انتخاباتي حوزو کې ستاسو د بریـالیتوب ضـمانت کـوي، پـه هـر حـال دا د یـوه اخلاقي او اغیزمن کمپاني په لور یو ګام دی او د اصلاح شوي سیاست په لور د امید یو قدم.

دلته د سیاسي جریاناتو او سیاستوالو په اړه د اتباعو په منځ کې ډیرې زیـاتې نیـوکې او ناخوښـۍ موجـودې دي، مګـر لـه دې سره سره افغانان بیا هم غواړي خپل رهبران وټاکي، نو په داسې حال کې ولس شاید له تاسو څخه د یوه صادقانه کمپـاین پـه ترسره کولو خوشاله شي.

### ۱،۳ تاسو د کاندید په توګه

د کمپاین په دوره کې هر څه له تاسو سره پیلیږي او کلیدي فرد د هر کمپاین مرکز دی، د غه بحث ستاسو، ستاسـو د کـاري ټیم او ستاسو د کمپاین په اړه دی نه ستاسو د کورنۍ.

تاسو د خپل بریالیتوب لپاره په ډیر احتیاط سره له پلان جوړونې وروسته د کمپاین د تر سره کولو لپاره تیار یاستئ، چې تمـه کیږي دغه کمپاین ډیر ستونزمن، ستومانه کوونکی، حتي بې خونده او سخت وي.

کلکه انتخاباتي مبارزه یقیناً چې ستاسو د سیاسي مانورو او مهارتونو له کبله ستایل کیږي او په دې برخه کې ستاسـو فکـري حضور ډیر مهم بلل کیږي.

انتخاباتي کمپاین د موضوعاتو، تصوراتو او شخصیتونو چوکاټ دی، تاسو باید دا ټول په یوه وخت تر پوښښ لاندې راولئ.

تاسو د ټولو موضوعاتو په مرکز کې یاستئ، په بل عبارت تاسو د یوه افسانوي شخص په څیر تر میکروسکوپ لاندې یاسـتئ مګر کاملاً لارښوونکي.

کمپاین ستاسو ځان ښودنه ده او دا چې په څه شکل یې تر سره کوئ ستاسو کار دی، د ټـیم نـور غـړي د ملاتـړ کوونکـو رول لري.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخابات د ادراک د قوي یوه سیالي ده، د دې لپاره چې رایه ورکوونکي څرنګه په دیرشو ورځو کې د ځپلې خوښې کاندیـدان وپیژني؟ له همدې امله د کمپاین په بهیر کې د لومړنیو تصوراتو وړاندې کول که څه هم چې غیر واقعي یا ساده وي ډیر مهم دي.

څیړنې ښیي چې په لومړنیو اوو دقیقو کې خلک د اشخاصو په اړه فکر کوي او دغه عملیه له ظاهري پېښې څخه پیلیږی.

**ریښتوني اوسئ**

یو نوماند باید لږ تر لږه د قبول وړ ظاهري څیره ولري، څو د رایه ورکوونکو توجه ځان ته جلب کړي.

تاسو د یوه نوماند په توګه کله چې له رایه ورکوونکو سره د ناستې ولاړې په حال کې وئ، یا له هغو سره قدم وهئ او له هغوی سره خبرې کوئ، رایه ورکوونکي تاسو ته پام کوي، که تاسو واقعاً له خپلو خلکو سره مینه لرئ، تاسو دا امتیاز لرئ چې هغوی ستاسو د نورو صفاتو په اړه هم فکر وکړي.

هغه کسانو ته چې تاسو ملاقات ورسره کـوئ جالبـه ده چـې نـوم یـا تخلـص یـې پـه یـاد ولـرئ او مسـتقیماً هغـوی مخاطـب وګرځوئ.

زیاتره باتجربه سیاستوال د خلکو د نومونو او تخلصونو په یاد لرلو کې ښه دي، ځکه هغوی، دا درک کړې ده چې هیڅ شی لـه دې ډیر نه دی شخصي چې یو څوک په خپل نوم یا تخلص سره یاد کړې،مګر یو شمیر نور بیا له ځانه سره داسې افـراد لـري چې د ملاقات پر مهال په غوږ کې پټ د هغه چا نوم یا تخلص ورته وایي چې خبرې ورسره کوي.

په غور سره د خپرو اوریدل، په زړه پورې والی او د خلکو له طبعې سره مطابق خپـرې کـول هغـه څـه دي چـې شـخص مهـم ښکاره کوي.

له دې سره سره د رایې اخیستلو لپاره تاسو باید د خپل قول او عمل دواړو لپاره واقعي طرحه ولـرئ، ځکـه رایـه ورکـوونکي پـه دې قادر دي چې دروغ ثابت کړلی شي.

په عین حال کې د کمپاین به جریان کې له احساساتو څخه ځان وساتئ، ځکه یقیناً داسې ډیر وختونه بـه راشـي چـې تاسـو خبل مزاج له لاسه ورکوئ.

د هغو خلکو له هر ډول ملاقاتونو څخه خوند واخلئ چې د ملاتړ هیله ترې لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( د انتخاباتي کمپاین د پرمخ بیولو لومړنی مقتضیات په لاندې ډول دي )**

خپلو مورد نظر اوریدونکو ته د وینا لپاره لاندې لارښوونې په پام کې ونیسئ.

١- اوریدونکي وپیژنئ.

٢- د وخت په اړه فکر وکړئ او موقع ته وګورئ.

٣- د وینا هدف مو معین کړئ.

٤- د وینا لپاره یوه داسې مرکزي موضوع وټاکئ چې په یوه جمله کې ولیکل، که د بیانیې مطلب یوه جمله کې وویل شي نو بیانیه به واضحه او عامه فهمه وي.

٥- د وینا لپاره مو وخت معین کړئ.

٦- د اوریدونکو د سوابقو په اړه مو څیړنه وکړئ.

٧- د انتخاب شوي مطلب په برخه کې د اوریدونکو خوښه په پام کې و نیسئ او حقائق ووایئ.

**یوه ښه بیانیه کومه ده؟**

ښه بیانیه هغه ده چې په ښه ډول وړاندې شي او داسې نظریات پکې راټول شوي وي چې په آسانه حافظې ته سپارل کیږي، یعنې منطقي قوت ولري، احساسات را جلب کړي، واضحه او جدي وي.

یوه ښه طرحه شوې بیانیه یوازې هغه وخت اغیزمنه ده چې په ښه ډول وړاندې شي.

تحقیقات ښیي چې خلک هغه څه چې اوري یې د هغو په پرته د هغه څه په مقابل کې ډېر عکس العمل ښیي چې ویني یې.

له رایه ورکوونکو سره همغږي پیدا کړئ.

انتخابات که څه هم چې ستاسو په اړه دي، مګر جریان یوازې د رایه ورکوونکو د موضوعاتو په اړه دي، له همدې کبله د هر کمپاین کامیابي تر هغې انتخاباتي حوزې پورې مربوطه ده چې وروستنی تصمیم نیسي.

د رایې په تثبیت کې تاسو باید د رایه ورکوونکو سره همغږي وئ.

د ارتباطاتو متخصصین د وینا لپاره یوه ډېره ښه قاعده بیانوي او هغه داچې ٦٠ فیصده واورئ او ٤٠ فیصده خبرې وکړئ، اوږده وینا علاوه پر دې چې اوریدونکي ستومانه کوي، بلکې د کاندید پیغام هم بې خونده کوي،(( د وینا ټکي وګورئ )).

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو په خپله انتخاباتي حوزه کې د خپل ځان د مطرح کولو لپاره دوې لارې لرئ، ويلو لپاره کلمات، او د حرکاتو لپاره نظريات.

څېړنې ثابتوي چې د وينا وال ۵۵ فيصده پيغام د حرکاتو، ۳۸ فيصده د لهجې او غږ په وسيله او يوازې ۷ فيصده نور د کلماتو او الفاظو په وسيله انتقالوي.

په کلي ډول اوريدونکي څو شيان په خپلو حافظو کې ساتي: د کانديد او ويناوال خط مشى يا تګلاره، څيره او قيافه، لهجه او غږ.

**له رايه ورکوونکو سره اړيکې نيول.**

که څه هم ستاسو سر په دې خلاص وي چې څرنګه له خلکو سره اړيکې وساتو، مثلاً تاسو کله معلمي يا ژورناليستي کړې وي، خو بيا هم ډير داسې تمرينات شته چې تاسو يې بايد تر سره کړئ.

کوښښ وکړئ چې خپله په خپل ورځني کمپاين کې حضور ولرئ او شخصاً بايد له خلکو سره په تماس کې و اوسئ، دغه راز هڅه وکړي د خپل انتخاباتي ټيم له غړو سره صميمي چلند ولرئ ځکه په انتخاباتي حوزه کې آمرانه وضعيت بې ګټې دی.

که د خپلو ملګرو يا خپل کمپاين د مسؤل سره، ۱۵ يا ۲۰ دقيقې د خپل ځان د معرفۍ، او خپلې تګلارې د تشريح او دلائلو لپاره وقف کړئ، نو وبه کولای شي له شويو قضاوتونو څخه ډير نور څه هم زده کړئ.

که د نهائي ارزونې پرمهال په موقع سره د يوه ښه اوريدونکي په وړاندې د مهم شي په اړه خبرې وکړئ نو مطمئن شئ چې د رايه ورکوونکو فکرونو او زړونو ته مو د ننوتلو کلی پيدا کړې ده.

د هغه څه په اړه وينا وکړئ چې ستاسو په فکر اوريدونکي يې له تاسو څخه هيله لري، ځکه خلک د بيلابيلو شيانو غوښتونکي وي نو له همدې کبله ده، چې تاسو بايد له اوريدونکو سره نيږدې تماس ولرئ او د هغوی د تمې او هيلې مطابق خبرې وکړئ.

له خپلې وينا وروسته د هغوی خبرې واورئ، ځکه ګډې انديښنې او معمولي تجربې کولای شي تاسو او ستاستو مؤکلين نور هم سره نيږدې کړي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که توانیدلی شئ چې د خپل انتخاباتي ټیم څارونکی د خپلې هرې وینا پر مهال له ځان سره ولرئ ترڅو ستاسو د وینا ثبت کړي او ستاسو د غونډو تصویرونه واخلي، ځکه دا کار د بیا نظر غوښتنې پر مهال له تاسو سره ډیره مرسته کولی شي، داکار دغه راز ستاسو انتخاباتي ټیم ته دا چانس ورکوي چې ستاسو د ضعف او قوت ټکي په نښه کړي، او د یوه پیغام رسوونکي په توګه ستاسو د پیغام رسولو په طریقه کې ښه والی راولي.

**روغ او سالم اوسئ**

زیاتره کاندیدان په خپله روغتیا پوره ډاډ لري خو کله چې په کمپاین باندې ډیر مشغولیږي نو دا یې له یاده وځي چې دغه له ستونزو ډک سیاسي تمرین کولی شي صحت ته یې زیان ورسوي.

ډیری کاندیدان د مبارزې او زیاتو چکچکو په روحیه لیرې لیرې ولسوالیو ته له ستونزو ډک سفرونه کوي، چې د همدې اوږدو او ستومانه کوونکو مزلونو له امله ناروغه کیږي، انتخابات که څه هم چې د بریالیتوب لپاره دي، خو دومره ارزښت شاید ونلري چې له امله یې خپل صحت خراب او له خطرناکو عواقبو سره ځانونه مخامخ کړئ.

باتجربه سیاستوال سپارښتنه کوي چې صحت له سیاست څخه مه قرباني کوئ، د دې لپاره چې تاسو یو ښه کمپاین ترسره کړای شئ، لاندې ټکي په پام کې ونیسئ.

۱- سګرټ په څکوئ ځکه دا ستاسو ځواک کموي.

۲- تمرین مو باید له کمپاین سره مناسب وي خو له دې ټولو سره روحي فشارونه باید له ځانه لیرې کړئ.

۳- د ورځې په اوږدو کې کافي اوبه وڅښئ تر څو مو له تندې او سټریا مخنیوی وشي.

٤- کافي استراحت وکړئ.

٥- که ممکنه وي ځینې وختونه مو له کورنۍ سره تیر کړئ، که څه هم چې د عامه پوهاوي په اساس دا اسانه کار نه دی،مګر له دې ټولو سره ستونزمن کارونه باید بې ثمره نه وي.

تاسو باید له خپلې کامیابۍ څخه خوند واخلئ او د خدمت جوګه و اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲,۳ انتقالات او عملیات**

له ځان ښودنې او تبارز څخه په تمرکز باندې او له ملاتړ کوونکو سره تر يوې محکمې رابطې وروسته هغه څه چې په دې برخه کې ډير ضروري دی، هغه دادی چې د انتخاباتي سيالۍ په دوران کې دخپلو سيستمونو له ځای پر ځای والي ځانونه مطمئن کړئ.

د پلان په جوړيدو او تياري په نيولو سره يوازې نيم کار ترسره شوی دی، مگر نيمه نوره برخه د پلان عملي کول دي.

په مؤثر او ځيرکانه ډول سره د انساني او مالي سرچينو کارول هغه څه دي چې د هرې سياسي مبارزې د ژوندانه د وينې حيثيت لري.

د مبارزې د ټيم د غړو د خواهشاتو او غوښتنو تنظيم او د هغوی د مهارتونو او وړتياوو لوړول بل هغه څه دي چې په تاکنيزو سياليو کې کليدي رول لري.

د انتخاباتي سياليو د ټيم د اعضاؤ ترمنځ ټکر د تعجب خبره نه ده، ځکه غښتلی کانديد بايد داسې باتجربه او متفکر افراد راټول او يو له بل سره وصل کړي چې خپل ځانونه او افکار ديته وقف کړي چې څرنگه کولای شي په احسنه وجه دغه لوبه وگټي.

لکه په مخکني فصل کې چې وويل شول، له دې کبله چې فعاليتونه په مطلوب ډول ويشل کيږي، نو د ټيم غړي کيدای شي له يو بل سره سيالي وکړي او ياهم له يو بل سره گډ کار. په هر صورت د دوی تر منځ فکري ټکر د تعجب خبره نه ده.

دا د تاسو او يا هم ستاسو د کمپاين د تنظيمونکي دنده ده تر څو د خپلو په لاس کې شته منابعو له مهارتونو څخه اعظمي استفاده وکړي.

د انتقالاتو او عملياتو عمده عنصر د پلان او برنامې مطابق فعاليتونه دي، کله چې حقيقي فعاليتونه د ستراتيژۍ له تگلارو سره يو ځای پلي کيږي، نو د کمپاين تحريري پلان بايد د کمپاين په دوره کې په بهتره توگه و آزمايل شي.

اکثره وخت د انتخاباتي ټيم د غړو ترمنځ د ضعيفې همغږۍ له امله هغه څه چې توقع يې کيږي لاس ته نشي- راوړل کيدلی، خو که د دغو غړو ترمنځ همغږي قوي وي، کمپاين به هم مؤثر وي اوهغه څه چې د لاس ته راوړلو هيله يې کيږي په ډيره ښه توگه ترلاسه کيدلی شي.

د انتخاباتي سياليو د څو لومړنيو ورځو لپاره معياري طرزالعمل داسې دی چې خپله سيالي د داسې يوه محفل په جوړولو پيل کړئ چې په رسنيو کې نشر شي، د دې لپاره مهمه داده چې وگرځئ، له اجتماعي ټولنو سره خبرې وکړئ او که د ائتلاف امکان وي، ائتلاف وکړئ او د خپلو پلويانو تصديقي اسناد راټول کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوشمير کانديدان حتی مخکې له دې چې د خپل کمپاين رسمي دوره پيل کړي په ډېر احتياط سره دا کارونه ترسره کوي.

که په ښار کې اوسی نو کوښښ وکړئ چې انټرنيټي پاڼه ولرئ، تاسو کولای شی په دغه ويبپاڼه کې بيلابيل شيان لکه خپلو فعاليتونه، تګلاره، بيوګرافي، د ورځنيو مسائلو په اړه خپل دريځ، له رسنيو سره اړيکې، د خپل کمپاين د مرکزونو په اړه معلومات او داسې ډېر نور څه ځای پر ځای کړئ چې ستاسو له انتخاباتي کمپاين سره مرسته کولی شي.

انټرنيټي جامعه که څه هم کوچنۍ ده او انټرنيټ ته د لاس رسي امکانات ډېر کم دي، مګر له هيواد څخه بهر د هغو افغانانو د ملاتړ لپاره چې کولای شي دلته په هيواد کې د ننه خپلو اقاربو ته توصيه او لارښوونه وکړي چې تاسو ته رايه درکړي.

لنډه داچې د داسې يوې ويبپاڼې درلودل ستاسو له کمپاين سره ډېره مرسته کولای شي.

د مالي لارو چارو برابرول هغه انديښنه ده چې نه يوازې د کمپاين په پيل کې، بلکې د هغه تر پايه د يوې انديښنې په توګه مطرح ده، ځکه تاسو د خپل کمپاين په بهير کې په دوامداره توګه د خپلو عملياتو او فعاليتونو د تمويل لپاره پيسو ته ضرورت لرئ، نو له همدې کبله د خپل کمپاين له بالقوه اعانه ورکوونکو سره اړيکه او ملاقاتونه بايد د خپل انتخاباتي کمپاين د فعاليتونو يوه برخه وګرځوئ.

د کمپاين مالي مسؤل يا کارپوه مو بايد د مالي لارو چارو د زياتوالي له ضرورت څخه خبر درکړي.

په ياد ولرئ چې د مالي امکاناتو زياتوالی ستاسو د کمپاين د موادو د توزيع لپاره هم يو ښه فرصت په لاس درکوي.

د انتخاباتي سياليو سازمان مو بايد ځواب ورکوونکی وي او د سازمان مشرتابه دې هغو کسانو ته د ټګ لاره پرانيزي چې بيکاره دي او يا له توقع کم کار کوي.

د نوماند مهال ويش

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د کمپاین په منځ کې | پای ته نیژدې | پای | د ټاکنو ورځ |
|---|---|---|---|
| له رایه ورکوونکو سره په عامه غونډو، ناستو او محفلونو کې خپل ګډون تنظیمول | ځان ښودنه او تظاهر پراخول | د هڅونو حفظ | رایې ورکولو ته د خپلو پلویانو هڅول |
| د مطبوعاتي اعلامیو نشرول او له رسنیو سره مرکې | د مطبوعاتي اعلامیو او پیغامونو دوامداره نشر | کور په کور ګرځیدل او زړه نازړه رایه ورکوونکي هڅول | د رایې ورکولو پر مهال ډاډ څرګندول |
| د ملاتړ کوونکو رابلل او مالي امکاناتو د زیاتوالي لپاره مکاتیب صادرول | تر وسه وسه د مال امکاناتو زیاتول | له ټولو ملاتړ کوونکو سره تماس نیول او په وخت سره رایې اچونې ته یې متوجه کول | د رایې اچونې مرکزونو ته د خپلو پلویانو د رسولو لپاره کسان تعینول |
| له زړه نازړه رایه ورکوونکو سره اړیکې نیول او د هغوی د پیژندنې لپاره په ګاونډ کې غونډې جوړول | د ملاتړو سمبالښت تر څو د انتخاباتو ورځ ښه په یاد ولري او د وختي رایې ورکولو امکانات ورته برابرول | د ټولو حملو لپاره ځواب ویل او بیانیې نشرول | د رایه ورکوونکو څارل |
| له نامه سره د آشنایۍ په هدف د علایمو او موادو توزیع کول | | | هغو ملاتړو ته بلنه ورکول چې رایې یې نه دې اچولې |

**ستاسو د ټاکنیزو سیالیو فعالیتونه**

که پخوانی سیاستوال یاستی یا د انتخاباتو یو مینه وال، کمپاین مو په یوه مجلل محفل سره پیل کړئ.

په سیاست کې د یوه کاندید په توګه ستاسو ورګډیدل یوه لویه خبره ده، چې د یوه کنفرانس او غونډې په جوړولو سره یې باید اعلان کړئ.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاکنو په کمیسیون کې د خپلې نوماندۍ د سند ثبت او له هغه وروسته په رسمي ډول ځان اعلانول یو له بل سره ډیر تفاوت لري.

هغه ډله چې د انتخاباتو کمیسیون ته ستاسو ملتیا کوي له تاسو څخه د یوه عمومي حمایت ښکارندویه ده، مګر هغه ډله چې ستاسو د نوماندۍ په مطبوعاتي غونډه کې برخه اخلي د هغه ځواک ښکارندویي کوي چې ستاسو تر شا دی.

د کمپاین په بهیر کې د بریالیتوب اغیزمنه لار خصوصاً په لیرې پرتو سیمو کې مخامخ خبرې اترې دي، ځکه دا د جذباتو او ملایماتو د اظهار غوره موقع ده، د سیاسي خلکو پیژندنه او له هغو سره تعلقات په یوازې ډول د رایې اخیستو لاره نشي۔ بلل کیدلی، همیشه د ویلو لپاره نوي شی شته او کله مو چې د پیغام د انتقال لپاره زمینه برابریده له لاسه یې مه ورکوئ.

تاسو کولای شي خپل کمپاین د خپل کور او کلي له ماحول څخه پیل او په تدریج سره یې پراخ کړئ، ځکه ګاونډیان تاسو پیژني او په اسانه قناعت ورکولی شئ.

یوه محرکه قوه شته چې د هرکاندید د کمپاین د پیلولو لپاره مناسبه ده، تاسو که دغه قوه لرئ نو د رایو غوښتنو پرمهال لاندې شیان له ځان سره ولرئ.

۱- له ویناوو سره مل د کمپاین یوه بسته، نښانونه او د ټاکنو متعلق نور ضروریات.

۲- په دروازو او دیوالونو باندې ځوړندیدونکې لیکنې او پوسټرونه چې په عامه او له ازدحام څخه ډکو ځایونو کې یې ولګوئ.

د کور په کور لیدو کتو په بهیر کې تاسو باید له بزګرانو، ځوانانو، مدني ټولنو، مذهبي سازمانونو او اشخاصو، ښځو او محلي دولتي چارواکو سره لیده کاته وکړئ.

هغه ناستې چې په ټولنه کې د بیلابیلو اهدافو په خاطر جوړیږي دا ډول ناستې په ځانګړو اندیښنو باندې د بحث او د هغو په وړاندې د موقف د غوره والي او کمپاین د موادو د توزیع لپاره ډیر مناسب ځایونه دي.

تاسو کولای شئ د یوه منظم مهال ویش له لارې غونډې دائرې کړئ او له دې لارې د خپل ملاتړ ساحه پراخه کړئ.

د یوه پراخ پوښښ لپاره باید یو داسې بااعتماده تیم ولرئ چې په هغو کې دا استعداد وي تر څو ستاسو د فعالیتونو تاثیر دوه برابره کړي او د ټاکنیزو سیالیو دورې له تاسو سره یوځای او یاهم له تاسو پرته پرمخ بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیاسي غونډې**

سیاسي غونډې په هره کچه چې وي د رایه ورکوونکو د جذب مرکز ګڼل کیږي، د کمپاین لپاره د یوه داسې تحریـري پـلان د درلودلو په صورت کې چې په هغه کې وختونه مشخص او د ټیمونو دندې واضحې شوې وي، د تصـادفي او غـیر پـلان شـویو غونډو د جوړیدو لپاره هیڅ ډول معذرت نه منل کیږي، تاسو باید د خپلو تثبیت شویو ګروپونو له شمیر سره سـم د سـیاسي غونډو د جوړیدو پلان طرح کړی او دغه غونډې له سوداګرو، ښځو، ځوانانو او مذهبي سازمانونو سره پرمخ یوسئ.

ډیری زړه نازړه او متردد رایه ورکوونکي لیوالتیا لري هغـه کاندیـد تـه رایـه ورکـړي چـې د بریـالیتوب چـانس یـې زیـات وي، سیاسي غونډې علاوه پردې چې تاسو پیاوړي معرفي کوي ملاتـړ کوونکـو تـه مـو احسـاس ورکـوي چـې تاسـو یـو همدفمنـد شخص یاستی.

که غواړی چې خپل ظهور دوه برابره کړئ د ویناوو له ویډیو او سي ډي ګانو څخه استفاده وکړئ او د خلکـو پـه مـنځ کـې یـې تکثیر کړئ، دا کیدای شي د هغو اشخاصو د جذب لپاره ډیره مؤثره لار وي چې معمولاً په غونـډو کـې برخـه نشيـ اخیسـتی، لکه ښځې، بوډاګان او داسې نور.

په مکرر او مجدد ډول غونډې جوړول ډیر مصارف غواړي چې له هغو څخه باید ډه ډه وشي مګـر پـه ( جومـات او یـا د کـوم ملاتړي په کور کې ) په وړو غونډو کې ګډون تاسو ته د را څرګندیدلو هغه چانس درکوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ، که د نویو غونډو د تنظیم او جوړولو امکانات لرئ نو د انتخاباتي کمپاین ډله مو باید له لاندېنیو ټکیو څخه اطمنان حاصل کړي:

۱- د غونډې د جوړیدو له اجازې، که غونډه په یوه عام محل او معین زمان کې وي.

۲- د کاندیدانو له حضور څخه.

۳- د غږ او سونډ له ښه سیستم څخه: که یوه ډیره له ځوږ او شور څخه ډکه وینا هم وي خو د سـمعي سیسـتم د ضـعف لـه امله شاید بې ګټې وي، او دغه راز هغه چانس چې د نظر د اظهار لپاره موجود دی ضایع کیږي او د ټاکنیز کمپاین د ټـیم بـې کفایتي ښیي.

٤- له یوه تور ښه راغلاست او هرکلي څخه: په احساساتو باندې را وستل، ځکه تاسو د هر فرد انتخاب یاستی نو کیدای شي د بیلابیلو سکتورونو استازي په کتارونو کې ودریږي او ستاسو هرکلی وکړي.

د داسې حالاتو لپاره اکثره وخت بانفوذه او محترم شخصیتونه را غوښتل کیږي ترڅـو لـه کاندیـد سره د سـتیژ پـه څنـګ کـې کیني.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- له یوه متوازن پروګرام څخه: د یوې ډلې د علاقې د ساتلو او یا هم د هغوی له حضور څخه د اطمنـان حاصـلولو پـه هـدف هغوی ته د بوختوونکو معلوماتو ورکول، د یوه کاندید لپاره شاید تر ټولو دا سـتومانه کـوونکې وي چـې لـه یـوې ورې او خوبـه ورې ډلې سر ه خبرې کوي، په هر حال له دې کبله چې تاسو د ننداري ستوری یاستی نور ویناوال او میلمانه باید د ستیژ پـه سر ستاسو د ملاتړ کوونکو رول ترسره کړي او د غونډې د برخه والو د علاقي د سـاتلو او پـه خلکـو کـې ستاسـو لپـاره د ځـای پیداکولو لپاره کار وکړي.

٦- له انتقالاتو او غذا څخه: تاسو ښايي تمه وکړئ چې خلک راټول شي نو هغو ته ډوډۍ هم ورکړئ، دا هغه مصارف دي چـې له کبله یې  په غونډو ډیر لګښت راځي او هغه نوماندان چې ضروري مالي سرچینې نه لري له هغو څخه ډه ډه کـوي، حتـی د ټاکنو په وروستۍ ورځ د لوی شمیر رایه ورکوونکو انتقال هم یوه ستونزه ده چې که لـه عهـدې یـې وتـلی شی دا کـار وکـړئ او ملاتړي مو د رایې اچونې مرکزونو ته ولیږدوئ.

**سنتي فعالیتونه**

تاسو شاید په غونډو سربیره له یو شمیر هغو سیاستوالو سره ناستو ولاړو ته هم توجه واړوئ چې د ټولنیزو تعهـداتو پـه څـیر دي، دا ډول فعالیتونه ممکن په کال کې یو ځل هغه هم پـه داسې وخـت کـې واقـع شي چې د کمپـاین دوره نـه وي، مګـر د تجربو خاوندان د دا ډول فعالیتونو او داسې فرصتونو موندل یو غیر رسمي کمپاین بولي او په اهمیت یې ټینګار کوي.

په دا ډول مجالسو کې ګډون تنها د انتخاباتو په کال ستاسو مؤکلینو ته د دې ښوودنه کوي چې تاسو د یوه سیاستوال د یاور په توګه ووینې.

پام مو وي چې داډول ملاقاتونه او لیده کاته اوږدې سیاسي پانګې اچونې دي چې ګټه یې تاسو ته وروسته په لاس درځي.

۱- په ودونو او محفلونو کې ګډون: تاسو باید په خصوصي ودونو او لمانځنو کې زیات وخت تیر نه کړی، ځکـه دا کیـدای شي ستاسو قیمتي وخت په داسې څه تیر کړي چې ضرورت يې نشته.

۲- په مهمو ځایونو کې تاسو ته د یوه میلمه یا ویناوال په توګه بلنه درکول: زیاتره کاندیدانو ته په بیلابیلـو ځـایونو او وختونـو کې د میلمه یا ویناوال په توګه دعوت ورکول کیږي، دا هغه واقعي فرصتونه دي چې د عوامو په منځ کې تاسو مطرح کوي، نو تاسو باید له داسې موقع څخه استفاده وکړئ او د خپلو سیالانو په تورنولو وخت تیر نه کړئ.

۳- جنازو ته تګ: د تدفین مراسم د کمپاین ځای نه دی، بهتره داده چې د خپل ژوند له ملګرې سره متوفی ته دوعا وکړئ، له کورنۍ سره یې خواخوږي وښیئ او د سیمه ایز رواج له ترسره کولو وروسته محل ترک کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو کولای شئ د سترې مشې پر مهال د هغو کسانو لاس کیکاږئ چې تاسو پیژني، د تدفین په یو شمیر ورو مراسمو کې د جروبحث موضوعات پیدا کیږي، نو ښه خبره داده چې تاسو یوداسې څوک پیدا کړئ چې ستاسو ملاتړ وکړي.

د تدفین په مراسمو کې معمولاً ډیر څه نشي کیدلی نو کوښښ وکړئ ستاسو په اړه خپاره شوي ناقص معلومات اصلاح کړئ.

**سیاسي نښې نښانې**

په کمپاین کې ټول هغه څه چې د خلکو توجه راجلبوي مالي مصارف نه غواړي، تاسو باید د خپلو سیاسي نښو نښانو په جوړولوو کې له خپل نوښت څخه کار واخلئ او کمپاین تر سره کوونکي باید په دې مطمئن شي چې د کمپاین په ټولو وسائلو کې هماغه مشخصې نښې نښاني او رنګونه کارول شوي دي.

تاسو باید داسې سمبول یا نښه غوره کړئ چې ستاسو له کرکټر او تګلارې سره اړخ ولګوي او په ډیر لږ مصرف جوړ شي، خلاصه داچې دغه نښه یا سمبول د کمپاین یوه ډیره مؤثره وسیله کیدلی شي.

کله چې تاسو له خپلو مؤکلینوسره لیده کاته او خبرې اترې کوئ کیسه وکړئ، داسې کیسه چې ستاسو کرکټر او تګلاره په ځان کې را ونغاړي، دا کار له تاسو سره په دې کې مرسته کوي چې مؤکلین کله ستاسو سمبول او نښې نښانې ویني تاسو او ستاسو سیاسي پروګرام به یې ذهن ته لاره کوي، او دا خپله د ولسي جرګې د یو شمیر کاندیدانو لپاره کامیابي ده.

د نښانو او رنګونو د غوره والي په څیر، د یوه جذاب موزیک غوره والی هم تاسو او ستاسو سیاسي پروګرام د خلکو ذهنونو ته سپاري، کله چې د کمپاین وخت ختم شي، تاسو لاهم کولی شئ د هماغه موزیک د غږولو له لارې خپل کمپاین ته ادامه ورکړئ.

**۲,۲,۳ ستاسو د انتخاباتي سیالۍ اسباب او لوازم**

د اعلاناتو د ابتدایي وسائلو درلودل د رایه ورکوونکو لپاره د کاندیدانو ممد مواد بلل کیږي، پوسټرونه، کیسټې، سرښناک کاغذونه، زیر پیرانۍ او د کمپاین نور طباعتي مواد هغه څه دي چې تاسو کار ورڅخه اخستلای شئ، دغه وسائل د یوه کاندید د ځواک ښودنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځينې حالاتو کې دغه مواد يوه اجمالي قضاوت ته لاره پرانيزي او د دې ښودنه کوي چې کانديد په خپل ځان باندې متکي دی.

د کمپاين مواد د انتخاباتو د بودجې يوه زياته برخه احتواء کوي، تاسو بايد ځان محدود کړئ او ځينې مواد په خپله تيار کړئ لکه ( ستاسو سمبول او نښه ).

که د لګښتونو په اړه کومه نظريه نه لرئ، نو څو معتبرې او د ډاډ وړ نشريې ولټوئ.

د ۲۰۰۵ کال په انتخاباتو کې کانديدانو راپور ورکړی چې د ۱۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰۰ پورې پوسټرونو پـه شـاوخوا کـې يـې د تقريبـاً ۱۰۰۰ ډالرو په ارزښت سره په رنګه ډول چاپ کړي دي.

د زياتره کانديدانو يوه تيروتنه داوه چې د لږ او کوچنيو پوسټرونو د چاپ فرمايش يې ورکړی وو، او وروسته کلـه چـې کمپـاين خپل اوج ته ورسيد دوی خپل پوسټرونه زياتول، مګر دا هغه وخت وو چې د موادو چاپ ډير لګښت غوښتلو.

ښکاره ده چې تاسو په کم مصرفه پاڼو کې په تور اوسپين شکل سره هم خپل پوسټرونه چاپولی شئ، ليکن تاسـو بايـد پـه دې پوه وئ چې دا کار د پيسو د کمښت له امله کوئ، په داسې حالاتو کې غوره داده چې دا ډول پوسټرونه چاپ نه کړئ او پيسې يې د نورو مصارفو لپاره وساتئ، لکه د رسمي بلنو د کارتونو، معلوماتي پاڼو او خپلو نښو او سمبولونو د جوړولو لپاره.

**پوسټرونه**

له پوسټرونو پرته هيڅ کانديد کمپاين نشي کولی، پوسټرونه ستاسو ښوودنه کوي او هر سياستوال دا هيله لري چې خلک يـې دې له نامه سره آشنا وي، خاصتاً هغه کسان چې بې سواده دي.

پوسټرونه رايه ورکوونکي ستاسو له نامه، څيرې او انتخاباتي نښې سره آشنا کوي او دا دری هغه څـه دي چـې د انتخابـاتو پـه ورځ کله چې رايه ورکوونکي غواړي د رايې ورکولو په پاڼو کې د خپلـې خوښـې کانديـد پيـدا کـړي، ډيـر مهـم او اسـاسي ګڼـل کيږي.

سربيره پر دې، انتخاباتي پوسټرونه ټولو ولسواليو ته ستاسو د ورپيژندنې مهمه لاره ده.

اغيزمن سياسي پوسټرونه د معينو معيارونو ساتنه کوي نو بايد چې:

۱- ساده وي څو د رايه ورکوونکي په آسانۍ سره په پيغام پوه شي.

۲- ربط ولري څو رايه ورکوونکي د کانديد له پيغام سره روږدي شي.

۳- جذاب وي څو د رايه ورکوونکو توجه جلب کړي، او پيغام هميشنی پاتې شي.

٤- باوري کوونکی وي تر څو رايه ورکوونکي مطمئن شي او عملي کار وکړي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مطلوبې نتيجې لپاره ځانونه باوري کړئ چې د کمپاين پوسترونه مو له لاندينيو قواعدو سره سم ډيزاين شوي دي:

١- په غټو توريو ليکل شوي وي په داسې شکل چې اووه کسان لاسونه سره ونيسي وروستنی نفر يې وليدلی شي.

٢- په داسې رنګ ليکل شوي وي ستاسو د کمپاين پيژندنه پرې کيږي.

٣- ستاسو له عکسونو او نښانونو سره ډيزاين شوي وي.

٤- له پنځو څخه تر اوو کلمو پورې پکې کاريدلې وي.

٥- املايي او ګرامري غلطۍ ونلري.

د ښو ډيزاين شويو پوسترونو توليد د ګټلو په لور لومړنی قدم دی، د پوسترونو توزيع که ډيره مهمه نه ده مګر اهميت يې هم کم نه دی.

د پوسترونو نښلولو ته د دوو ټيمونو په وسيله تر هغه ادامه ورکړئ چې له يو بل سره مخامخ شوي نه دي څو په دې توګه ستاسو له متداومې مشاهدې اطمنان حاصل شي.

پوسترونه بايد د ښارونو په مرکزونو، اصلي واټونو، څلور لارو ته نيژدې او داسې ځايونو کې ولګول شي چې وار له مخه د خلکو سترګې پرې لګيږي او د خلکو د ګڼې ګوڼې ځايونه وي.

د خپل کمپاين ټيم ته دا ور وربښيئ چې په کومو ځايونو کې پوسترونه ولګوي او له کومو ځايونو څخه ډه ډه وکړي تر څو له قانون څخه تخطي ونه کړي او د رايه ورکوونکو د خپګان لامل و نه ګرځي، مخصوصاً د رايې ورکونې د مرکز په ١٠٠ متری کې بايد ستاسو هيڅ پوستر نه وي لکه چې په دې اړه د ټاکنو د قانون ٤٣مه ماده هم ټينګار کوي.

يوه مهمه مسئله چې د انتخاباتو له پای ته رسيدو وروسته يې په ياد ولرئ داده چې:

د انتخاباتو له تيريدو وروسته د يوې اونۍ يا حد اکثر دوو اونيوپه بهير کې خپل ټول پوسترونه راټول کړئ، علاوه پر دې ادبي کار دادی چې د پوسترونو له ټولولو وروسته د هغه په ځای (( له تاسو څخه مننه)) وليکئ.

د دې کار په ترسره کولو سره به رايه ورکوونکي حتماً ستاسو ستاينه کوي او حتی هغه کسان چې تاسو ته يې رايه هم نه ده درکړې، تاسو به ديوه ښه کانديد په صفت په خپلو ذهنونو کې ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمپاین ادبیات**

د کمپاین ادبیات د سیاسي اعلاناتو یو خورا پخوانی او مؤثر شکل دی، د کمپاین ادبیات د یوه نوماند علاقه او تعهدات په ډاګه کوي او دهغه د افکارو او قدرت ښودنه کوي، په بل عبارت دا ستاسو پیغام دی چې کور په کور او په غونډو کې یې باید توزیع کړئ او لاندې سوالونو ته ځواب ووایي.

۱- زه ولې د دې چوکۍ د ترلاسه کولو کوښښ کوم؟

ځواب باید ستاسو له شخصیت، مسلک او ستاسو له سیاسي سوابقو سره ګډوي، ستاسو اهداف تاسو د خپلې وظیفې د بهترین فرد په حیث معرفي کوي.

۲- رایه اچوونکي باید ولې توجه وکړي؟

د دې پوښتنې ځواب مو هم باید له منطق او موقف سره داسې ارتباط ولري چې په انتتخابوونکي هیئت باندې اغیزه ولري.

۳- هغه اساسي موضوعات کوم دي چې انتخابوونکی هیئت ورسره مخامخ کیدونکی دی، او ولې هغه دوی ته مهم دی؟

د کمپاین د ادبیاتو ساده برخه هغه کوچنۍ معلوماتي پاڼې دي چې ستاسو د خط مشی اساسي ټکي پکې ځای شوي وي.

دغه وړې پاڼې کیدای شي د یوه داسې پسټ کارت په څیر وي چې په هغو کې د کمپاین دری کلیدي پیغامونو او تصویر ته ځای ورکړل شوی وي.

معلوماتي پاڼې د یوې معمولي پاڼې په اندازه وي چې دواړه مخونه یې چاپ شوي وي.

لنډه داچې هغه رسمي کارتونه چې ستاسو تصویر، نوم او نښان پکې وي له رایه ورکوونکو سره مرسته کوي تر څو تاسو د رایې اچونې په پاڼو کې د ټاکنو په ورځ پیدا کړي.

**۳٫۲٫۳ د مالي امکاناتو پیدا کول**

د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې یو شمیر کاندیدانو د کمپاین د مصارفو لپاره د انتخاباتو د قانون لخوا له ټاکل شویو ( ۷۵۰۰۰۰ ) افغانیو چې د (۱۵۰۰۰) امریکایي ډالرو معادل وې زیاتې پیسې درلودې، خو په عین حال کې یو شمیر نورو د خپلو کمپاینونو لپاره ډیرې لږ پیسې لرلې.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ده چې د مالي امکاناتو د برابرولو خبره مطرح کيږي، د مالي لارو چارو برابرول په دې معنی نه دي چې ګواکي د چوکي د لاس ته راوړلو لپاره رشوت ورکي يا د چوکۍ حاکميت پلوري، بلکې د انتخاباتو د ديموکراتيکې پروسې د حمايت او د بيلابيلو احزابو له مابين څخه د يوه حزب، يا بيلابيلو اشخاصو له منځ څخه د يوه شخص د انتخاب لپاره يوه قانوني لاره ده.

که تاسو ملي شورا ته د تلو تصميم نو له تمويلوونکو څخه بايد د بودجې او مالي امکاناتو د تر لاسه کولو په لټه کې وئ.

دلته دوې مسئلې مهمې دي:

۱- مالي وجوه: معنا داچې له ميملستيا نيولې د پوسټرو تر تيارولو، د معلوماتي پاڼو د کاپي کولو، زيرپيرانيو د جوړولو او آن د انتخاباتو په ورځ د انتقالاتو لپاره تاسو بايد واقعي پيسې ولګوئ.

۲- له رشوت او بډو د هر ډول ادعاء څخه د ليرې والي لپاره بايد په دې اړه چې ستاسو ملاتړ له کوم لوري دی، شفاف او روښانه وي.

که تاسو د بودجې د لاس ته راوړلو روښانه ريکارډ ولری نو له خلکو سره يې هم شريک کړئ او له خپلو سيالانو وغواړئ چې ستاسو په څير عمل وکړي.

د قوي پايې په لرلو سره کولای شئ په اسانۍ سره د خپل کمپاين لپاره بودجه ترلاسه کړئ ځکه تاسو د رايو له شمير مخکې ګټونکي بلل کيږئ، نو که غواړئ چې ګټونکي شئ په دې عمل وکړئ.

يو شمير خلک په دې باور دي چې د کمپاين مالي لارې چارې د کمپاين د تمويل سبب کيږي.

له دې کبله چې پيسې مهمې او په سختۍ سره پيداکيدونکې منبع ده، هغه په سمه توګه ولګوئ، مهم موضوعات او فعاليتونه شته دي چې هغو ته د تياري لپاره بايد پيسې مصرف کړئ.

د کمپاين د تمويل لپاره دوه شيان ( پيسې او وخت ) ډير مهم دي، پيسو ته بايد د ضرورت په هره لحظه کې د لاس رسي وي او که داسې ونشي بې له شکه چې د کمپاين د دريدو او ټيم د روحيې د تخريب باعث کيږي.

د همدې دليل په اساس د مالي وجوهو لپاره بايد داسې پلان جوړ شي چې ګام په ګام د مالي منابعو د زياتوالي لارې چارې پکې په نښه شوې وي.

اضافي منابع که څه هم چې پيسې نه وي د کانديد د پيغام په رسولو کې مرسته کوي او د لازيات ملاتړ د انسجام باعث کيږي.

د مصارفو د پروژې جوړونې او واقعي بودجې ترتيب ته د مالي لارو په پيدا کولو کې سمه توجه وکړئ او له قرضو ډه ډه وکړئ.

www.ketabton.com د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه له هغه څه زیات زیرمه کړئ چې شاید مصرف شي، د تجارانو له نظره د انتخاباتو پرمهال نرخونه جګیږي، بناءً تاسو اړ یاستئ چې د مصارفو د پروژې د جوړولو پرمهال لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

دکمپاین مرکز موباید هیڅکله له پیسو نه وي خالي، او مالي آمر مو په خپل پلان کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

۱- د دفتر کرایه، کلي مصارف، مواد او تجهیزات.

۲- د کارکوونکو معاشونه ( که د تادیه وړ وي ).

۳- د پوسټرونو او نورو چاپي نشراتو لګښتونه.

٤- د بودجې د لاس ته راوړنې د فعالیتونو مصارف.

۵- د کمپاین د سفرونو مصارف.

٦- داوطبانه سفارشي ضروریات.

۷- مطبوعات.

۸- د ټاکنو په ورځ د رایه ورکوونکو انسجام او تنظیم.

د کمپاین بودجه که د کمپاین د ټولو لګښونو لپاره بسنه نه کوي نو مصارف مو په څو برخو وویشئ، مثلاً آیا د ځینو غونډو له جوړولو پرته کولای شئ کمپاین وکړئ؟

آیا زیات شمیر پوسټرونه چاپولی شئ؟

د کومو حوزو له مشرانو سره باید لومړی ملاقاتونه وشي؟

د کمپاین مرستندویانو ته راپور باید د هغوی ترمشخصې اعانې پورې محدود وي، داکیدای شي په تاسو او ستاسو پـه تګـلاره باندې د ډاډ او منني یوه لاره وي، دغه راز دیته هم لاره هواره کړي چې تمویلونکي په تاسو باور وکړي او ستاسو بعدي کمپاین ته تیار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٤،۲،۳ دفاعي نقش

سیاست خپله توره څیره زیاتره وخت په وروستیو لحظاتو کې ښکاره کوي، مایوسي او ناهیلي کاندیدان په داسې وختونو کې خصوصاً هغ وخت چې په خپله ماتې باندې باوري شي په منفي تبلیغاتو لاس پورې کوي او آن چې د ډیرو تاوتریخ وزمه او ناخوښه کوونکو کارونو لاس پورې کوي.

نو څنګه باید له هغوی سره مقابله وشي؟

### له منفي کمپاینونو او ځانګړو عملیاتو سره معامله کول

منفي کمپاینونه د دوو مشخصو غبرګونونو پایله یا غوښتنه ده. دا د نوماند بایللو یا ګټلو ته ګټه نه رسوي. که د حقایقو او اساسي مسایلو په اساس وي، د شخصي متجاوز کړنو او ناسمو اعمالو په اړه د ټاکنو د کارکوونکو د خبرولو لپاره د مرستو یوه قانوني وسیله ده چې د سیاسی دفتر د لاسته راوړلو په فکر کې وي. دا نه یوازې د ګمراهۍ او د شهرت د له منځه تلو باعث ګرځي، بلکې ښایي ستاسو پلویان یا رایه ورکوونکي کړلاري یا احساساتي کړي. کله چې د یو منفي کمپاین له خوځښت سره مخ شوی، ښه به دا وي چې په دقیقو او ژورو معلوماتو ډډه ولګوی او کله چې مو ستراتیژي په ټېټه د تهمت په لور درومي، له کړۍ بهر اوسی. که دا کار بې بنسټه وي، د منفي اعلان موضوع ښایي د یو ماته خوړلي حیوان په توګه وي او د رایه ورکوونکو د همدردۍ د لاسته راوړلو لامل شي.

د بریدونو وروستي وختونه ډیری مهال په سروې ګانو کې د وروسته پاتې کاندیدانو له خوا، د مسیر د بیا راګرځولو په هیله ترسره کیږي. مطالعات ښیي چې دغه ډول ستراتیژۍ ډیرې کمې اغیزمنې او موثرې وي ځکه رایه ورکوونکي دغه کار د دوی د غولولو لپاره د یو سوقصد په شان بولي. که دغه پیښې واقعیت ولري، ولې دغه پیښې داسې وختو کې راڅرګندې شوې، چې د منفي کمپاین موخه په ډیره سختۍ سره ځوابګویه ده؟ لاتراوسه هم، د پیاوړي او مخکښ سیال د چپه کولو لپاره د یو نوماند په وروستي وخت کې د منفي کمپاین د حملو یا تورو تبلیغاتو د درولو لپاره څه په لاس کې نشته. نو له همدې امله، ښه به دا وي چې په کمپاین کې د درېیمې ډلې دغه شان حملو او بریدونو ته تیار او پیشبین و اوسو.

په وروستیو شیبو کې له حملو څخه د خوندي پاتې کیدو لپاره باید څه وشي؟

د دې لپاره لاندې څو توصیو ته پام وکړئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ټول هغه منفي معلومات چې ستاسو حریفان ترې استفاده کوي نشر کړئ، دا شاید ستاسو هغو پخوانیو کړنو تـه د تشریح او معذرت غوښتلو چانس په لاس درکړي چې پخوانۍ مرتکب شوي یاست.

رایه ورکوونکو زیاتره د هغو منفي حملو په اړه عکس العمل ښيي چې مخکې يې د هغو په برخه کې اطلاع حاصله کړې ده.

مطبوعات هغو معلوماتو ته ډیره لیوالتیا لري چې تکراري نه وي.

۲- هیڅکله د خپلو رقیبانو ادعاء بې ځوابه مه پریږدئ، د رقیبانو په حملو باندې سترګې پټول ستاسو کمپاین ته زیان رسوي، د اتهاماتو په ځواب کې دومره معلومات وړاندې کړئ چې حمله دفعه کړي، تشریحات مو بایـد پـه آسانۍ سره قابل د فهم وي.

رټ انکار اغیزمن نه دی او کله خـو د اتهامـاتو د منلـو یـوه لاره هـم بلـل کیـږي، جروبحـث بیرتـه د کمپـاین یـا خپـل پیغـام موضوعاتو ته واړوئ.

۳- هیڅکله دروغ مه وایاست، د ضرورت په وخت کې خپله تیروتنه او نیمګړتیـا ومنـئ لـیکن هغـه سـتونزه چـې موجـوده ده شرحه یې کړئ.

٤- ترحملې وروسته یوه سریعه سـتراتیژي اجـراء کـړئ او مسـئلې تـه د ځـواب ویلـو پـه هـدف عمـومي ناسـتې او مطبوعـاتي کنفرانس دایر کړئ.

٥- یو داسې ویاند وټاکئ چې په هماغه لحظه د اتهاماتو د ځواب ویلو لپاره تیار وي.

٦- ځان داسې عیار کړئ چې مطبوعات په هر وخت کې تاسـو تـه لاس رسـئ ولـري، کـه رقیبـان مـو حقـائق پـه ناسـمه توګـه وړاندې کوي تاسو هغه مطبوعاتو ته افشاء کړئ.

۷- د یوې حملې ځواب هیڅکله په مهربانۍ مه ورکوئ، ځکه کیدای شي دوباره تازه او اصلي حملو ته د ځواب نه ویلو باعـث شي، علاوه پردې ستاسو او ستاسو د کمپاین د تګ لوري د تغییر باعث کیدلی شي.

**ټاکنیز تاوتریخوالی**

امنیتي اندیښنې په جدي ډول محدودونکې دي، د نوي افغان حکومت له راتګ ډیره وخت نه وو تـیر شـوی چـې پـه ۲۰۰٤ او ۲۰۰٥ کلونو کې په جنوب او جنوب غربي ولایتونو کې امنیتي اندیښنې د انتخاباتي کمپاینونو د فعالیتونو مانع شوې.

د رسمي سرچینو په قول د انتخاباتي پروسې په بهیر کې ۸ تنو کاندیدانو، د انتخابـاتو کـارکوونکو او کاتبـانو خپـل ژوندونـه لـه لاسه ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاوه پر دې دکاندیدانو تهدید بیلابیلو شکلونه پیدا کړل، تر ټولو مهمـه دا ده چې د یـوه تهدیـد احسـاس هـم د یـوه واقعـي تهدید په څیر مخرب کیدلی شي.

له امنیتي اوضاع څخه باید احوال ولرئ، حتی که امنیتي ځواکونو په خپلو قاغوشونو کې تګ راتګ هم کوي مګر تاسو بایـد د یوه کاندید په توګه د لاندې لارو څخه په استفادې سره د خپل ځان حفاظت وکړئ:

۱- د خپلو دیموکراتیکو مقاصدو کې ربښتیني اوسئ او په کمپاني کې له سیالو ملیشو ځان لیرې وساتئ.

۲- له مدني سازمانونو او مذهبي اشخاصو څخه د ملاتړ او د انتخاباتي بهیر د تهدید او خشونت پـه برخـه کـې د خلکـو توجـه راجلب کړئ.

۳- مطبوعات خبرکړئ او له هغو څخه استفاده وکړئ، له قدرت څخه د ناوړه استفادې پـه واقعـوکي د مطبوعـاتو خـبرول ډیـر مؤثر دي او دا کار مجرمان له دې راګرځوي چې په جرم او فریب لاس پورې کړي.

٤- د ضرورت په وخت کې له هغو مقاماتو مرسته وغواړئ چې د اردو او پولیسو کنترول یې په لاس کې دی.

۵- له ملګرو ملتونو سره تماس ونیسئ څکه د انتخاباتي تاوتریخوالي په صورت کې د نړیوالو ځارونکو ټیمونه دا توان لري چې مسؤل مقامات خبر کړي او له هغوی سره دا موضوع شریکه کړي.

### ۵,۲,۳ د پرمختګ ارزونه

په هر کمپاین کې د دوهم ځلي نظر پوښتنې د نظریې میکانیزم د دې لپاره ډیر مهم دی چې خپـل ټـول فعالیتونـه او د خپـل ټیم مؤثریت و ارزول شي.

نظر پوښتنه د دې چانس درکوي چې آیا ستاسو ټیم په سم لوري روان دی او که نه هسې لوبه پرمخ وړي او د مبارزې شکل باید تغیر ومومي.

دوې لارې شته چې تاسو کولای شئ چې د هغو په وسیله د خپل کمپاین پراختیا وټاکئ.

### په هماغه لحظه چک کول

د کمپاین آمرین همیشه د کمپاین د ټیم تر ټولو ډیر خوشبین اعضاء وي، د هغوی په څیړنو کې تاسو تقریبـاً همیشـه داسـې یو څوک یاستئ چې ضربه واردوئ، لیکن دا موضوع همیشه حقیقت نه لري، دا شاید ستاسو برې وي چې خپل شـیان چـک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ، مخصوصاً په هغو ځايونو کې چې د ترديد وړ وي، دا ثابته کړئ چې په کار اچـول شـوي منـابع كـافي دي او پـه مسـاوي توګه مصرفيږي.

د وسائلو چک کول د کمپاين مرکزي قرار گاه ته له هغه شي د انحراف مفکوره ورکوي چې پلان شوي دي.

**ساحوي گزارشونه:**

د ساحوي آمرينو گزارشونه بايد ستاسو د کمپاين مرکز په خپلوسيمو کې د کمپاين له موثريت او پرمختګ څخه خبر کړي او ستراتيژي جوړوونکي ته بايد دا مفکوره ورکړي چې نور بايد څه وشي او کمپاين په څه ډول پرمخ ولاړ شي لکه آني چک کول، دغه فعاليت د بصري تفتيش په ګډون له رايه ورکوونکو، سيمه ايزو اوسيدونکو او کليدي مخبرانو سره خبرو ته کولو تـه هـم شامل دی.

داسې څارونکي استخدام کړئ چې خلکو د حملو، او هغو خلکو په مقابل کې چې خلک ستاسو په ضد تحريک کوي د اجنټانو په توګه کار، او له تاسو څخه دفاع وکړي.

دغه اجنټان به دغه راز له کوچنۍ سطحه هم ساحوي راپورونه او ارزونې برابروي.

د مشاهداتي مسابقې وضعيت د څارنې او ارزونې د بهير يوه برخه ده، او د همدغه فعاليت له مخې په مطبوعـاتو کې ستاسـو ورځنی حضور سنجول کيږي.

د لاس ته راغلو اهدافو ارزونه بايد لاندې ټکيو ته شامله وي:

١- په محلاتو کې د ورځني حضور لپاره: کيسټې، پوسټرونه، سرينبناکې پاڼې، معلوماتي پاڼې او نور ...

٢- په فضاء کې د ورځني حضور لپاره: په دوو يا زياتو راديويي سټيشنونو او خبري راديوګانو کې ظهور.

٣- په نشراتو کې د ورځني حضور لپاره: په مطبوعاتو کې په وخت سره د پيښو له عکسونو سره د ښو ليکل شويو مقالو نشر.

٤- د راپور ورکړل شويو رايو د ترلاسه کولو ابتکار، لکه د مخورو خلکو موافقه او د مذهبي ډلو په شمول لـه بيلابيلـو سـازمانونو سره ملا قاتونه.

په ياد مو وي چې د مطبوعاتي کمپاين ټول مؤثريت يوازې په ساحو کې د څارونکو د ارزونې په اساس نه دی، سروې ګـانو دا ښـودلې ده چـې لـه رقيبـانو څخـه ستاسـو وړانـدې والی د پروسـې د تکميـل لپـاره دی، ستاسـو طبقـه بنـدې هميشـه د دې تعيينوونکې ده چې آيا ستاسو پيغام د مخامخ خبرو اترو له لارې نقل شوی او که د مطبوعاتو، يا داچې له دې ټولـو سره هـيڅ تړاو نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمپاين کميټه**

ستاسو د سازمان پاليسي جوړونکې برخه يا د کمپاين کميټه د زياتره ستونزمنو دندو د اجراء او پروګرامونو ارزونه په غاړه لري.

په کميټه کې بايد تاسو خپله او ستاسو د ټولو، حقوقي، عملياتي، مالي، تحقيقاتي برخو آمرين، يعني د کمپاين عمومي آمرين برخه ولري، او د کمپاين عمومي آمرين به د رئيس د معاون په توګه کارکوي.

کميټه به د عملياتو د ټولو لارښوونو، د فعاليتونو د پروګرامونو، د کمپاين د ستراتيژۍ، د پرمختګ د حرکاتو او تر انتخاباتو پورې د ټولو هغو اړونده شيانو مسؤليت په غاړه لري چې د لارښوونې پاليسۍ ته ضرورت لري.

د کمپاين د ټولو فعاليتونو څخه د اطلاع په هدف تاسو بايد په اونۍ کې يوځل د کمپاين د مرکزي قرار ګاه څخه د عملياتو راپور تر لاسه کړي او لازم تصاميم ونيسئ.

شايد د يوه ډير با مصرفه او ښه پلان سره سره بياهم ساحوي نظر پوښتنې وښيي چې ستاسو سيال تر تاسو مخکې دی، نو د داسې يوې منفي نتيجې سره د مخامخ کيدو په صورت کې يو وار بيا د خپل ټيم له غړو سره د ترسيماتو تختې ته ولاړ شئ او د خپل پلان اجرائيوي لارې له نظر تيرې کړئ، او له نظر پوښتنې سره سم د خپل کمپاين په اجرائيوي لارو کې تعديلات راولئ.

که تاسو په دې فکر کې ياست چې په انتخاباتو کې موکاميابي امکان نه لري، په دې صورت کې دسيالۍ پريښودل يوه له هغو لارو څخه ده چې عمل پرې وکړئ او خپل ضرر راکم کړئ، ليکن که تاسو خپل کمپاين سم ترسره کړی وي نو د سيالۍ پريښودل بايد وروستی انتخاب وي.

که د کمپاين په بهير کې ستونزې پيدا کيږي، کميته مو بايد د اشتباهاتو په پيداکولو کې فعاله وي او لازمي اصلاحات رامنځ ته کړي.

تاسو بايد سختو سوالونو ته صادقانه ځواب ولرئ، د مثال په توګه:

تاسو د خلکو له ډلو سره په رابطه کې ياستئ؟

آيا واړه جوړجاړي ستونزه حل کولای شي؟

که ځواب منفي وي په دې حالت کې بايد خپله تګلاره تغيير کړئ.

آيا د پيسو کمښت يوه ستونزه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که داسې وي تاسو باید زر ترزره هغه پیدا کړئ، د ځار او ارزونې په صورت کې باید ستونزې په نښه شي او فوراً د حل لارې ورته ولټول شي، ځیني وخت کیدای شي ستونزه د کاري ټیم د غړو په تغییر او تبدیل او په مناسب ځای کې د هر شخص په ګومارنې سره حل شي.

مګر د کامیابۍ په وړاندې ځیني داسې ستونزې هم ممکن پیدا شي چې د یوه لوی او جدي تغییر غوښتونکې وي، مثلاً د بې کفایتۍ، خیانت او داسې نورو له امله د یو شمیر کلیدي کارکوونکو لیرې کول.

د ستونزو حل لارې باید پرته له دې چې څومره مشکلې دي زر تر زره تطبیق شي، باید له یاده ونه باسئ چې د کمپاین پرمهال تاسو له وخت سره سیالي کوئ.

### ۳،۳ اړیکې او ارتباطات

مطبوعاتو په دې وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د پام وړ ځای نیولي، که ښه وي او که بد، اخبار او نورو معلومات په چاپي، غږیزو او تصویري رسنیو سربیره په دې انټر نیټ هم خپریږي چې د رسنیو دغه پراخ فعالیت د خلکو په افکارو او اعمالو هم تاثیر کړی وي، خصوصاً په لویو ښارونو کې چې د هر ډول رسنیو د فعالیت سیمې دي.

کور په کور ګرځیدل او له خپلو پلانونو او پروګرامونو څخه د خلکو خبرول کافي نه دي په تیره بیا په هغه لنډ او تنګ وخت کې ستاسو انتخاباتي کمپاین لپاره ټاکل شوی دی، نو تاسو مطبوعاتو ته ضرورت لرئ او مطبوعات له تاسو سره هغو کسانو ته د پیغام په رسولو کې خورا لویه مرسته کوي چې د لاس ورکولو چانس مو نه دی ور سره پیدا کړی او یا هم نه یاستئ توانیدلي چې لنډه وینا ورته وکړئ.

له ورځپاڼو، تلویزیون او رادیو څخه استفاده وکړئ او له دې لارې د رایه ورکوونکو د جلبولو چانس لاس ته راوړئ.

### له مطبوعاتو سره ښه روابط

اضافي وخت له مطبوعاتو سره د ښو روابطو په تامین کې مؤثر دی، په دې اساس لاندې څو ټکي په پام کې ونیسئ.

۱- د مطبوعاتو له کارکوونکو سره ښه روابطه پیدا کړئ او هغه وپالئ.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- منصفانه عمل وکړئ، معنا داچې له مطبوعاتو سره د معاملې په وخت کې يو ته په بل ترجيح مه ورکوئ.

۳- کله چې له تاسو نظر پوښتل کيږي دقيق ځواب ورکړئ ځکه دا ورپيا تبليغات دي چې له لاسه بايد ورنه کړل شي.

٤- که په فوري ډول د مطبوعاتو لخوا مطرح شوي سوال ته ځواب نه لرئ او د حقايقو راټولولو ته ضرورت لرئ، د خبريال شماره واخلئ او د ځواب تر موندنې وروسته له هغه سره اړيکه ونيسئ، په هر صورت بې ځوابه يې مه پريږدئ.

٥- مطبوعات هميشه د اخبار په لټه کې وي نو خپلو فعاليتونو ته خبري ارزښت ورکړئ.

٦- رايه ورکوونکو ته د رسيدو په هدف له هر ډول مطبوعاتو څخه استفاده وکړئ.

له مطبوعاتو سره ښه روابط درلودل اوږده مهال پانگه اچونه ده، خبريالان هغه کانديدان ذهن ته سپاري چې دوی يې له پوهنې او درک څخه متاثر شوي وي او له دوی سره شوی عمل له خپلو نورو همکارانو سره شريکوي.

په بحراني حالاتو کې ستاستو مطبوعاتي دوستان کولای شي ژورناليستانو ته د مناسبو مشورو په ورکولو سره هغوی ستاسو لور ته رامات کړي او په ورپيا ډول ستاسو مرستندوی وگرځي.

**سياسي اعلانات**

د انتخاباتو قانون ټولو کانديدانو ته مساويانه زماني او مهلتي لاس رسي ته لاره هواره وي ( په عادالانه ډول او بې طرفۍ سره د نظرياتو د نشرولو په برخه کې ٥٠مه ماده ).

ټوليزې رسنۍ لکه ( راديو، تلويزيون او چاپي نشرات ) بايد د کانديدانو تگلارې، ليدلوري او اهداف په منصفانه او بې غرضه توگه نشر کړي.

په تيرو انتخاباتو کې له دغې مادې څخه په پيروۍ د کمپاين د دورې په څلورو اونيو کې د ولسي جرگې ټولو کانديدانو ته د پنځو دقيقو راديويي او دوو دقيقو تلويزيوني خبرو چې دوه ځله نشريدلې وړانديز شوی وو، د ولايتي شوراگانو لپاره د څلورو دقيقو راديويي او دوو دقيقو تلويزيوني خبرو چې د يوځل نشر وړانديز شوی وو.

د انتخاباتو خپلواک کميسيون بايد د انتخاباتو له تاريخ څخه لږ تر لږه شپيته ورځې مخکې د رسنيو د څارنې يو کميسيون جوړ کړي تر څو د انخاباتي کمپاين له دورې څخه د مطبوعاتو د مساويانه پوښښ څارنه او په دې برخه کې شکايتونو ته رسيدگي وکړي.

سره له دې چې زياتره خلک د ورپيا نشراتو لپاره وړانديز شوې دقيقې مؤثرې نه گڼي، ليکن دا تاسو ته د دې فرصت درکوي چې رايه ورکوونکو ته خپل ځان او اساسنامه ور وپيژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار دغه راز له تاسو سره د هغو اشخاصو په جلب کې هم مؤثره ونډه دلودلی شي چې د ويناوو په عام محل کې ګډون نشي کولی.

غوره ده چې په دې برخه کې لاندې ټکي په پام کې ونيسئ:

- ♣ په موزون او کرار آواز سره خبرې وکړئ ( ډيرې تيزې نه ).
- ♣ د تکيه کلام له تکرار څخه ځان وساتئ.
- ♣ د کمپاين تر دريو موضوعاتو پورې ځان محدود کړئ.

**ستاسو د رسنۍ انتخاب**

له کومو رسنيو څخه، څه وخت او څه ډول استفاده بايد ستاسو د کمپاين د عمومي پلان يوه برخه وي، د هيواد په اکثره سيمو کې چې بريښنا پکې نه شته، راديو ته د ټولو مطبوعاتو په پرتله د اوريدو او پيغام رسولو د ملي او معمولي وسيلې په سترګه کتل کيږي.

**راديو**

د راديو شهرت خورا پخوانی او د جامعې د ټولو برخو له اقتصادي وضعيت سره مناسبت لري.

راديو د ټولو رسنيو په پرتله د انتخاباتي کمپاين او رايه ورکوونکو د جلب لپاره مهمه رسنۍ ده، راديو دغه راز تر انتخاباتو پورې د مربوطه موضوعاتو د نشر قابليت هم لري او په يوه وخت کې ګڼ شمير رايه ورکوونکو ته د پيغام رسولو امکانات لري.

د خپلې کانديدۍ اعلان مو بايد راډيو ستيشنونو ته ورکړئ څکه له يوې ځانګړې رسنې سره معامله او د نورو پريښودل به نا مناسب عمل وي.

د اعلاناتو او انتشاراتو په څنګ کې هڅه وکړئ چې له راډيو ګانو سره مرکې وکړي او د کمپاين درى پيغامونه مو خلکو ته ورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیو کې له ځنډ پرته حضور ستاسو له نامه سره د خلکو د آشنایي ډېره غوره لار ده، دغه راز له دې لارې تاسو کولای شئ اوریدونکي د خپل کمپاین له فعالیتونو څخه خبر کړې.

## تلویزیون

د انخاباتي اعلاناتو لپاره له تلویزیون څخه استفاده ډېره قیمته تمامیږي، مګر نورې لارې هم شته چې له تاسو سره په تلویزیون کې د ښکاره کیدو لپاره مرسته کوي.

په تلویزیونونو کې په وړیا ډول د ښکاره کیدو یوه لار د رسنیو اړایستل دي تر څو له تاسو سره مرکې وکړي او ستاسو فعالیتونه یا د موضوعاتو په اړه ستاسو دریځ د هغو خبرونو په شان وانګیري چې خلکو ته د اوریدلو ارزښت لري.

هیڅ شی دومره جالب نه دې لکه د مرکه کیدونکي ښکلی اواز، کوښښ وکړئ هغه مرکه کیدونکی تاسو و اوسئ، تاسو له همدې امله ممکن پروګرامونو ته دعوت شی، مګر د دغه موقف او په تلویزیون کې د وړیا ښکاره کیدو د مؤفقیت د لاس ته راوړلو وروسته په یاد ولرئ چې د مرکې لپاره تیاری ونیسئ او په دې فکر وکړئ چې د اوریدونکو له یوې ځانګړې ډلې غوړرونو ته څرنګه د خپل کمپاین دری عمده ټکي ور ورسوئ.

هیره مو هنه وي چې په تلویزیون کې د هیڅ خبرې لپاره دوهم چانس نشته، خصوصاً په هغو مرکو کې چې په ژوندۍ توګه خپریږي.

په دې ځای کې ستاسو ټول ځوابونه وروستني دي.

## چاپي مطبوعات

هغه دلیل چې په رادیو او تلویزیون کې د را څرګندیدو لپاره وړاندې کیږي په چاپي مطبوعاتو کې هم د تطبیق وړ دی، تلویزیون او رادیو خپل زیاتره موضوعات له ورځپاڼو او مجلو څخه تر لاسه کوي، که تاسو په ورځپاڼه کې ځان ته ځای پیدا کړلی شی، نو تلویزیوني او رادیویي مصاحبې ته د لارې پیدا کولو چانس مو زیات دی.

له خپل مطبوعاتي مسؤل څخه وغواړئ چې د نشر لپاره ښکلې او موزونې مقالې ولیکي، په عین حال کې ایډیټور هم مسؤلیت لري چې ضعیفه مقالې نشر نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورځپاڼو او مجلو کې دغه راز د خپل عکس له چاپ څخه هم ځان مطمئن کړئ، د هغو محافلو لیست وغواړئ چې مطبوعات او عکاسان یې کوَر کوي، وروسته تاسو کولای شئ په محافلو کې د خپل ګډون لاره تعین کړئ.

**انټرنیټ او متني پیغام**

په معلوماتي ټکنالوجۍ کې سریع انکشاف د کاندیدانو پرمخ د یوې بلې رسنۍ لاه هم پرانیستې ده چې هغوی یې تسخیرولی شي، په ښار او د ځوانانو په منځ کې ډیر خلک شته چې انټرنیټ کاروي، تاسو له دې لارې کولای شئ له هغوی سره تماس ونیسئ.

په دې برخه کې مو لومړی کار باید د یوې انټرنیتي پاڼې پرانیستل وي او په دغه پاڼه کې د بیلابیلو موضوعاتو په خپرولو سربیره د لیدونکو نظر هم پوښتلی او د هغو مطابق ځواب ورکولی شي، دغه راز کولای شئ رایه ورکوونکي د ایمیل له لارې دعوت کړئ.

هغه انټرنیټي پاڼې ولټوئ چې ځوانان پکې جروبحث کوي، لکه فیسبوک ( face book) او داسې نورې پاڼې.

د مبایل له لارې د مسیج یا S.M.S په لیږلو کولای شي رایه ورکوونکي له خپلو برنامو او پلانونو خبر کړئ دا خصوصاً ځوانانو د رسیدو ډیره ښه لاره ده، په هر صورت دا کار ډیر لګښت غواړي نو له دې کبله ځانونه مطمئن کړئ چې ستاسو دغه کار د پیسو ارزښت لري او کنه؟

**اضافي مشورې**

له هر ډول رسنۍ څخه چې استفاده کوئ تاسو باید له هغو خلکو سره معامله وکړئ چې په پای کې هغوی ستاسو په اړه د نظر د اظهار تصمیم نیولی شي، د هغوی کیداي شي تاسو خوښ نه شی، طبعاً ستاسو هم نه خوښیږي مګر ستاسو په انتخاباتي کمپاین کې شخصي تمایلات باید ځای ونلري.

له مطبوعاتي کارکوونکو سره همیشه په په غوره اقداماتو ځانونه مخامخ کړئ او هغوی تر خپل تاثیر لاندې راولئ.

د لومړي ملاقات پرمهال له خپلې مطبوعاتي بستې سره چې لاندې شیان پکې وي تیار اوسئ:

۱- بیوګرافي مو باید له دوو صفحو نه وي زیاته او ستاسو په اړه ټول ضروري معلومات پکې ځای شوي وي.

۲- ستاسو هر ډول رنګه او ساده مګر ښکلي عکسونه پکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د موضوعاتو په اړه لنډې جملې.

٤- سرښناکې پاڼې او د کمپاین نښانې.

۵- ستاسو د کمپاین د هغو غونډو تصویرونه چې مطبوعاتو کوَر کړي وي.

ټول مطبوعاتي مراکز کوَر کړئ او د مطبوعاتي کارکوونکو د اړکیو شمیرې چې له تاسو سره ملاقات کوي یاداشت کړئ، ځکه تاسو د اړیکو دغو شمیرو ته په مختلفو وختونو کې ضرورت لرئ خصوصاً کله چې ستاسو کمپاین له بحران سره مخ شي.

**٤،۳ د انتخاباتو ورځ او وروستۍ څارنې**

انتخاباتي کمپاین د انتخاباتو له ورځې سره نه ختمیږي، بالعکس کله چې د رایې ورکولو مرکزونه ترل کیږي دا هغه وخت دی چې د بایللو او ګټلو تصمیم پکې نیول کیږي.

دغه شیبې نه په دې لحاظ چې د اوږده مهال کار د حقیقي پایلو د معلومیدو وخت دی، له دې امله هم ډیره مهم دی چې هسې نه یو شمیر خلک له فرصت څخه استفاده وکړي او د خپل بري لپاره په حقائقو سترګې پټې کړي.

له دې کبله د یوه ښه کمپاین لپاره باید له دې هم سړی خبر وي چې د انتخاباتو له ورځې وروسته به څه کیږي او له همدې اوضاع سره سم خپل ملاترې تیار کړي.

**د انتخاباتو په ورځ بالقوه اختلالات**

د ۲۰۰۵ کال په پارلماني انتخاباتو کې د تقلب مکررې ادعاوې وشوې چې یو شمیر په لاندې ډول وي:

- د مسلحو ډلو لخوا تهدید، مثلاً د وسله والو لخوا د رایې ورکولو د مرکزونو اشغالیدلز
- د محلي حکومت د طرفدارو مامورینو موجودیت، لکه د ولسوال لخوا د رایې ورکول د یوه مرکز بند ساتل، لـه دې کبلـه چـې یو کاندید یې د خپلوانو له جملې څخه وو او هغه سیالان درلودل.
- د هغو کارکوونکو موجودیت چې د انتخاباتو د مشترک نظارتي ټیم غړي خو په عین حال کې رشوت خواره وو.
- د رایې اچونې نا مناسب مراکز، مثلاً د یوه کاندید په کور کې.
- د نوماندانو له لوري د رایې ورکولو د مرکزونو اشغال، هغه کاندیدان چې له وسله والو ډلو سره یې تړاو درلود.
- د کاندیدانو د استازو لخوا رایه ورکوونکو ته د رایو په بدل کې پیسې ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د رایې د ګڼ شمیر کارتونو موجودیت، او ځوځلي رایه ورکول لکه دهغو کسانو اخستل چې شخصي کاندید ته رایه ورکړي یا دا چې رایه ورنه کړي.

- د ښځو له کارتونو څخه په استفادې سره د هغو په نماینـده ګـۍ رایـه ورکـول، لکـه چـې پـه ځینـو لـیرې پرتـو سـیمو کـې د احصائیو په اساس ښځو رایې ورکړې دي لیکن په رایه اچونه کې نه دې لیدل شوې.

- په کورونو یا نورو تړل شویو ځایونو کې د رایو د صندوقونو ډکول.

**د رایو شمیرلو په بهیر کې نهایي اختلالات**

د ټاکنو د ورځې په نورو معضلاتو سربیره تر ټولو مؤثر تقلب او د انتخاباتو اعتبار تـه تـاوان اړول، د رایـو اچـونې پـه بهـیر کـې رامنځ ته کیږي.

د مخکنیو ټاکنو ځینې عیني مشاهدات په لاندې توګه خلاصه کوو:

- د ولایتي انتخاباتو په کمیسیون کې د رشـوت خـورو او طرفـدارو کـارکوونکو موجودیـت، لکـه هغـه کـارکوونکي چـې د رایـو شمیرلو په وخت کې د خپلې خوښې د کاندید رایې زیاتوي. یا یې په بدل کې پیسـې تـرې اخـلي، یـا هـم د یـوه کاندیـد رایـې کموي.

- د رایه ورکولو سپینو پاڼو په نښه کول. د مثال په ډول، د انتخاباتو کارکوونکي او د نظارت غـړي د خپـل مـورد نظـر کاندیـد، لپاره د رایه ورکولو سپینې پاڼې نښاني کوي.

- د شمیر په پاڼه کې، د کاندید د رایو مجموعې ته تغییر ورکول، مثلا هغه کارکوونکي چې ارقـام لیکـي، تهدیـد شـوي وي یـا رشوت ورکړل شوی وي. ستاسو لپاره مهمه ده چې خپل کارکوونکي په یو لړ مواردو کې، وازمویی، خصوصـا رسـمي څـارونکي، څو هغوی ښه متوجه وي او په هماغه لومړیو شیبو کې، د تقلب مخنیوی وکړی.

ایا ستاسو پلویانو د رایه ورکولو بهیر تر پایه څارلی دی؟

حتا د انتخاباتو تر ورځې وړاندې کوښښ وکړی پوه شی چې د رایه ورکولو د مرکزونو موظفین څوک دي؟ او څوک به د رایو د شمیرلو مسوولین وي؟ د هغوی د ګومارنې معیار څه دی؟

ایا هغوی د خپلې دندې په برخه کې سمه روزنه ترلاسه کړې ده؟

ایا د هغوی کوم یو له مشخص کاندید سره تړاو لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کاندید د کوم تقلب هڅه کوي، تاسو کاملا د هغوی مخه نه شی نیولی، په هر حال، د رایه ورکولو په مراکزو کې، د ماهرو او ازموېل شوو کارمندانو درلودل ستاسو لپاره ډېر مهم دي. تاسې کولی شي چې لږ ترلږه، د تقلب په اړه پرلپسې راپور ورکړی او یا هغه خلکو ته افشا کړی. له دې کبله باید تاسو دوه تنه څارونکي ولری، چې د رایه ورکولو په مرکزونو کې د انتخاباتي بهیر لارښوونه وکړي او د هر ډول اختلال په اړه تاسو ته راپور درکړي.

که تاسو وغواړی چې شکایت وکړی، هغوی باید شاهدان و اوسي. کله چې د رایه ورکولو مرکزونه وتړل شي، هغوی باید د رایه ورکولو، د سپینو پاڼو په ساتنه تاکید وکړي. که ممکنه وي، یو له دوی څخه دې د رایو صندوقونه د ولایت تر مرکز پورې بدرگه کړي.

د شمیرلو په مرکز کې د یوه زیات شمیر هغو څارونکو د موجودیت تمه ولری چې د رایه ورکولو پاڼې شمیري او ددغه پروسې څارنه کوي.

واضحه ده چې تاسو باید داسې افراد ولری چې څلورویشت ساعته د شمیرلو د پروسې څارنه وکړي( تر دې چې صندقونه په یو بې طرفه ځای کې قلف شي) ځکه په سپینو پاڼو باندې د صندقونو د ډوکولو او د صندوقونو د ورکیدو لپاره یوه دقیقه هم کافي گڼل کیدای شي. تاسو باید پوه شی چې څوک محوطې ته لاسرسی لري او په کومه اندازه یوازې هماغه اشخاص منل شوي دي.

د مدني ټولنو له خوا د هغو څارونکو سره ښه روابط ستاسو لپاره ډېر مهم دي چې د چا پلویان نه دي، مخصوصا هغه وخت چې تاسو نه شی کولی دایمي ناظرین ولری.

کله چې ستاسو په ولایاتو کې نړیوال څارونکي موجود وي، تاسو کولی شی هغوی ته له هر ډول اختلالاتو څخه اطلاع ورکړی. که تر اوسه هم تاسو تقلب وینی، پرته له ویرې، د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون مقاماتو یا نړیوالو څارونکو خپل شکایت ته ورسوی. د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون کولی شی هغه کاندیدان سلب صلاحیت کړي، چې له وسله والو ډلو سره تړاو لري.

د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون د تقلب په ارتکاب باندې د باوري کیدو په صورت کې، کولی شي چې د رایو د دوهم ځلي شمیرلو یا حتی دوهم وار رایه اچونې اعلان وکړي.

مه پریږدی چې په مشکل سره ترلاسه کړی بریالیتوب مو په وروستیو شیبو کې غلا کړل شي.

**۴ ضمیمې**

**۱،۴ اساسي قانون(انتخاب شوې مادې)**

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم فصل: د اتباعو اساسي حقوق او وجايب

پنځه دیرشمه ماده:

د افغانستان اتباع حق لري د خپلو مادي يا معنوي غوښتنو د تامين لپاره د قانون له حکمونو سره سم، ټولنې جوړې کړي. د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم، سياسي گوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

۱- د گوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي،

۲-د گوند تشکيلات او مالي منابع ښرگند وي،

۳-نظامي او نظامي ډوله تشکيلات او هدفونه ونه لري،

۴-له بهرنيو سياسي گوندونو يا نورو بهرنيو منابعو سره تړلي نه وي،

۵-د قوم، سيمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د گوند جوړول او فعاليت کول، جواز نه لري.

هغه جميعيت او گوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړيږي، د قانوني موجباتو او باصلاحيته محکمې له حکمه پرته نه منحل کيږي.

دريم فصل:جمهور رييس

دوشپيتمه ماده:

څوک چې جمهوري رياست ته کانديديږي، بايد د لاندينيو شرطونو لرونکی وي:

۱-د افغانستان تبعه، له افغان مور او پلار څخه زيږدلی وي او د بل هيواد تابعيت ونه لري،

۲-د کانديدو په ورځ يې عمر تر څلويښتو کلونو کم نه وي،

۳-د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جناياتو په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي،

۴-هيڅ شخص نه شي کولی له دوو دورو زيات د جمهور رييس په حيث وټاکل شي. په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رييس د مرستيالانو په برخه کې هم تطبيقيږي.

پنځم فصل: ملي شورا

يواتيايمه ماده:

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورى، د ستر تقنيني اورگان په توگه د افغانستان د خلکو د ارادو ښکارندويه ده او د ټول ملت نماينده گي کوى. د شورا هر غړى د رايې د څرگندونې په وخت کې، د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او سترې گټې د خپل قضاوت محور ټاکي.

پنځه اتيايمه ماده:

هغه څوک چې د ملي شورا غړيتوب ته کانديد يا ټاکل کيږي، د ټاکونکو په شرطونو سربيره، دا لاندې صفتونه هم بايد ولري:

۱-د افغانستان تبعه وي يا لږ ترلږه د کانديديدو يا تعيين تر نيټې لس کاله پخوا يې د افغانستان ددولت تابعيت ترلاسه کړى وي،

۲-د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جناياتو په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوى نه وى،

۳-د ولسي جرگې غړيو د کانديديد په ورځ د عمر پنځه ويشت کاله او د مشرانو جرگې غړيو د کانديديدو يا ټاکنې په ورځ د عمر پنځه ديرش کاله بشپړ کړي وي.

نوي يمه ماده:

ملي شورا لاندې واکونه لري:

۱-د قوانينيو او تقنيني فرمانونو تصويب، تعديل يا لغوه کول،

۲-د ټولنيزو، فرهنگي، اقتصادي او تکنالوجيکي پرمختيايي پروگرامونو تصويب،

۳-د دولتي بوديجى تصويب او د پور اخستو يا ورکولو اجازه،

۴-د اداري واحدونو منځته راوړل، تعديل او يا لغوه کول،

۵-د دولتونو ترمنځ د تړونونو او بين المللي ميثاقونو تصديق او يا له هغو څخه د افغانستان بيلول،

په دې اساسي قانون کې نور مندرج واکونه.

څلورنوي يمه ماده:

قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرگو له خوا تصويب او د جمهور رييس له خوا توشيح شوې وي. مگر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرگندونه شوې وي. که جمهوررييس د ملي شورا د مصوبې سره موافقه ونه لري، کولى شي چې د وړاندې کيدو تر نيټې وروسته يې په پنځلسو ورځو کې د دلايلو له ښولو سره، ملي شورا ته مسترده کړي.

ددې وخت په تيريدو او يا دا چې ولسي جرگه يو ځل بيا هغه د ټولو غړو له دريو برخو څخه په دوو برخو رايو تصويب کړي، مصوبه توشيح شوې گنله کيږي او نافذيږي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوولسم فصل: متفرقه حکمونه

يوسل شپږپنځوسمه ماده:

د هر ډول انتخاباتو د څارنې او ادارې او په هيواد کې د خلکو عمومي رايو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کميسيون د قانون له حکمونو سره سم جوړيږي.

۲،۴ د انتخاباتو قانون( انتخاب شوې مادې)

څلورم فصل: رايه ورکوونکي او کانديدان

ديارلسمه ماده د رايه ورکوونکو شرطونه:

د لاندنيو شرايطو لرونکي کسان د انتخاباتو په ورځ د رايه ورکولو حق لري:

A لږ تر لږه د انتخاباتو په ورځ د (۱۸) کلنۍ د عمر بشپړول.

B د رايه ورکوونکي په توګه د نوم ليکنې پرمهال د افغاني تابعيت درلودل.

C د باصلاحيته محکمې په حکم له سياسي او مدني حقوقو څخه نه محروميت

D د کميسيون له لارې د رايه ورکوونکي په توګه نوم ليکنه.

څوارلسمه ماده د کانديدانو اوصاف:

هغه شخص چې د اساسي قانون د دوه شپيتمې مادې مندرجه اوصاف ولري، کولی شي ځان جمهوري رياست او هغه شخص چې د اساسي قانون د پنځه اتيايمې مادې مندرج شرايط ولري، کولی شي ځان ملي شورا، ولايتي يا د ولسوالۍ شوراګانو ته کانديد کړي.

پنځه لسمه ماده: د کانديديدو شرايط:

۱ لاندني کسان نه شي کولی چې تر استعفا وړاندې خپل ځان جمهوري رياست، ملي شورا، او ولايتي او د ولسواليو شوراګانو ته کانديد کړي، مګر هغه وخت کولی شي چې د نوماندۍ د اوراقو د تسليمۍ پر مهال يې له خپلې دندې استعفا کړې وي:

A د سترې محکمې رييس، غړي او قاضيان.

B لوی څارنوال او څارنوالان.

C وزيران، معينان، واليان او مرستيالان يې او ولسوالان.

D د ناحيو رييسان او ښاروالان.

E د ملي دفاع، کورنيو چارو وزارت او ملي امنيت د عمومي رياست منسوبين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



F په مرکز او ولایاتو کې د دولتي اداراتو او د وزارت د څانګو مشران او عمومي رییسان.

G د انتخاباتو کارکوونکي.

۲- کله چې د دغه مادې د (۱) فقرې مندرجه اشخاص اشغال ونه کړی شي، مګر هغه وخت چې نوي بیا مقرر کړل شی.

۳-هغه کسان چې د غیررسمي نظامي قواوو یا وسله والو ډلو قومانده یې عملا په لاس کې وي او یا یې غړی وي، نه شي کولی په انتخاباتو کې ځان کاندید یا په عین کې وخت کې تر یوه انتخاباتي حوزه په زیاتو حوزو کې ځان کاندید کړي.

۴-هیڅ شخص نه شي کولی په یو وخت کې تر یوې انتخاباتي حوزې زیات په نورو حوزو کې ځان کاندید کړي.

اتم فصل د انتخاباتو تدویر:

پنځوسمه ماده، د افکارو او نظریاتو منصفانه خپریدا او پخش:

**۱**-د انتخاباتي سیالیو په بهیر کې د عامه افکارو د اګاهۍ په منظور، ټولیزې رسنۍ( ټلویزیون، راډیو او اخبار) د کمیسیون له خوا له وضع شویو اصولو سره سم، د کاندیدانو اهداف، نظریات او مرامنامې په منصفانه او بې طرفه توګه خپروي.

۲-د عامه اګاهۍ رسنیو ته لاسرسي لپاره کاندیدان تر خپله وسه، د انتخاباتي مبارزو په بهیر کې، او دولتي ټولیزې رسنۍ مکلفې دي له کمیسیون سره په موافقه د کاندیدانو اهداف، مرامنامې او نظریات په منصفانه او بې طرفانه توګه خپاره او پخش کړي.

۳-دولتي جمعي رسنۍ مکلفې دي د ضرورت په اساس، د انتخاباتو د منصفانه نشراتو د پلیتابه لپاره اهداف، پالیسۍ او طرزالعملونه او د دغه مادې د (۱ او ۲) فقرو حکمونه تدوین کړي.

یو پنځوسمه ماده د رسنیو کمیسیون:

۱-ترلږه د انتخاباتو له نیټې (٦٠) ورځې وړاندې کمیسیون، د خبري رسنیو کمیسیون تاسیسوي.

دغه کمیسیون د انتخاباتي مبارزو او سیالیو منصفانه نشر او رپوټ ورکول څاري او د انتخاباتي سیالیو له منصفانه رپوټ ورکولو او نشر څخه د هر ډول سرغړونې او یا نورو سرغړونو چې د خبري رسنیو د ا صولو تر احکامو پورې اړوند وي، رسیده ګي کوي. د اعتراض پرمهال، معترض کولی شي خپل اعتراض کمیسیون ته وسپاري.

۲-د خبري رسنیو د کمیسیون واکونه، دندې او ترکیب د کمیسیون له لارې وضع او تنظیمیږي.

نهم فصل انتخاباتي سرغړونې او شکایتونه:

د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون دوپنځوسمه ماده:

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- انتخاباتي سرغړونو، شکایاتو او اعتراضاتو ته د رسیده ګۍ په موخه، د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون په لاندې ترکیب رامنځته کیږي

۳-په لاندې مواردو کې د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون د رسیده ګۍ او تصمیم نیولو صلاحیت او واک لري:

A د انتخاباتو د ترسره کولو په پروسه کې د قانون ماتونې په شمول تر انتخاباتي سرغړونو اړونده شکایتونه، په دې شرط چې شکایت به د انتخاباتو د نتایجو تر تصدیق وړاندې رسیدلی وي.

B د هغو کاندیدانو په لیست او اوصافو او شرایطو باندې د اعتراض موارد چې د انتخاباتو په پروسه کې مطرح کیږي.

[....]

۸- د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون، انتخاباتي شکایتونو ته د رسیده ګۍ په موخه د ولایتونو په کچه کمیسیونونو ته واک ورکوي څو د خپل صلاحیت په د ننه کې د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون له خوا له تصویب شوي طرزالعمل سره سم، شکایتونو ته رسیده ګي وکړي.

**۳،۴ په ولسي جرګه او ولایتي شوراګانو کې د څوکیو ویش:**

| ولایت | نفوس | د ولسي جرګې څوکۍ | | د ولایتي شورا ګانو څوکۍ | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ټولې | ښځینه و ته | ټولې | ښځینه و ته |
| ټولې | ۲۱،٦۷۷،۷۰۰ | ۲۴۹ | ٦۵ | ۴۲۰ | ۱۲۴ |
| بدخشان | ۷۹۰،۲۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| بادغیس | ۴۱۲،۴۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| بغلان | ۷۴۸،۰۰۰ | ۸ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| بلخ | ۱،۰۵۲،۵۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۹ | ۵ |
| بامیان | ۳۷۱،۹۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| دایکندي | ۳۸۳،٦۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| فراه | ۴۲۰،٦۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فاریاب | ۸۲۴،۵۰۰ | ۹ | ۳ | ۱۵ | ۴ |
| غزنی | ۱،۰۲۰،۴۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۹ | ۵ |
| غور | ۵۷۴،۸۰۰ | ٦ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| هلمند | ۷٦۷،۳۰۰ | ۸ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| هرات | ۱،۵۱۵،۴۰۰ | ۱۷ | ۵ | ۱۹ | ۵ |
| جوزجان | ۴۴۳،۳۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کابل | ۳،۱۳،۲۰۰ | ۳۳ | ۹ | ۲۹ | ۸ |
| کندهار | ۰۷۱،۴۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۵ | ۴ |
| کاپیسا | ۳٦۷،۴۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| خوست | ۴۷۸،۱۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کنړ | ۳۷۴،۷۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کندوز | ۸۱۷،۴۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| لغمان | ۳۷۱،۰۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| لوگر | ۳۲٦،۱۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۱ |
| ننگرهار | ۱،۲۳۷،۸۰۰ | ۱۴ | ۴ | ۱۹ | ۵ |
| نیمروز | ۱۳۵،۹۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| نورستان | ۱۲۳،۳۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پکتیا | ۴۵۸،۵۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پکتیکا | ۳٦۲،۱۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پنجشیر | ۱۲۷،۹۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پروان | ۵۵۰،۲۰۰ | ٦ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| سمنگان | ۳۲۱،۵۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| سرپل | ۴٦۳،۷۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تخار | ۸۱۱،۷۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| اروزگان | ۲۹۱،۵۰۰ | ۳ | ۱ | ۹ | ۳ |
| وردگ | ۴۹٦،۷۰۰ | ۵ | ۲ | ۹ | ۳ |
| زابل | ۲۵۲،۷۰۰ | ۳ | ۱ | ۹ | ۳ |
| د کوچیانو لپاره په نظر کې نیول شوې | | ۱۰ | ۳ | - | - |
| | | | | | |

**۴،۴ ثبت شوي سياسي گوندونه:**

| گڼه | د گوند نوم | د گوند رییس |
|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان د جمهوري غوښتونکو گوند | صبغت الله سنجر |
| ۲ | د افغانستان د ملي وحدت تحریک | سلطان محمود غازي |
| ۳ | د افغانستان د استقلال گوند | غلام فاروق نجرابي |
| ۴ | د افغانستان د ځوانانو د ملي پیوستون گوند(همجا) | محمدجمیل کرزی |
| ۵ | د افغانستان د ملي وحدت گوند | عبدالرشیدجلیلي |
| ٦ | د افغانستان د اسلامي اقوامو د ملي وحدت گوند | محمدشاه خوگیانۍ |
| ۷ | د افغانستان د کار او پراختیا گوند | ذوالفقار امید |
| ۸ | د افغانستان د ملي پیوستون نهضت | پیرسیداسحاق گیلاني |
| ۹ | د افغانستان ملي محاذ | سیداحمد گیلاني |
| ۱۰ | د افغانستان د ازادی او ولسواکۍ نهضت | عبدالرقیب کوهستاني |
| ۱۱ | افغان سوسیال دیموکراټ(افغان ملت) | انورالحق احدي |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | د افغانستان د خلکو د سعادت گوند | محمدزبیر پیروز |
| ۱۳ | د واحد افغانستان گوند | محمدواصل رحیمي |
| ۱۴ | د افغانستان اسلامي حرکت | محمدعلي جاوید |
| ۱۵ | د افغانستان د ملي وحدت دحرکت گوند | محمدنادر اتش |
| ۱٦ | د افغانستان د پراختیا او د بشر د حقوقو د ساتنې گوند | بریالی نصرتي |
| ۱۷ | د افغانستان ملي گوند | عبدالرشید ارین |
| ۱۸ | د افغانستان د ملي کنگرې گوند | عبدالطیف پدرام |
| ۱۹ | د افغانستان د سولې غورځنگ گوند | شهنواز تنی |
| ۲۰ | د افغانستان دخلکو د اسلامي حرکت گوند | الحاج سیدحسین انوري |
| ۲۱ | د افغانستان د اسلامي عدالت گوند | محمدکبیر مرزبان |
| ۲۲ | د افغانستان دخلکو د رسالت گوند | نوراقا رویيني |
| ۲۳ | د افغانستان د خلکو د هوساینې گوند | میاگل وثیق |
| ۲۴ | د سولې او ملي وحدت گوند | عبدالقادر امامي |
| ۲۵ | د افغانستان د تفاهم او ولسواکۍ گوند | احمدشاهین |
| ۲٦ | د ځوان افغانستان اسلامي سازمان | سیدجواد حسیني |
| ۲۷ | د افغانستان د اسلامي اقوامو د ملي سولې گوند | عبدالقاهر شریعتي |
| ۲۸ | د افغانستان د اسلامي وحدت گوند | محمدکریم خلیلي |
| ۲۹ | د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت گوند | حاجي محمدمحقق |
| ۳۰ | د افغانستان ازادي غوښتونکی لیبرال گوند | اجمل سهیل |
| ۳۱ | د افغانستان د خلاصون گوند | استاد محمدظریف |
| ۳۲ | د افغانستان د پیوستون گوند | عبدالخالق نعمت |
| ۳۳ | جماعته الدعوه الی القران و السنه افغانستان | مولوي سمیع الله نجیبي |
| ۳۴ | د افغانستان ملي نهضت | احمدولي مسعود |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۳۵ | د افغانستان د ملي سولې گوند | شاه محمود پوپلزی |
| ۳٦ | د افغانستان د خلکو د ارمانونو گوند | الحاج سراج الدین ظفري |
| ۳۷ | د افغانستان د ملي پیوند گوند | سیدمنصور نادري |
| ۳۸ | د افغانستان د ملي او اسلامي سعادت گوند | محمدعثمان سالکزاده |
| ۳۹ | د افغانستان د ازادۍ گوند | الحاج عبدالملک |
| ۴۰ | د افغانستان د خلکو د پاخون گوند | سیدظاهر قایید ام البلادي |
| ۴۱ | د افغانستان د سولې د فعالینو ټولنه | شمس الحق نورشمس |
| ۴۲ | د افغان وطن اسلامي گوند | محمدحسن فیروزخیل |
| ۴۳ | د افغانستان دخلکو ازادي غوښتونگی گوند | فدامحمداحساس |
| ۴۴ | د افغانستان د وحدت المسلمین تحریک گوند | وزیرمحمد وحدت |
| ۴۵ | د افغانستان د اقوامو د ملي پیوستون گوند | محمدظریف ناصري |
| ۴٦ | د افغانستان د ملي اسلامي اعتدال گوند | قره بیک ایزدیار |
| ۴۷ | د افغانستان د ملي ترقۍ گوند | دوکتور اصف بکتاش |
| ۴۸ | د افغانستان د ملي خپلواکۍ گوند | تاج محمد وردگ |
| ۴۹ | د افغانستان د ملي نجات جبهه تنظیم | صبغت الله مجددي |
| ۵۰ | د افغانستان د اسلامي ملي وحدت گوند | محمداکبري |
| ۵۱ | د افغانستان د خلکو د حاکمیت د نهضت گوند | حیات الله سبحاني |
| ۵۲ | د افغانستان د ملي اسلامي جنبش گوند | سیدنورالله |
| ۵۳ | د افغانستان د ملت د اسلامي وحدت گوند | قربانعلي عرفاني |
| ۵۴ | د افغانستان د خلکو د نخبه گانو گوند | عبدالحمیدجواد |
| ۵۵ | د هیواد ملي گوند | غلام محمد |
| ۵٦ | د وطن د ازادي غوښتونکو گوند | عبدالهادي دبیر |
| ۵۷ | د افغانستان د وطني پیوند گوند | سیدکمال سادات |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ٥٨ | د افغانستان د اسلامي جمعيت گوند | استاد رباني |
| ٥٩ | د افغانستان د اسلامي دعوت گوند | عبدالرب رسول سیاف |
| ٦٠ | د افغانستان ملي متحد گوند | نورالحق علومي |
| ٦١ | د افغانستان د خلكو گوند | احمدشاه اثر |
| ٦٢ | د افغانستان د ملي اسلامي ثبات گوند | محمدسميع خروټی |
| ٦٣ | د افغانستان د ملي مبارزينو گوند | امانت ننگرهاری |
| ٦۴ | د افغانستان ديموكرات گوند | عبدالكبير رنجبر |
| ٦٥ | د افغانستان د ملي وحدت ولسي تحريک | عبدالحكيم نورزی |
| ٦٦ | د ملي اقتدار گوند | سيدمصطفی كاظمي |
| ٦٧ | د نوي افغانستان گوند | محمديونس قانوني |
| ٦٨ | د ملي رفاه گوند | محمدحسن جعفري |
| ٦٩ | د ملي دريځ گوند | حبيب الله جانبداد |
| ٧٠ | د افغانستان د رفاه گوند | ميرمحمداصف ضعيفي |
| ٧١ | د افغانستان د اسلامي امت گوند | تورن نوراقا احمدزی |
| ٧٢ | د افغانستان ملي اسلامي گوند | روح الله لودين |
| ٧٣ | د افغانستان د خلكو د ديموكراسۍ د جنبش گوند | محمدشريف نظري |
| ٧۴ | د افغانستان مترقي ديموكرات گوند | محمدولي اريا |
| ٧٥ | د افغانستان د ديموكراسۍ گوند | الحاج محمدطاووس عرب |
| ٧٦ | د افغانستان د مسلمانو خلكو گوند | بسم الله جويان |
| ٧٧ | د افغانستان حزب الله | قاري احمدعلي |
| ٧٨ | د افغانستان اسلامي گوند | عبدالهادي ارغنديوال |
| ٧٩ | د افغانستان د پراخې ديموكراسۍ او ترقۍ گوند | شيرمحمدبزگر |
| ٨٠ | د افغانستان د ولسي تړون گوند | سيدامير تحسين |

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۸۱ | د افغانستان اسلامي متحد گوند | وحیدالله سباوون |
| ۸۲ | د افغانستان د اسلامي نهضت گوند | محمدمختار مفلح |
| ۸۳ | د افغانستان د ملي اسلامي اقتدار گوند | انجینر احمدشاه احمدزی |
| ۸۴ | د افغانستان مجاهد ولس یووالي اسلامي تحریک | سعیدالله سعید |
| | | |

د ۲۰۰۸کال د ډسمبر په ۸مه نیټه د عدلیه وزارت له ویبپاڼې څخه رااخستل شوی دی: www.moj.gov.af

په عمومي توگه ددغه کتاب مطالب، د (( انتخابات څنگه گټلی شو؟ د کارپوهانو تجربې)) نشریې څخه اخستل شوي دي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې دغه رسالې د دوهمې او درېيمې برخې زياتره مواد له همدغه پاس ياد شوې نشريې څخه اخستل شوي، ليکن له کارپوهانو سره د مرکو او رسمي راپورونو په شمول، چې لاندې ترې يادونه کيږي، د افغانستان د اوضاع او احوال سره تطابق ورکړل شوی دی.

مخ..........................................................................................................................

.عنوان


**1 ........................................................................................................سريزه**

**6 ......................................................................او د راتلونکې لپاره مبارزه رايه اچونه**

**7 ........................................................................................ ۱- ولسواکي په افغانستان کې**

**7 ............................................................................................................۱،۱ اوسنی نظام**


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱،۱،۱ اجرايه ځواک ........................................................ 7

۱،۱، ۲ مقننه ځواک........................................................ 8

۱،۱، ۳ ولايتي شوراګانې........................................................ 10

۱، ۱، ۴ ټاکنيز نظام........................................................ 11

۱. ۱. ۵ اساسي مجريان........................................................ 12

۱، ۱، ٦ د رايه ورکوونکو نوم ليکنه ........................................................ 14

۱، ۲ تاريخي اساسات او وروستي پرمختګونه ........................................................ 14

۱، ۲، ۱پارلمان او سياسي ګوندونه........................................................ 15

۱،۲، ۲، نور اساسي عناصر ........................................................ 17

۲، اماده ګي(تياری)........................................................ 18

۲، ۱ ځان ارزونه ........................................................ 19

۱،۱،۲ ستاسو موخې ........................................................ 19

۲،۱،۲،په شرايطو باندې ستاسو برابروالی........................................................ 20

۳،۱،، ستاسو ارزښتونه ........................................................ 20

۴،۱،۲ ستاسو شخصيت........................................................ 20

۵،۱،۲ ستاسو شهرت ........................................................ 21

٦،۱،۲ ستاسو د ملاتړ ميکانيزم........................................................ 21

۷،۱،۲ ستاسو مالي لارې چارې ........................................................ 22

۸،۱،۲ ستاسو وړتيا يا برجسته ګي........................................................ 22

(c) ketabton.com: The Digital Library




۹،۱،۲ ستاسو د ګټلو چانس ........................................................ 22

۱،۱،۲ هغه اسباب چې رایه ورکونکي یې د پوښتلو قصد لري ........................ 23

تاسو څوک یاست؟ ........................................................ 24

څه مو تر اوسه کړي دي؟ ........................................................ 24

تاسو نور څه کولی شی؟ ........................................................ 24

۲،۲ په سیاسي حوزه کې ........................................................ 25

۱،۲،۲ د خپل چاپیریال ارزونه ........................................................ 25

۲،۲،۲د خپلو سیالانو پیژندنه ........................................................ 27

۳،۲،۲ د موکلینو د موقعیتونو ټاکل ........................................................ 27

خپلې محفوظې انتخاباتي حوزې پیاوړې کړی ........................................................ 28

۳،۲ستاسو ډله یا ټیم ........................................................ 29

۱،۳،۲چلوونکي یا پلي کوونکي ........................................................ 29

۲،۳،۲مالي چارې ........................................................ 31

۳،۳،۲ اړیکې یا ارتباطات ........................................................ 32

۴،۳،۲ ملاتړ او پښتیوانه ........................................................ 33

۴،۲ ستاسو تګلاره(ستراتیژي) ........................................................ 34

۱،۴،۲ تګلاره ولې دومره مهمه ده؟ ........................................................ 35

۲،۲،۴ غواړی څنګه دغه ټاکنې وګټی؟ ........................................................ 36

۳،۴،۲ تګلاره مو له څه شي څخه تشکیل شوې ده؟ ........................................................ 38


د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲،۴،۴ دغه تګلاره باید څوک پلې کړي؟ ........................................................ 39

۵،۴،۲ کله دغه ستراتیژي خپلو مشخصو موخو ته رسیدلی شي؟........................ 39

۳-ستاسو د انتخاباتي سیالۍ بهیر.............................................................. 40

۱،۳ تاسو د کاندید په توګه ............................................................................ 42

ریښتوني اوسئ........................................................................................ 43

( د انتخاباتي کمپاین د پرمخ بیولو لومړنی مقتضیات په لاندې ډول دي)........ 44

یوه ښه بیانیه کومه ده؟............................................................................ 44

له رایه ورکوونکو سره اړیکې نیول ........................................................ 45

روغ او سالم اوسئ .................................................................................. 46

۲،۳ انتقالات او عملیات.............................................................................. 47

ستاسو د ټاکنیزو سیالیو فعالیتونه............................................................ 49

سیاسي غونډې.......................................................................................... 51

سنتي فعالیتونه......................................................................................... 52

سیاسي نښې نښانې .................................................................................. 53

۲،۲،۳ ستاسو د انتخاباتي سیالۍ اسباب او لوازم........................................ 53

پوسټرونه ................................................................................................ 54

د کمپاین ادبیات ...................................................................................... 56

۳،۲،۳ د مالي امکاناتو پیدا کول..................................................................... 56

٤،۲،۳ دفاعي نقش ........................................................................................ 59


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منفي کمپاینونو او ځانګړو عملیاتو سره معامله کول ........................................ 59

ټاکنیز تاوتریخوالی ........................................................................ 60

۵،۲،۳ د پرمختګ ارزونه ........................................................................ 61

په هماغه لحظه چک کول........................................................................ 61

ساحوي ګزارشونه........................................................................ 62

د کمپاین کمیټه ........................................................................ 63

۳،۳ اړیکې او ارتباطات ........................................................................ 64

له مطبوعاتو سره ښه روابط ........................................................................ 64

سیاسي اعلانات ........................................................................ 65

ستاسو د رسنۍ انتخاب ........................................................................ 66

رادیو........................................................................ 66

تلویزیون ........................................................................ 67

چاپي مطبوعات ........................................................................ 67

انټرنیټ او متني پیغام ........................................................................ 68

اضافي مشورې........................................................................ 68

٤،۳ د انتخاباتو ورځ او وروستۍ څارنې........................................................................ 69

د انتخاباتو په ورځ بالقوه اختلالات ........................................................................ 69

د رایو شمیرلو په بهیر کې نهایي اختلالات ........................................................................ 70

۴ ضمیمې........................................................................ 71

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳،۴ په ولسي جرگه او ولايتي شوراگانو کې د ښځو ونډه............................................................ 76

۴،۴ ثبت شوي سياسي گوندونه......................................................................................... 78

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**